د طلوع افغان د ۹۷ کالیزي په مناسبت

# میرزا عبدالودود هوتک

لیکوال

محمد معصوم هوتک

۱۳۹۷ ل.

# میرزا عبدالودود هوتک

**لیکوال:**
محمد معصوم هوتک

بسم الله الرحمن الرحیم

ټول چاپي حقوق په خپرونکي اړه لري!

**میرزا عبدالودود هوتک**

لیکوال: محمد معصوم هوتک

خپرونکی: اطلاعات و فرهنګ ریاست-کندهار

کمپوز او ډیزاین: اسدالله ارماني

لومړی چاپ: ۱۳۷۷ش

دوهم چاپ: ۱۳۹۷ش

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د مخونو شمېر: ۱۴۸

## فهرست


۱. د خپرونکي یادښت ........ 5
۲. د دوهم چاپ له پاره یو څو خبري ........ ۶
۳. لومړي چاپ ته لومړۍ خبري ........ ۷
۴. سریزه ........ ۸
۵. د میرزا عبدالودود هوتک څو بعدي شخصیت... ۱۰
۶. عبداللطیف هوتک (لالکو) ........ ۱۷
۷. میرزا عبدالودود هوتک د لیکوال په توګه...... ۲۱
۸. د خطاط په توګه ........ ۲۳
۹. د انځورګر په توګه ........ ۲۶
۱۰. د ژورنالیست په توګه ........ ۳۶
۱۱. د متصوف او فلسفي په توګه........ ۳۸
۱۲. د میرزا عبدالودود هوتک د ژوند نور اړخونه.... ۴۱
۱۳. مړینه او ویرئي ........ ۴۳


## د میرزا عبدالودود هوتک موندل سوي لیکني


۱۴. تاریخ متکرر دئ ........ ۵۰
۱۵. انسان څوک دئ؟ ........ ۵۶
- لومړۍ مقدمه یا انسان ته عمومي ........ ۶۰
- دوهمه مقدمه، (عالم صغیر) او ........ ۶۱
- خاتمه او نتیجه........ ۶۲

۱۶. د اوسنۍ جګړې فلسفه ........ ۷۴
۱۷. حقیقت ........ ۸۱
- حقیقت څه دئ او آیا حقیقت ته رسیدلای سو؟ .... ۸۲
- د حقیقت اقسام ........ ۸۴

- حقیقت او مجاز ........ ۸۶
- حقیقت الحقیت ........ ۸۷
- د حقیقت اوصاف ........ ۸۷
- څو مري حقایق کشف شوي دي؟ ........ ۸۷

۱۸. علم په آینده کښې ........ ۸۸

۱۹. د ادب تحلیل ........ ۹۴

۲۰. آسانه پوهنه یا اجمالي علم ........ ۱۰۰

- اجمالي علم ........ ۱۰۲
- د اسلامي پسیکولوژۍ خلاصه ده ........ ۱۰۹

۲۱. د ښووني اصول ........ ۱۱۴

- ښوونه څه شي ده؟ ........ ۱۱۵
- تلقیني لوست ........ ۱۱۸
- تعلیمي لوست ........ ۱۱۸
- تهذیبي لوست ........ ۱۱۹
- د استنباط او استنتاج طریقه ........ ۱۱۹

۲۲. د ادبي پوښتني په شا وخوا کښې ........ ۱۲۱

۲۳. د نوو شعراوو سره دوستانه صحبت ........ ۱۲۳

۲۴. سیاسي اخلاق ........ ۱۳۴

۲۵. د یوې رباعي تحلیل ........ ۱۳۷

۲۶. د لذت فلسفه او د قوت فلسفه ........ ۱۴۳

۲۷. اوسني خطونه څنګه پیدا سول؟ ........ ۱۴۶

## د خپروونکي یادښت

اروانښاد میرزا عبدالودود هوتک سرېبره پر دې، چې د کندهار د معتبري ورځپاڼې طلوع افغان خطاط تېر سوی دئ، تکړه لیکوال، ژورنالیست، انځورګر، متصوف او فلسفي شخصیت هم وو.

کله چې لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي کابل ته ولاړ، د طلوع افغان اخبار تقریباً ټولې چارې د اروانښاد میرزا عبدالودود هوتک په مرسته سرته رسېدلې. دا څو اړخیز شخصیت به د درونددیالی، استاد محمد معصوم هوتک د دې کتاب په واسطه وپېژنو.

دا کتاب په څو لحاظه مهم دئ، یو خو میرزا عبدالودود غوندې غنیمت او څو بعدي شخصیت راپېژني او بل له طلوع افغان ورځپاڼې سره مستقیم تړاو لري؛ له دې امله د کتاب د چاپ لګښت د کندهار اطلاعات او فرهنګ ریاست پر خپله غاړه واخیست.

درناوی

فضل الباري بریالی

د کندهار اطلاعات او فرهنګ رئیس

## د دوهم چاپ له پاره

## يو څو خبري

دا رساله په ۱۳۷۷ ش کال د صحاف نشراتي موسسې له خوا چاپ سوې وه. د خطاطۍ چاري ئې ښاغلی سيداحمد مومند سرته رسولي وې. تر هغه چاپ وروسته ماته د ميرزا عبدالودود هوتک په باب نوري ليکني او د ده يو لړ مقالې هم لاس ته راغلې، چي زياتره ئې ښاغلو مطيع الله روهيال او اسدالله ارماني د طلوع افغان له کلکسيون څخه راته کاپي کړي وې. زه د دوی د دغو همکاريو پوروړی يم او په مننه ئې غاړه ورباسم. او س چي د کندهار د اطلاعاتو او فرهنگ رياست د دغي رسالې د چاپ له پاره ټېټر ټکولی دئ، نو ما هغه ټولي نوي موندل سوي ليکني پر ور زياتي کړې او د رسالې حجم تر لومړي چاپ زيات سو. زه د کندهار د اطلاعاتو و کلتور رياست دغه اقدام ستايم او ځوان رئيس ښاغلي فضل باري بريالي ته د برياليتوب دوعا کوم او کورداني ورته وايم.

محمد معصوم هوتک
آشاوا-کاناډا
د مارچ ۱۴مه ۲۰۱۸ع

## لومړي چاپ ته

## لومړۍ خبرې

دا رساله چې ستاسې درنو لوستونکو مخې ته پرته ده، ما له پوهنځي څخه د فارغېدو په وخت کې د مونوګراف په توګه ليکلې وه، دا څو کاله راسره پرته وه او پخپلو ځينو ليکنو کې به مې کار ورڅخه اخيستی، سږ کال چې کندهار ته ولاړم (جولای ۱۹۹۷) د کورنۍ زياترو غړو راڅخه وغوښتل چې دا رساله چاپ کړم. د دوی د غوښتنې له امله مې رساله له سره وکتله ځينې زياتونې مې پر وکړې او د ارواښاد ميرزا عبدالودود هوتک د اروا په خوښۍ مې د افغاني فرهنګ مينه والو ته وړاندې کړله.

له پاک خدايه څخه غواړم چې په وطن کې د سولې لمر راوخېژي او د وطن تر خاورو لاندې غمې بيرته خپله ځلا وځلوي. زه د ښاغلي سيداحمد مومند د همکاريو ډېر ممنون يم. نوموړي پخپل ښکلي خط باندې د افغاني فرهنګ ډېر اثرونه نور هم ښکلي کړي دي او دغه رساله هم د ده په هنرمندو ګوتو خطاطي سوېده.[1] زوی دې لوی، کور دې ودان وي. نور نو تاسې د رسالې لوستلو ته رابولم.

په درنښت

محمد معصوم هوتک

ټورنټو - کاناډا

۳ سپټمبر ۱۹۹۷ع

---

[1] د دې رسالې لومړی چاپ د ښاغلي سيداحمد مومند په خطاطي خپور سوی دئ. دا چاپ ئې کمپيوټري بڼه ده.

## سریزه

د ۱۳۶۰ هـ ش کال ژمی وو د ستر محقق اکادمیسن پوهاند رشاد صاحب محضر ته ورغلی وم. د خبرو په ترڅ کي د میرزا عبدالودود هوتک نوم یاد سو.[۲] استاد په خورا درناوي سره د هغه نوم واخیست، نابغه او متفکر ئې وباله. ما ته دا خبره د حیرانتیا وړ ځکه وه، چي د استاد نظر له هغو قضاوتونو سره توپیر درلود، چي ما د میرزا عبدالودود هوتک په باب اورېدلي ول. ما ته خو ئې ویلي وو، چي عبدالودود سودایي وو، مغز ئې خراب و... استاد وفرمایل: "له بده مرغه د میرزا عبدالودود په باره کي له انصافه لیري خبري او قضاوتونه سوي دي".

له دغه وخت څخه ما د میرزا عبدالودود په باب څېړنه شروع کړه. د ۱۳۶۱ هـ ش کال په پای کي سرنوشت د ادبیاتو په پوهنځي کي د محصل په توګه شامل کړم او فاضل استاد رشاد صاحب امر راته وکړ چي د میرزا عبدالودود په باره کي باید خپل مونوګراف وکاږم، او یوه ورځ ئې د پوهنځي د پښتو څانګي امر محترم استاد پوهندوی نوراحمد شاکر[۳] ته زما په مخ کي وویل: "معصوم به د میرزا عبدالودود هوتک په باب خپل مونوګراف زما (پوهاند رشاد) تر لارښووني لاندي وکاږي".[۴] د استاد لارښوونه خو ما ته د زوی زېری وو. شا مي غره ته سوه، په دا سبا مي ډیپارتمنټ ته لیکلې غوښتنه ورکړه او د استادانو مجلس هم موضوع تائید کړه.

---

[۲] میرزا عبدالودود هوتک زما (معصوم هوتک) سکه اکا (تره) وو.

[۳] ارواښاد پوهندوی نوراحمد شاکر د۱۳۸۴ هـ ش کال دمرغومي په ۲۲ مه=۱۲ جنوري ۲۰۰۶ ع نېټه دپنجشنبې په ورځ دکاناډا په ټورنټوکي مړسو او په ۱۴ جنوري ۲۰۰۶ ع نېټه دافغانانو په هدیره کي ښخ سو .خدای دې وبخښي

[۴] په دغه وخت کي پوهاند رشاد صاحب د ادبیاتو په پوهنځي کي د استاد په توګه وظیفه درلوده.

دا دئ اوس زما د مونوګراف څېړنه پای ته ورسېدله، دغه څېړنه مي زياتره د شفاهي رواياتو له مخي کړې ده، ځکه چي ليکلي مواد مي په دې باب لږ وموندل. د رواياتو په استناد څه ليکل ما وارو مبتدي ته ډېره ګرانه ده خو ما کوښښ کړی دئ، چي د اومو او پخو روايتو حد مراعات کړم. ليکلې څېړنه مي استاد ته وښودله هغوی د خپلي خاصي پېرزويني له مخي وکتله او د يوه ليک په ترڅ کي ئې راته وليکل:

"ګرانه معصوم جانه!

د ميرزا عبدالودود خان په باب مي ستا ليکنه وکتله، په رښتيا سره ډېره ښه څېړنه دي کړې ده خو که د خوشال مرغلري، عبدالقادر خان دېوان، سپېڅلي پښتو او ملي پسرلي د سر د پاڼو عکسونه هم ورسره مله سي، تر دغه به لا ښه سي، نه يم خبر د ميرزا عبدالودود خان کوم عکس ستاسي په کورنۍ کي له چا سره سته. که وي د هغه يوه کاپي هم د مونوګراف مله کړه. د ميرزا عبدالودود خان په باب چي کومه خاطره ما ليکلې وه د هغه نقل مي درواستاوه په مونوګراف کي ئې ځای کړه".

ما د استاد ټول اوامر پر ځای کړل، خو د ميرزا عبدالودود عکس په لاس رانغی. هيله کوم چي د دغو څو پاڼو په کښلو مي د ميرزا عبدالودود هوتک لږ څه حق ادا کړی وي.

محمد معصوم هوتک

خيرخانه مېنه-کابل

۱۳۶۶/۵/۱۵ هش

## د میرزا عبدالودود هوتك
## څو بعدي شخصيت

لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۰-۱۱۸۶ هـ ق) خپلو سترو کارنامو په څنګ کې په ۱۱۶۹ هـ ق کال د دوهمي خور په لومړۍ نېټه د يکشنبې په ورځ د کندهار د اوسني ښار تاداو کښېښود.[۵] د ښار او کلا په ودانولو کې ئې د پښتنو د ټولو قومونو همکاري وغوښتله او په دې کار کې ئې هدف د خورو ورو پښتنو د قومي او ملي يووالي ټينګول ول. د دغه عالي نصب العين له مخې ئې د کلات (اوسني زابل) له (سيوري)[٦] څخه د (محبت) او (صحبت) په

---

[۵] سترافغاني محقق پوهاند عبدالشکور رشاد د احمدشاهي کندهار د تاداو ايښوولو تاريخي ماده په (دا ښار احمد شاهي کندهار دئ) کې موندلې ده او هم ئې د تاريخ احمد شاهي په استناد د دغه ښار د تاداو ايښووني معنعنه نېټه (۱۱۷۴ هـ ق) د تامل وړ بللې ده.

(وګ: دا احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرح، د سريزې ۱۶ مخ، د کابل چاپ)
احمدشاهي کندهار په (اشرف البلاد) سره يادېدئ. د دغه ښار له ودانولو مخکې د کندهار ښار د سرپوزې غره ختيځ لور ته پروت وو. دا ځای د زاړه ښار په نامه يادېږي. د نارنج تاريخي ماڼۍ په دغه ځای کې ده چې آثار (کنډوالې) ئې اوس هم پاته دي. زوړ کندهار د افشار نادر په لاس له يو کال کلابندۍ وروسته په (۱۱۵۰ هـ ق) کې وران سو او پرځای ئې د نادرآباد په نامه د اوسني کندهار جنوبي پلو ته (شير سرخ) ته نږدې يو ښار ودان کړ.

(جهانکشای نادری، ۳۲۸مخ)
دغه سيمه له صحي لحاظه او د موقعيت له مخې د ښار له پاره مناسبه سيمه نه وه ځکه نو لوی احمد شاه بابا دا اوسنی کندهار جوړ کړ.

[٦] سيوری د سره غره په لمن کې د کلات ښار شرقي خوا ته يوه پراخه سيمه ده، چې د زابل ولايت دشينکۍ اولسوالۍ سره ګډه پوله لري. د افغانستان جغرافيايي قاموس په (۱۱۹۰/۴ مخ) کې چې د حاجي ميرويس هوتک زيارت د شينکۍ اولسوالۍ د شملزيو په کلي کې بلل سوی دئ، يوه داسي غلطي ده چې د (دايرة

نومونو دوه ورونه له خپل ټبر او قوم سره همکارۍ ته راوبلل.(۷) البته دا دوه تنه په خپل قوم کې د ښه نامه او رسوخ خاندان ول. دوی دا بلنه په ډېر اخلاص او مینې سره ومنله او په دې خاطر له خپل پلرني ټاټوبي (سیوري) څخه کندهار ته را وکوچېدل، د ښار او کلا په ودانولو کې ئې ډېرې خولې تویې کړې او لوی احمدشاه بابا د دغه خدمت په بدل کې ورته په ښار کې دننه د پوپلزو په کوڅه کې د استوګنې له پاره مځکه ورکړه (دغه کوڅه اوس د ملا ګلداد په نامه یادېږي او د ښاروالۍ د دریمې ناحیې مربوطه ده). محبت او صحبت پر دغه ځای میشته سول، کورونه ئې جوړ کړل، چې د محبت له اولادې څخه اوس هم ځینې کهولونه پر همدې مېنه پاته دي.(۸) د

---

المعارف ټولنې) په شان یوې علمي موسسې څخه ئې توقع نه کېده. دغه زیارت د کندهار ښار لویدیځې خواته د هرات-کندهار د لویې لار شمال ته د کوکران په سیمه کې دئ. ستره ګومبته پر ولاړه ده.

(۷) محبت او صحبت په قوم هوتک او په هوتکو کې له (لغړي) پښې څخه ول. پوهاند رشاد صاحب د هوتکو (لغړي) پښه په خپل (نسبي شجرو) نومي ناچاپ اثر کې (رَغَړي) ثبت کړې ده. (لغړي) یا (رغړي) د هوتکو له اتلسو پښو څخه یوه پښه ده. زموږ په کورنۍ شجره کې د هوتکو دغه پښې راغلي دي: عمرزي، اسحق زي، تندوزي، ملېزي، لاغړي، طاهرزي، رمېزي، ساوت خېل، پټوخېل، ښالم خېل، هوت خېل، بابوزي، باییزي او معروف زي.

باید ووایم چې ددغې کورنۍ په باب ما (م. هوتک) په "پاشلي ویناوي" نومي اثر کې هم بشپړ معلومات ورکړي دي، چې ماخذ ئې زما همدا لیکنه ده.

(۸) د ملاګلداد په کوڅه کې اوس (۱۳۶۶ هـ ش)د حاجي محمد اکبر هوتک د میانځوي زوی مرحوم حاجي احمدعلي هوتک (۱۳۵۷ هـ ش مړ) اولاده او د حاجي عبدالغني هوتک مشهور په (حاجي اکولالا) زامن میشته دي. حاجي احمد علي هوتک د خپل پلار په شان له قلمي نسخو او خطي آثارو سره شوق درلود. نوموړي په ۱۳۳۷ هـ ش کال د کندهار ځل زینې ته نزدې د آشوکا کتیبه کشف کړه او د مرحوم عبدالباري اشنا په وسیله ئې مرحوم احمدعلي کهزاد ته لیکلی خبر ورکړ. ارواښاد کهزاد ددغې کتیبې د معرفۍ او کشف په باب د (افغانستان در پرتو تاریخ) په

محبت په اولاده کښي د هغه لمسيان حاجي محمداکبر هوتک او حاجي محمدعمر هوتک د نامه څښتنان ول. د مشر ورور حاجي محمداکبر هوتک (۱۲۳۸-۱۳۱۷ هـ ق) دنده سوداګري وه او پر څنګ ئې له پښتو ادب سره ډېره مينه درلوده پخپله ئې شعر هم وايه. د امير عبدالرحمان خان (۱۲۹۷-۱۳۱۹ هـ ق) د پاچهۍ په سر کي کويټې (بلوچستان) ته تبعيد سوی وو. څه موده هلته واوسېد او وروسته ئې د امير عبدالرحمان په نامه يوه منظومه عريضه وکښله او خپله بې ګناهي ئې پکښې بيان کړه. د ده له اشعارو څخه له دې عريضې پرته بله کومه نمونه اوس په لاس کي نسته. وايي چي امير عبدالرحمان د حاجي محمداکبر هوتک د عفوي فرمان په پښتو نظم ورولېږه چي ناظم ئې د (پښتو مرکې) غړی او اوښاد ملا محمد عرض بيګي مشهور په (افغانی نويس) وو.[9] حاجي محمداکبر هوتک د خطي اثارو يوه

---

(۱۰۱ مخ) کي داسي کښلي دي: "در نيمه دوم ماه حمل ۱۳۳۷ مکتوبی شخصی از يکی از دوستان قديم، مدير ليسه احمدشاهی قندهار ښاغلی عبدالباری اشنا گرفتم که دران شرح ملاقات خود را با يکی از ريش سفيدان قندهار بتاريخ ۱۵ حمل نوشته و چنين اظهارنموده بود که درشهر قندهار در پهلوی کوه (سرپوزه) سنگی ظاهر شده و بهمراه ريش سفيد مذکور سنگ و محل آنرا معاينه کرده است... بدين ترتيب کتيبه آشوکا که تازه از مجاورت شهر قندهار کشف شده... اولين کتيبه يونانی است که حالا در افغانستان کشف شده حلقه های علمی اروپا چه در پاريس و چه در روما به کتيبه که تازه در قندهار کشف شده اهميت بسيار زياد ميدهند."

د کندهار دغه "سپين ږيری" چي اروانښاد کهزاد ئې د مرحوم اشنا له خولې يادونه کړې ده، حاجي احمد علي هوتک وو. مرحوم حاجي عبدالمجيد هوتک يو وخت ما(معصوم هوتک) ته وويل چي نوموړې کتيبه ده موندلې او وروسته ئې حاجي احمدعلي او عبدالباري اشنا ته ور ښوولې وه.

په کندهار کي د احمدعلي هوتک په نامه يو بل معمر پښتون هم تېر سوی دئ، چي په احمد علي اخونزاده مشهور دئ. دغه احمد علي هوتک د پټې خزانې د مؤلف محمد هوتک (ممو نيکه) له احفادو څخه وو او په ۱۳۵۶ هـ ش کال وفات سوی دئ.

[9] وګ: پښتو چاپي اثار، ۱۲ مخ- کابل.

مغتنمه کتب خانه درلوده. د پټي خزانې يوازنۍ موندل سوې نسخه د ده له پاره د عباس کاسي په خطاطۍ له هغې نسخې څخه چي د مرحوم سردار مهردل مشرقي (۱۲۱۲-۱۲۷۱ هـ ق) له پاره کښل سوې وه، په ۱۳۰۳ هـ ق کال ليکل سوې ده. دغه نسخه اوس د افغانستان په ملي ارشيف کي خوندي ده.

د پښتو ادب مينه وال بايد د حاجي محمداکبر هوتک د ادبي ذوق مرهون وي، ځکه که ده د خپل ذوق او علاقې له مخي دغه ستره وثيقه د ځان له پاره برابره کړې نه وای زموږ په لاس کي به د پښتو ادب د يوې خورا روښانه او ځلانده دورې په باب هيڅ ډول مواد نه وای. کله چي لوی استاد اروابناد علامه عبدالحي حبيبي (۱۲۸۹-۱۳۶۳ هـ ش) په کندهار کي د طلوع افغان د جريدې د چلولو په څنګ کي پښتو اثار څېړول، ماخذ ئې زياتره د حاجي محمداکبر هوتک له کتب خانې څخه چي په دغه وخت کي د هغه د زوی عبداللطيف هوتک په لاس کي وه، تر لاسه کول.[۱۰] د دغي کتب خانې يو زيات شمېر خطي نسخې د اعليحضرت محمدظاهرشاه په پاچهي کي د سلطنتي ارګ تر کتب خانې پوري هم رسېدلي وې.[۱۱] يو څه پاته اثار ئې اوس د حاجي احمدعلي هوتک د زوی عبدالحکيم أمي له کورنۍ سره خوندي دي چي په هغو کي د خوشحال خټک د ځنځيري ليک دود يوه ښکلې نسخه هم وه.[۱۲] دا نسخه اوس (۱۳۹۵ هـ ش) د ښاغلي حمدالله صحاف په خطي کلکسيون کي خوندي ده.

---

[۱۰] زما سره د علامه حبيبي مرحوم يو ليک سته چي عبدالطيف هوتک ته ئې د يو چا په لاس لېږلی وو او په هغه کي ئې د (ګلشن روه) کتاب د امانت په توګه ځني غوښتی وو. ليک د علامه مرحوم پخپل قلم او لاسليک دئ.

[۱۱] دا خبره ما ته مرحوم احمدعلي هوتک کړې وه.

[۱۲] وګ: ځنځيري نسخې، کابل مجله، ۱۳۶۱ ش کال، ۴، ۵ ګڼه، ۱۳۷-۱۳۸ مخونه عبدالحکيم أمي اوس وفات سوی دئ.

بسم الله الرحمن الرحیم

ستا قربان شم د درنهٔ اسلام پادشا

او د هر غریب پناه ملکي د اسلام او د مخلص د دین گویا

صفحه حاجي محمد اکبر چه نقره ان ... اسم قرار ... 

سره وخل چه قلم او ... د پادشا عادل بکابل کښې حاضر دی

تخت و بخت د الله برقرار باد قاران ... د ... انبات

علیه افضل الصلواة و علی اله و اولاده و اصحابه ... اجمعین

[illegible]

حاجي محمد اکبر هوتک له ادبي ذوق سره ښه خطاط هم وو. وايي چې د حجة الاسلام امام محمد غزالي رحمة الله علیه (۵۰۵ هـ ق) اثر (کتاب الاربعين في اصول الدين) ئې خطاطي کړې دئ او د کتاب په پای کې ئې کښلي دي:

"کمل کتاب الاربعين بحمد الله و حسن توفيقه عن يد احقر العباد الله تعالی محمد اکبر هوتک فی وقت ظهر من خمسه شهر رمضان المبارک فی يوم الاحد سنه ۱۲۷۶ هـ ق". (۱۳)

د حاجي محمد اکبر هوتک په کورنۍ کې د هغه زوی عبداللطيف هوتک (۱۳۲۹ هـ ش مړ) او لمسي ئې مولوي صالح محمد هوتک (۱۳۳۹ هـ ش مړ) پښتو ژبي ته ډېر خدمتونه کړي دي. عبداللطيف هوتک په پښتو ادب کې د مطالعې خاوند وو د پښتو ژبي گرامر ئې کښلی دئ. يو رساله ئې د وزنونو په باره کې ليکلې چې اوزان ئې په دقيقه توگه څېړلي دي. (۱۴) د ژوند په وروستيو کلونو کې په (شرکت وطن) کې په کار مصرف وو. په ځواني کې ئې په لوی هندوستان کې سفرونه کړي او زياته موده په کويټه کې اوسېدئ. د هند زياتره ژبي ئې زده وې او له طلوع افغان سره ئې قلمي همکاري درلوده.

مولوي صالح محمد هوتک خو زموږ د هيواد په ادبي تاريخ کې هغه پېژندل سوې څېره ده، چې د ژوند او علمي فعاليتونو په باب ئې په لسگونو مقالې کښل سوي دي. کله چې موږ د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ لولو، گورو چې د مولوي صالح محمد هوتک نوم پکښې برجسته دئ او خدمتونه ئې د هېرېدو نه دي.

حاجي محمد عمر هوتک (د حاجي محمد اکبر هوتک ورور) هم په سوداگرۍ مصروف وو. مشر زوی ئې حاجي عبدالغني هوتک نومېدئ، چې په کندهار کې په حاجي اکو لالا مشهور وو. حاجي اکو لالا د کندهار له مخورو سپين ږيرو څخه و. په پښتو ژبه ئې شعر هم وايه.

---

(۱۳) وگ: هيوادمل، زلمی، بيدياني گلونه (۱ / ۲۱۲ مخ).

(۱۴) د مرحوم حاجي عبدالمجيد د خولې يادابنت. حاجي صاحب د ميرزا عبدالودود ورور وو.

**عبداللطیف هوتک (لالکو)**

زما سره د ده تقریباً شل زره بیته خوندي دي، چي د تصحیح او تدوین په کار ئې بوخت یم.[۱۵] د حاجي اکو لالا په زامنو کي حاجي عبدالباقي (شعري تخلص ئې ملګری او تهیدست دئ)، میرزا عبدالودود هوتک او عبدالهادي ریشاء د قلم څښتنان دي. حاجي عبدالغني هوتک او حاجي عبدالباقي هوتک ما د ۱۳۶۴ هـ ش کال د (زېري) جریدې په ۳-۴ ګڼو کي معرفي کړي دي او عبدالهادي ریشاء ژوندی دئ اشعار ئې کله کله په موقوتو خپروونو کي خپرېږي. مرحوم استاد بېنوا (۱۲۹۲– ۱۳۶۵ هـ ش) په اوسني لیکوال (۱۴۵۹/۳ مخ) کي د هغه سوانح راوړي ده.[۱۶]

د میرزا عبدالودود هوتک د ژوند، شخصیت او سیرت په باب څېړنه زما د دغي لیکني موضوع ده.

*****

میرزا عبدالودود هوتک د حاجي عبدالغني هوتک زوی د حاجي محمدعمر هوتک لمسی د ملا موسی کړوسی او محبت کوسی دئ. په ۱۳۳۱ هـ ق کال د دوهمي خور په نولسمه د چارشنبې په شپه د کندهار ښار د ملا ګلداد په کوڅه کي زېږېدلی دئ. مور ئې (نجم النساء) نومېده د مرحوم حاجي محمداکبر هوتک لور وه. پرهېزګاره او دینداره پښتنه وه، چي په ۱۳۳۰ هـ ش کال د حج د فریضې د ادا کولو پر وخت جولې (جل) ووهله او مړه سوه. په منی شریفه کي ښخه ده. په کورنۍ کي په (بي بي نجمو) سره مشهوره وه (جنتونه دې ځای سي).

د عبدالودود هوتک کوچنیوالی (ماشومتوب) له اماني دورې سره

---

[۱۵] د حاجي عبدالغني هوتک (اکولالا) شعري تخلص "زهیر" وو.

[۱۶] د "پټي کرښې" او "بېوسي" په نومو ئې شعري مجموعې اوس چاپ سوي دي. اوس چي دا رساله دوهم وار چاپ ته تیارېږي ، د ارواښاد ریشاء د چاپ سوو شعري مجموعو شمېر تر لسو اوښتی دئ.

برابر دئ. په دغه غورېدلې او مترقي دوره کي په ټول هيواد کي معارفو ډېره وده وکړه. په کندهار کي د لومړي ځل له پاره د (مکتب تجار) په نامه يو ښوونځی تاسيس سو.(۱۷) عبدالودود هوتک د دغه مکتب له لومړنيو او ممتازو زده کوونکو څخه وو. کله چي غازي امان الله خان د کندهار معارف کتل (قوس-۱۳۰۴ هـ ش) د شاگردانو د زيات تشويق په خاطر ئې ممتازو او غير ممتازو زده کوونکو ته د هغوی د لياقت سره سم انعامونه ورکړل، چي عبدالودود هوتک ئې په لومړۍ درجه انعام او نغدي مکافات وگټل او، چي دغه جريانات د هغه وخت د طلوع افغان په جريده کي په تفصيل سره راغلي دي.(۱۸) عبدالودود هوتک خپلې زدکړې د رشديئې تر دريم ټولگي پوري

---

(۱۷) دغه مکتب په ۱۳۰۰ هـ ش کال د مولوي صالح محمد هوتک له خوا چي په دغه وخت کي د کندهار د معارفو مدير وو، تاسيس سو. د "مکتب تجار" ودانۍ د سردار مهردل خان مشرقي (۱۲۱۲-۱۲۷۱هـ ق) شخصي کور وو، چي د کندهار د اوسني ښار په دوهمه ناحيه کي واقع دئ. دغه سيمه د ښار په احمد شاهي تشکيلاتو کي د بارکزو د استوگني سيمه وه. د سردار مهردل خان احفاد اوس (۱۳۶۶ هـ ش) هم په دغه کوڅه کي اوسي. دغه کوڅه د "شيرعليخان کوڅه" نومېږي. شيرعليخان د سردار مهردل خان مشرقي زوی وو. محلي خلک دغه ځای شاله مار بولي، ځکه نو دغه مکتب هم د (شاله مار مکتب) په نامه مشهور سوی دئ. په ليکلو سرکاري اسنادو کي "شعله ماه" ثبت سوی دئ؟ کله چي اروا ښاد علامه حبيبي د کندهار د معارفو رئيس سو (۱۳۲۵ هـ ش) دغه مکتب ئې "د مشرقي ښوونځی" په نامه ونوماوه. دې مکتب وروسته لېسې ته ارتقاء وکړه او په وروستيو کلو کي د دغې لېسې له پاره د يونسکو په مصرف د کندهار ښار د ښکارپر دروازې دباندي يوه ښکلې ودانۍ جوړه سوه چي په دې ورځو کي (۱۳۶۶ هـ ش) د جگړو له امله گړوبه سوې ده.

(۱۸) اعليحضرت امير امان الله خان د (مکتب تجار) هلکانو ته ۴۶۹۰۵ روپۍ انعام ورکړ. په دې ډول:

پنځم جماعت ته د سړي پر سر ۱۱۵ روپۍ

څلرم جماعت ته د سړي پر سر ۱۱۰ روپۍ

ورسولې چي اماني دوره پای ته ورسېده او د سقوي توري دورې په راتګ سره د هیواد د معارفو نهضت دړې وړې سو. ښوونځي وتړل سول او په دې ډول د عبدالودود هوتک د زدکړې لړۍ هم وشلېده او نوموړي شخصي مطالعه او تتبع پيل کړه، د خپل خارق العاده استعداد او نبوغ په مرسته ئې انګرېزي، اردو او عربي ژبي بې له استاده زده کړلې له اردو او عربي ژبو ئې ترجمه هم کولای سولای، د طلوع افغان په اداره کي ئې رسمي کار پيل کړ او د دغي جريدې د خطاطۍ دنده ئې پر غاړه واخيستله او په څنګ کي ئې له جريدې سره قلمي همکاري هم کوله او د مړيني تر وخته په دغه دنده بوخت وو.

ميرزا عبدالودود هوتک څو بعدي شخصيت درلود ليکوال وو، محقق وو، خطاط وو، انځورګر وو، ژورناليست وو، فلسفي او متصوف وو. زه په دغه ليکنه کي زيار باسم د ده د علمي او فلسفي ژوند بېلابېل اړخونه هر يو په جلا جلا ډول د هغو معلوماتو او مدارکو له مخي چي زما په لاس کي سته وڅېړم. زما څېړنه تر ډېري اندازې پر افاقي او شفاهي روايتو ولاړه ده. دا روايتونه زياتره زموږ د کورنۍ د غړو له خولې يا د ستر محقق پوهاند رشاد صاحب او يا نورو دوستانو له خولې دي. ما تر وسه وسه په هر ځای کي د نقل راوي ښودلی دئ.

مخکي له دې چي د ميرزا عبدالودود هوتک د شخصيت بېلابېل اړخونه وڅېړم، د خپل فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد هغه " خاطره" چي ما ته ئې له يو ليک سره يو ځای رالېږلې ده، تاسي ته وړاندي کوم:

" زه ديرلس کلن وم، چي د کندهار مطبعې ته د شاګرد په توګه ورغلم د کاپي ليکونکو د خوني په شمال شرقي ګوټ کي به مي همېشه يو سړی ليده چي اټول ئې پر سر رانغښتی دئ، له چا سره بې ضرورته خبري نه کوي، سر ئې ځړولی دئ، د طلوع افغان کاپي ليکي، کار چي خلاص کړي، په پټه خوله

---

دريم جماعت ته د سړي پر سر ۱۰۵ روپۍ
دوهم جماعت ته د سړي پر سر ۹۰ روپۍ
اول جماعت ته د سړي پر سر ۸۰ روپۍ

له دفتره وزي، پر لاري چي ځي مځکي ته گوري، ته به وائې چي په دنيا کي له هيچا سره نه پيژني.

دغه منزوي او پټ خولی سړی ورځ په ورځ پر ما گرانېده او کرار کرار مي د ده د شخصيت لوړوالی درکاوه. زه ورو ورو پوه سوم دغه سړی يوازي خطاط او رسام نه دئ په ادب او فلسفه کي هم لاس لري، ليکوال دئ، متفکر دئ، صوفي دئ، مرتاض دئ، د دنيا خوندونه ئې پرې ايښي د دنياوالو چال چلن ته په کرکه گوري او يوه عالي مقصد ته د رسېدلو په تلاښ کي دئ.

دغه عالي انسان ميرزا عبدالودود هوتک وو، چي پښتني دنيا د ده له فوق العاده استعداد څخه ډېره برخورداره نه سوه او په ۳۴ کلني کي له دې نابودي دنيا ولاړ، (خدای دې وبخښي)".

(رشاد)

## میرزا عبدالودود هوتك

## د لیکوال په توگه

میرزا عبدالودود هوتک د پښتو ژبي پوخ لیکوال وو، د ده له لیکنو څخه لوستونکی د ده د مطالعې د ساحې پراخوالی معلومولای سي. افکار ئې لوړ او لیکنه ئې عالي وه. که څه هم ما ته د ډېرو هلو ځلو سره سره له یوې نمونې پرته د ده د لیکنو نوري بېلگي په لاس نه دي راغلي خو د دا یوې مقالې له لوستلو څخه موږ ویلای سو، چي د لیکنو محتوی ئې د اسلامي اصولو له مخي د نویو علومو د مغلقو او پېچلو مسایلو او انکشافاتو توضیح کول او څېړل دي او دا کار په پوره پیاوړتیا سر ته رسوي.

لکه مخکي چي هم وویل سول، ده له طلوع افغان سره قلمي همکاري درلوده. په لیکوالي کي ئې د خپل ژوند عمومي پرنسیب (نه مهشور کېدل) تعقیباوه، مقالې ئې په مستعارو نومونو زیاتره د (ع-ل) په نامه خپرولې. دغه علت دئ، چي عبدالودود هوتک زموږ د معاصرو څېړونکو په لیکنو کي د لیکوال په نامه لږ معرفي سوی یا هیڅ نه دئ معرفي سوی. وایي کله چي به د اخبار له پاره مضمون نه وو، یا به ستون تش پاته سو، ده به په ډېر لږ وخت کي ډېر عالي مضمون ورته وکیښ.[۱۹]

ما د میرزا عبدالودود هوتک دغه مقاله موندلې ده، چي د مرحوم قدیر تره کي د هغه مضمون په جواب کي ئې کښلې وه، چي عنوان ئې "تاریخ

---

[۱۹] د ښاغلي محمد ابراهیم خواخوږي یادښت.

په خواشیني سره باید ووایم چي د دغي رسالې د چاپولو پر وخت (۱۳۷۷ هـ ش) خواخوږی صاحب وفات سوی دئ. نوموړی د کندهار له منورو لیکوالو او شاعرانو څخه وو. د ویښ زلمیانو په نهضت کي ئې برخه اخیستې وه. مرحوم خواخوږی صاحب په رشتیا سره یو خواخوږی او مهربان افغان وو، چي د ۱۳۷۱ هـ ش = ۱۹۹۲م کال داکتوبر پر ۲۴ مه په کابل کي وفات سو. تولد ئې په ۱۲۹۹هـ ش = ۱۹۲۰م کال د کندهار په ماله جات کي پیښ سوی وو.

متکرر است یا متوالی" دئ. د اروانباد قدیر تره کي دغه مقاله د اریانا مجلې د... کال په ثلرمه گڼه کي خپره سوې وه. د عبدالودود هوتک جوابیه مضمون په طلوع افغان کي خپور سو او په هماغه کال ئې جایزه هم وګټله. وایي چي قدیر تره کي ډېره علاقه درلوده، چي له عبدالودود هوتک سره له نژدې وګوري، خو داسي موقع ئې ترلاسه نه کړه.

د ده بله مشهوره مقاله د (انسان) په باب ده. وایي په دغه مقاله کي ئې د کامل انسان د ریښتیني مقام ترسیم په خورا ښه ډول کړی وو.[۲۰] دغه راز ئې د پښتو د څو تنو کلاسیکو شاعرانو د اشعارو د مقابلې څخه یوه په زړه پوري مشاجره ترتیب کړې وه، چي په طلوع کي خپره سوې هم وه.[۲۱] د ستر محقق پوهاند رشاد په قول میرزا عبدالودود هوتک خپل استعداد هغه وخت وښود، چي د طلوع افغان د چلېدو کار په حقیقت کي ټول د ده پر غاړه سو. دا نو هغه وخت دئ چي لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي کابل ته غوښتل سوی او د طلوع افغان جریدې رسمي مسئولیت د محمدیوسف ایازي پر غاړه لوېدلی دئ(۱۳۱۹ هـ ش).

لنډه ئې دا چي عبدالودود هوتک د خپل وخت تکړه لیکوال او د ځوان نسل روزونکی او مشوق وو. محترم خواخوږی صاحب وایي چي په هغه وخت کي د ځوانانو د ښوونې او روزنې له پاره یوازنی مشوق او لارښوونکی میرزا عبدالودود وو.

---

[۲۰] د پوهاند رشاد صاحب یادانښت.
د الانسان الکامل په نامه په عربي ژبه دوه کتابه سته. یو د عبدالکریم حیلي او بل د عزیزالدین نسفي تالیف دئ.
[۲۱] د اروانباد حاجي عبدالمجید هوتک یادانښت.
د مرحوم عبدالودود هوتک په قلم لیکل سوي مقالې به د دې رسالې په دوهمه برخه کي راوړل سي.

## د خطاط په توګه

عبدالودود هوتک ډېر ښه خطاط وو. له طلوع افغان سره ئې همکاري د دغي جريدې د خطاط په توګه شروع کړه. طلوع افغان تر ۱۳۲۰ هـ ش کال پوري په ډبرين چاپ خپرېدئ او زما د معلوماتو له مخي عبدالودود هوتک د جريدې دوهم خطاط وو.[۲۲] د "کندهاري خطاطانو" د رسالې مؤلف محترم عبدالقدوس نجيب[۲۳] ليکي:

"ميرزا عبدالودود د حاجي عبدالغني وی په خطاطي او نقاشي کښي د ښه مهارت څښتن وو. د طلوع افغان د اخبار په اداره کښي ئې تقريباً شل کاله د کاپي نويس په حيث کار وکړ. فلسفي فکر ئې درلودئ. ډيري مبتکري مقالې ئې د طلوع افغان په اخبار کښي د (ع. ل) په نامه نشر سوي دي. په قديمو او عصري علومو کښي د ښو معلوماتو خاوند وو. د ليک نمونه ئې د خوشحال خان کليات د کندهار طبع ده.[۲۴]

لکه په پورتني نقل قول کښي چي هم ويل سوي دي د "خوشحال ملغلري"، "د عبدالقادر خټک دېوان"، "سپېڅلې پښتو"، "ملي پسرلی" او

---

[۲۲] د طلوع افغان جريدې اول خطاط سيد حسين نومېدئ. سيد حسين اغا د سيد مبين زوی وو. په ۱۲۷۶ هـ ش کال په کندهار کي زېږېدلی او په ۱۳۲۸هـ ش کي مړ سوی دئ. د طلوع افغان د اووم کال له ۶۵ ګڼې څخه تر ۷۷ ګڼې پوري ئې د جريدې د سرپرست کار هم پر غاړه وو. دا هغه وخت وو، چي د جريدې مدير بابا عبدالعزيزخان د علاج له پاره کابل ته تللی وو او د هغه مرستيال (خواجه محمد لويي جرګې ته د نماينده په حيث کابل ته لېږل سوی وو.

سيد حسين د پښتو ژبي شاعر هم وو. د جريدې په نورو خطاطانو کي مي د ملا عبدالوهاب اخوند نوم هم د هغه وخت له سپين ږيرو څخه اورېدلی دئ.

[۲۳] ارواښاد عبدالقدوس نجيب د دغي رسالې د ليکلو پر وخت ژوندی وو.

[۲۴] وګ: کندهار مجله، ۱۳۵۶ش کال، د تلي مياشت، ۷ ګڼه، ۲۷ مخ. په دغه ليکنه کي چي د ميرزا عبدالودود د مړيني کال ۱۳۲۵ ش ښوول سوی دئ، يوه تېروتنه ده چي سمېده غواړي. دغه کال ۱۳۲۶ هـ ش دئ.

د طلوع افغان سالنامه چې د علامه عبدالحي حبيبي له خوا په کندهار کې خپاره سوې دي د ميرزا عبدالودود هوتک په لاس خطاطي سوي دي.[۲۵]

د ده د خط بله نمونه د ملا گلداد اخوند د مسجد جامع کتيبه ده، چې په ډبره کې کيندل سوې او په جامع کې دننه په شمالي دېوال کې ښخه ده. د کتيبې عبارت داسي دئ:

**إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ﴿۱۸﴾** (۹ التوبه ۱۸ آية)

دا مسجد جنابانو محمدانور خان او محمدافضل خان لودين د مرحوم حاجي خان محمد خان لودين زامنو په خپل شخصي مصرف سره په ۱۳۶۳ هـ ق کال تعمير کی".

ميرزا عبدالودود د ۱۳۱۷ هـ ش کال جنتري هم پخپلو هنرمندو گوتو کښلې ده. دا جنتري جيبي قطع لري د پاڼې په سر کې ئې د چوکاټ په منځ کې د مياشتي نوم په نسخ خط او پر سرئې ۱۳۱۷ عدد کښلی دئ. د چوکاټ ښي خوا ته تر ۱۳۵۷ عدد لاندې (هجري قمري) او کيڼ لور ته تر ۱۹۳۸ عدد لاندې (عيسوي) په نستعليق خط ليکلی دئ. تر چوکاټ لاندې ئې پاڼه پر دوو لويو عمودي ستونو وېشلې او هر ستون بيا پنځه کوچني ستونونه لري. په اول کوچني ستون کې د اووه نی ورځې، په دوهم کې شمسي مياشت، په دريم کې قمري مياشت، په څلرم کې عيسوي مياشت راغلې ده او پنځم

---

[۲۵] دغه خبره ما د علامه رشاد مرحوم له خولې اورېدلې ده او د همدې رسالې په سر (۹ مخ) کې علامه مرحوم پخپله ليک کې هم راوړې ده. ارواښاد عبدالقدوس نجيب هم د خوشحال خان خټک کليات (د کندهار طبع) د ميرزا عبدالودود ليک بللی دئ. خو ښاغلي همېش خليل په (تول پارسنگ، وړومبی برخه، ۲۶ مخ) کې د خوشحال خټک مرغلري د سيد حسين ليک بولي چې د تامل وړ خبره ده.

د خوشحال خټک مرغلري په غوييی ۱۳۱۷ هـ ش (زما د همدې رسالې په لومړي چاپ کې ۱۳۱۶ هـ ش ليکل سوی دئ چې سهي نه ده)، د عبدالقادر خان خټک ديوان په تله ۱۳۱۷ هـ ش، سپېڅلې پښتو په ۱۳۱۹ هـ ش (د لعل محمد کاکړ په تتبع او د علامه حبيبي په مقدمه)، د طلوع افغان کالنی په ۱۳۱۷ هـ ش؟ کال خپاره سوي دي.

ستون د (ملاحظات) دئ. دوهم غټ ستون هم پنځه کوچني عمودي ستونونه لري او د میاشتو پاته حساب پکښې کښل سوی دئ. لومړی غټ ستون ئې د (حصه اول) او دوهم غټ ستون ئې د (حصه دوم) په نامه نومولی دئ.

زما سره د دغي جنتری یوازي د (اسد) د میاشتي پاڼه سته، چي پخوا د حاجي عبدالمجید هوتک په کتابتون کي خونده وه.

وايي چي مولوي صالح محمد هوتک (۱۳۳۹ هـ ش مړ) کله چي په دارالتحریرشاهي کي د اعلیحضرت محمدظاهر شاه د پښتو ښوونکي په توګه وظیفه لرله (۱۳۱۷ هـ ش) د وخت پاچا ته د میرزا عبدالودود هوتک په باب ځیني یادوني کړي وې. پاچا ئې د لیک نمونه غوښتې وه. عبدالودود پر غټ کوکاني (خوقندي) کاغذ باندي د ملا عبدالباقي افغان (۱۳۰۴ ش مړ) له تهذیب الواجبات کتاب دغه لاندي بیت په ډېر ښکلي زرین خط کښلی وو:

باري ربه چي تر رګو تر ښهرګو ته راتېر سوې
تر دې زیات قربت به څه وي اې راتېره ولي هېر سوې [۲۶]

دغه تابلو ئې بې له دې چي خپل نوم پر وکاږي، مرکز ته ولېږله چي ویل کېږي د ارګ په سلطنتي کتابخانه کي د ۱۳۵۷ هـ ش تر اواخرو پوري لا خوندي وه او س ئې درک نسته.

میرزا عبدالودود هوتک په خطاطی کي ځیني شاګردان هم وروزل، چي په هغو کي یو تن عبدالغفور نومېدئ او د ملا ګلداد په کوڅه کي اوسېدئ.

---

[۲۶] دغه بیت د چاپي تهذیب الواجبات (طبع ۱۳۴۱ هـ ق، لاهور) په ۲۲۳ مخ کي په لږ تغیر سره راغلی دئ. دغه کتاب د (حاجي غلام محمد خجندي قندهاري) په فرمایش چاپ سوی دئ. حاجي غلام محمد په قوم خوندی او د کندهار ښار د دوهمي ناحیې د عمرانو په کوڅه کي اوسېدئ.

د ملا عبدالباقي افغان او تهذیب الواجبات په باب د کابل مجلې د ۱۳۶۴ هـ ش کال په ۱۰-۱۱ ګڼه کي د پوهاند عبدالشکور رشاد مقاله وګورئ.

## د انځورگر په توگه

عبدالودود هوتک د خطاطۍ پر څنګ په رسامۍ هم گوتي وهلې. وايي چي د سيد جمال الدين افغان يو غټ پورتريت ئې رسم کړئ وو او د طلوع افغان د هغه وخت په جريدو کي چي څه رسامي سته، د ده د هنري گوتو محصول دي. ښاغلی زلمی هيوادمل يو ځای کاږي:

"په اخبار کي (مراد ئې طلوع افغان دئ- م. هـ) د طباعتي ستونزو له امله عکسونه ډېر نه دي چاپ شوي خو په ځينو خاصو گڼو لکه د استقلال او نورو خوشحاليو په گڼو کي رسم شوي عکسونه هم چاپ کړي دي، چي کاتب ئې هنرمند خطاط او اوښاد عبدالودود دئ".[۲۷]

زما سره د عبدالودود هوتک په لاس رسم سوي د خپلواکۍ د څلي يوه نيمگړې نمونه سته. دغه انځور د طلوع افغان د ۱۳۱۵ هـ ش کال د اسد د دوه ويشتمي نېټې د جمعې د ورځي د فوق العاده گڼي په لومړي مخ کي رسامي سوی دئ. د اخبار ټول مخ ئې نيولی او زرين (طلايي) رنګ لري. زه به دغه گڼه لږ څه په تفصيل سره معرفي کړم که څه هم ځيني مطالب به ئې له اصل موضوع سره سر ونه خوري خو څرنگه چي د طلوع افغان د هغه وخت پاڼو اوس د (انځرگل) حيثيت موندلی دئ او حتی د عامه کتابخانې په کلکسيون کي هم دغه فوق العاده گڼه زما په سترگه نه سوه، ځکه ئې نو معرفي له گټې خالي نه ده او په راتلونکو څېړنو کي به په درد وخوري.

د پاڼې په سر کي په غټ جلي خط (طلوع افغان) کښلی دئ. ښي لور ته ئې د مسئول مدير (عبدالحي حبيبي) نوم-اداره عنوان او کيڼ لور ته د اشتراک وجه (په هيواد کي دننه او بهر) ليکلې ده. تر هغه وروسته کاږي چي "دا جريده په هفته کي يو وار نشرېږي-رالېږلي مضمونونه بيرته نه ورکول کېږي-په نشر او اصلاح کي اداره واک لري".

تر کليشې رالاندي په يوه غټ بيضوي چوکاټ کي چي شاوخوا ښکلې

---

[۲۷] وگ: پښتو چاپي آثار په دوو پېړيو کي، ۲۱۱ مخ، ۱۳۵۷ هـ ش کال، کابل.

گلکاري لري، د استقلال څلی رسم سوی دئ. د دغي صفحې د سر د خوا تقريباً شپږمه برخه کنډو ده. د ېيضوي چوکاټ پر سر راستې خوا ته د (استقلال) کلمه سته. د چپې خوا برخه کنډو ده، ځکه نو د عبارت پاته برخه نه رامعلومېږي په ېيضوي چوکاټ کي دننه دغه لاندي بيت راغلئ دئ:

د استقلال څلی يادگار موږ ئې ساتو په وينو
پر زرين پاڼي مو دنيا ته دا خبر ايښی دئ

د بيت يوه مصرعه د څلي ښی خوا او بله کيڼي خوا ته په ايرب ډول خطاطي سوې ده. د پاڼي په پای کي تر ېيضوي چوکاټ لاندي دغه لاندي عبارت په منکسرو خطوطو کي چوکاټ سوی دئ:

"د استقلال د لوی قهرمان اعليحضرت محمدنادر شاه شهيد د تاريخي مجاهداتو نخښه".

دغه راز ئې د ميرويس نيکه د زيارت د گنبدي رسامي هم کړې او په طلوع افغان او د پښتو مجلې پر سر ورقي باندي چاپ سوې ده.

دغه رسامي ما ته ډېره ښکلې ايسي، خو بايد ووايم چي په الفاظو او کلماتو کي د يوې هنري تابلو او د هغې د ښکلا ترسيمول پخپله د يو هنرمند کار دئ، چي له بده مرغه زه دغه شان استعداد نه لرم.[۲۸]

---

[۲۸] زما خيال وو، چي د دې رسالې د چاپ پر وخت د طلوع افغان د ياد سوو گڼو عکس او د ۱۳۱۷ هـ ش کال د جنترۍ عکس هم ورسره چاپ کړم. خو له بده مرغه اوس مي په واک کي نسته.(م. هـ)


د طلوع افغان له خوا د استقلال د يوويشتم كال
د ملي شاعر خوشحال ختک په ياد
وينا د عبدالحی حبيبي
۱۳۱۸

۲

پښتو [illegible] دوهم ادبي سوغات

# دَ عبدالقادرخان ختک دیوان

قندهار

(۲)

| | |
|---|---|
| نړکه دانا سړی اختیار کا | په دنیا په دین به جوړ پړے کار وبار کا |
| دَحق په صدق په اخلاص کا | تل له خپله نفسه جنګ کوی کارزار کا |
| دُ سخاوت کا بے منته | په حاجت کښی استغنا له دنیادار کا |
| انو ته تل پند نصیحت وایی | له دښمن سره په حلم زیست روزګار کا |
| خلقو زیست په انصاف کا ندی | په رشتیا ویل حاصل خپل اعتبار کا |
| مهربانی کا په کوچنیو | دَ لویانو په خدمت حاصل وقار کا |
| نو سره زیست په خاموشی کا | که هر څو په بد ویل ئے زړه آزار کا |

هیڅ عبدالقادر غُندی آزار وړی
چه نه څوک آزاروی نه له چا زار کا

| | |
|---|---|
| خوړے خبری زړه صاف نکا | دَ طهور شراب هغو ته لاف نکا |
| پله ستا صفت دی بیان کړی | نشته شی چه مدح ستا دَاوصاف نکا |
| ا په شریعت قدم ثابت کړ | له صراطه دِ هغه سړی خاف نکا |
| ولہ سنت کا خَائیُ او ردَی | که له فرض او له واجبو خلاف نکا |
| خپل ګنه ګار عفو ستا په روی کا | ولی ستا ګنه ګاران به معاف نکا |

په طواف ئے مفتخر عبدالقادر کړه !
خوار شی څوک چه تر روضه ئے طواف نکا

(د عبدالقادر خان ختهک دیوان)

(۱۱)
سلسلهٔ نشرات طلوع

# پښتو کلی

برای استفادهٔ آموزندگان زبان ملی
فرهنگ پارسی بزبان پښتو
دارای
ده هزار لغت خالص پښتو

نگارش:
[illegible] عبدالحی حبیبی

در عصر سعادت حصر اعلیحضرت محمد ظاهر شاه
[illegible] د معارف خواهی و اجازهٔ [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

بسم الله الرحمن الرحیم

محمد معصوم هوتک
…ASOOM HOTAK

# دَ خوشحال خان ختک

# کلیات

دا دَ پښتو ټولنې ادبي اثر، دَ پښتون ټولواک اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په عصر کښې، په ام دَع ، ش سردار محمد داود خان دَ قندهار ملکي او لښکري مشر، په خپلو مصارفو، چه دَ دارالحکومگئ په واک کښې دي، دَ قندهار په مطبعه کښې په تصحیح او تحشیه او اهتمام دَ عبدالحی حبیبي مدیر دَ طلوع افغان چاپ او خپور شو.

دا کتاب له څلورو قلمي او ټولو چاپي نسخو څخه په ډېر زیار نقل شوی، او تر پخوانیو چاپي نسخو خورا بشپړ او ډېر دی.

قندهار . غويَی ۱۳۱۷ کال

دَ لومړي چاپ شمېر (۵۰۰) جلد

(۲۸۳)

...ندي، په دادَورلیونې پهوښیارانو | پیچمې مسخرے کا بے خبر په بخز دیو

(۱)

دَشهې زلفو مختولو | سر هوا پرېشانو طولو
چه ئې لاڼي هرسَړی کا | عشق آسان ندی فضولو
جما رازمو په ملک خپورکړ | اے جما اوښیو ښږدلو
په کوڅه کښې دَ دلبرو | حساب نشته دَمقتولو
تاسو مشوَی سَرَه تولی | گښې گښې دَزره نو لو

دا خبرې چه خوشحال زده
نه دِي دا دَ نامعقولو

دَ ښادمنو په خندا برو (۲) | د غمجنو په ژړا برو
دَ رندانو په رندئ | د شیخانو په تقوا برو
دَ وصال په سل خوښئ | د هجران په زر بلا برو
د بهار په ښو گلونو | د بلبلو په نوا برو
چه ترے سبروني هیچ دي | په هغه قد بالا برو
چه ملکولي دي له نازه | په هغو سترگو شهلا برو

یعنی اوبه دو (۲) برو په پښتو کښې دَ قسم کلمه دَه

"د خوشحال خان ختک مرغلري" متن



۱

دمیرزا عبدالودود هوتک
څو بعدي شخصیت

لوی احمدشاه بابا (۱۱۶۰ - ۱۱۸۶ هـ ق) دخپلو سترو کارنامو په څنګ کې په ۱۱۶۹ هـ ق کال د دوهمې خور په لومړۍ نیټه د یکشنبې په ورځ دکندهار د اوسنی ښار تاداو کېښېښود د (۱) دښار ارګ لا په ودانولو

---

(۱) ستر افغاني محقق پوهاند عبدالشکور رشاد د احمدشاهي کندهار د تاداو اېښودلو تاریخي ماده په «دا ښار احمدشاهي کندهار دی» کې موندلې او هم یې د تاریخ احمدشاهي په استناد ددغه ښار د تاداو اېښودلې معنعنه نېټه ۱۱۷۴ هـ ق) د تامل وړ بللې ده. (وګورئ: د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو شرح - د سریزې ۱۶ مخ - دکابل چاپ.)
احمدشاهي کندهار په (اشرف البلاد) سره یادېږي ددغه ښار له ودانولو مخکې دکندهار ښار د سرپوزې غره څنګ لوړ ته پروت و. دا ځای اوس د زاړه ښار په نامه یادېږي د تاریخ تاریخي ماڼۍ په دغه ځای کې ده چې اثار یې اوس هم پاته دي زوړ کندهار د افشار نادر په لاس له یو کال کلابندۍ وروسته په (۱۱۵۰ هـ ق) کې وران سو او پر ځای یې د نادرآباد په نامه

۲

کې یې د پښتنو د ټولو ټوټو همکاري د غوښتله او په دې کار کې یې هدف د خورو ورو پښتنو د قومي او ملي یووالي ټینګول وو. ددغه عالي نصب العین له مخې یې د کلات (ارسني زابل) له (۱) (سیوري) څخه د (محبت) او (صحبت) په نومونو دوه ورونه له خپل ټبر او قوم سره همکارۍ ته راوبلل. (۲) البته دا دوه تنه په خپل قوم کې د ښه نامه او رسوخ خاوندان وو. دوی دا ښه په ډېر اخلاص او مینې

---

← د اوسني کندهار جنوبي پلو ته (شېرسرخ) ته نږدې یې ودان کړ (جهانګشای نادري ۳۲۸ مخ) دغه سیمه د ځینو نظامي او دموقعیت له مخې د ښار لپاره مناسبه سیمه نه وه نو ځکه لوی احمدشاه بابا دا اوسنی کندهار جوړ کړ.
(۱) سیوری د سرغره په لمن کې د کلات د ښار شرقي خواته یو پراخه سیمه ده چې د زابل ولایت د شینکي ولسوالۍ مرکز ګڼل کېږي. دافغانستان جغرافیايي قاموس په غلط ډول ۱۱۹۰ مخ کې چې د حاجي میرویس هوتک زیارت د شینکي ولسوالۍ د شملزو په کلي کې بلل سوی دی. یو داسې غلطي ده چې د (دایرة المعارف د تولني) په شان یوې علمي مرجع څخه یې توقع نه کېده. دغه زیارت دکندهار ښار لوېدیځې خواته د مرات کندهار د لوټي لارې شمال ته د کوکران په کلي کې دی. سترګو مبته پر دلانږ د
(۲) محبت او صحبت په قوم هوتک او په هوتکو کې له ناتي بلېل کي

د لومړي چاپ لومړي مخونه

٤٥

ترد نیا ولاړې ستا په مخ کي سفر | پر دین محکم وې پر ورتلو برابر
په ولایت دي هیڅوک نه و منکر | عالم دي غرق وه په تحسین بیان

...

تر دنیا ولاړې ور دروړې حقاني | یوه دي د بیره پر سنت نبي
بل دي نقاب په سپین مخ نوراني | په حقیقت سره [illegible] دوست د سبحان

~~~

قاري مسکین سو ستا په شعر مبتلا | [illegible] صبر مورکي د بره ژړا
معلومه داده چي قاري شیدا | داستا په [illegible] هر مشکل بېي اسان (۱)

---

(۱) ددې شعر دیوتکي مېږمن ( بارکزۍ ) نومېده او په سترګو سورزاده ړنده وه . مېړه یې حافظ شاه جهان د مولوی عبدالواسع اخند زاده ( ۱۳۰۸ هـ ش شهید ) له شاګردانو څخه و . مېږمن بارکزۍ د خپل مېړه په کومک په منځه کاله کي قرآن مجید حفظ کړ خلکو یې خان ته ( قاري ) وایه . ډېره متقي او پرهیزګاره ښځه وه . د مولوی صالح محمد هوتک ( ۱۳۳۱ هـ ش مړ ) د پښتو مثنوي زیاتره سرګي یې به یاد وې او د مولوی صاحب په مخ کي به یې په ښه زړین لحن ویلې . مالیدلې وه . کوچنیانو ( ماشومانو ) به « دادا بیبو » بلله او ددې هم دا نوم خوښ و .



د لومړي چاپ اخري مخونه
~~~

## د ژورنالیست په توګه

پوهاند رشاد صاحب راته وفرمایل:

کله چې لوی استا علامه حبیبي کابل ته تبدیل سو او د پښتو ټولني د مشرتوب چاري ور د غاړي سوې (۱۳۱۹ هـ ش) په دغه وخت کي د طلوع افغان جریده فقط او فقط د میرزا عبدالودود په همت چلېده. مضامین ئې ورته برابرول پخپله ئې هم لیکل او تر څو چي جریده په ډېرین چاپ چاپېده د خطاطۍ کار ئې هم ده کاوه او دغه راز ئې د نړۍ حالات په مستقیمه توګه له رادیو څخه ورته تهیه کول.

ښاغلی هیوادمل په هغه مقاله کي چي عنوان ئې "د پښتو لومړی اخبار (طلوع افغان) د ژورنالیزم د اصولو په رڼا کي" دئ، کاږي:

"خبرونه زیاتره د اصلاح-اتحاد مشرقي-بیدار او د هیواد له نورو خپرونو څخه اخیستي دي-د خارجي خبرونو د اخیستني مرجع ئې نه معلومېږي خو په ځینو ګڼو کي ئې له خارجي اخبارو څخه دغه ډول اقتباسات کړي دي".[۲۹]

باید وویل سي چي د خارجي خبرونو د اخیستني مرجع ئې رادیویي نشریات ول، چي د میرزا عبدالودود او محمدیوسف ایازي له خوا برابرېدل.

دغه وخت د دوهمي نړیوالي جګړې د شدت مهال وو. په طلوع افغان کي هم د جګړې جریانات منعکسېدل، دا خبرونه لکه مخکي چي وویل سول په مستقیمه توګه له رادیو څخه اخیستل سوي او لومړي لاس خبرونه ول. زموږ د هیواد خلکو په جګړه کي د دخیلو قواوو د تائید او تردید په لحاظ جلا جلا دریځونه درلودل. څوک د متحدینو او څوک بیا د متفقینو پر خوا ول. زمونږ د کورنۍ غړي هم له دې حالته مستثنی نه ول. خو د حوادثو په باب ئې د میرزا عبدالودود نظر ته چي په رښتیا سره صائب نظر وو، اهمیت ورکاوه. زما د پلار د خولې روایت دئ، چي د جنګ په وروستیو ورځو کي

---

[۲۹] پښتو چاپي اثار په دوو پېړیو کي، ۲۰۹ مخ.

چي هټلري فوځونه د شوروي روسيې د پايتخت په څو کيلومتري کي پراته ول او سبا د پايتخت د فتح کېدو انتظار ايستل کېدئ ميرزا عبدالودود په هماغه شپه وويل چي: "جرمنيان ئې بايلي" دا اټکل په هغو حساسو شپېو کي د منلو وړ نه وو، خو حوادثو د ده د نظر او اټکل سموالی ثابت کړ.

## د متصوف او فلسفي په توګه

بشري ټولنه د متضادو افکارو، ذهنیتونو، خصلتونو او خاصو بشري کرکټرونو مجموعه ده. انسانان لکه کړه وړه چې ئې سره جلا دي، دغه راز ئې د ځان او جهان په باب نظرونه او افکار هم سره بېل دي.

انسانانو تل د خپلي ذهني کفایت په اندازه د ځان او کائناتو د خلقت او د هغه د سرشت او ماهیت په باب فکر ځغلولی دئ ځوک په دې ناپایه سمندر کي "لاهو سوي" او چا ترې "لالونه را ایستلي دي".

د اضدادو په دغه ګوډانه[۳۰] کي چې خورا ډېره پرله نغښتې ده، متفکر انسانان او د غیر عادي مغز او پوهي خاوندان په شواخون ژوند تېروي او د زړه په وینو پايي. دوی ته د انسانانو غیر انساني عملونه، د هغوی ناوړه کردار، بېدینی، بې لاری او ناپوهی د مغز د خوراړو[۳۱] حیثیت لري. دی د "انسان" په لټه کي وي خو خپله ورکه نه سي موندلای:

دی شیخ باچراغ همی گشت گرد شهر
کزدام و ددملولم و انسانم آرزو است
زین همراهان سست عناصر دلم گرفت
شیر خدا و رستم داستانم آرزو است
گفتم که یافت می نشود جسته ایم ما
گفت آنکه یافت می نشود، آنم آرزو است

متفکر انسانان د دا ډول ذهني جریان په مقابل کي څو رازه عکس العملونه ښيي. ځيني د بشریت د اصلاح له پاره لېږي راوغړي، تبلیغ ورته شروع کړي، کتابونه ورته وکاږي، ځيني بیا د اصلاح کولو دغه پروسه له ځان څخه رانښلوي، د تصوف خند ته ور ولوېږي، د نفس او نفساني غوښتنو سره مجادله پيل کړي او د دغه "جهاد اکبر" په نتیجه کي په ځان کي ترپخوا زیات نورانیت ووینې چې دا بیا لار ورته د ښنو پيکړه سي. ځيني نور بیا د

---

[۳۰] ګوډانه = ځولی
[۳۱] خوراړه = د جزام ناروغي

دغو کړاوو د زغملو وس نه لري، گوښه نشینه سي، دنیا پرېږدي او له ټولني ځخه ځان لیري کړي، او ځیني بیا د دغه نه تطابق په خاطر په ډېرو افراطي عملونو لاس پوري کړي، چي د انتحار مثالونه ئې هم له ما سره سته. بالاخره ځینو ته بیا دغه رواني حالت د زړه دوک وراچوي.

عبدالودود هوتک هم باید خپل دراک مغز او حساس فکر د نړۍ او کائناتو په باب ځغلولی وای ده په دې جریان کي د تصوف لاره غوره کړه. په برنده ځوانۍ کي ئې د تصوف په اغزنه او له کړاوه ډکه لار کي گام کښېښود. د تصوف خوا ته د د لوی مشوق ملا خدایداد(۳۲) وو. په دې لار کي ئې ډېر کوښښ وکو. ریاضتونه ئې وگالل، روژې ئې ونیولې، څلې ئې وکښې، شپې ئې روڼې کړې، لږ خوب او لږ خبري ئې د ژوند دایمي برخه کړه، پټ سر وگرزېد، په میاشتو میاشتو پر وچه مځکه پرېووت، د توت په پاڼو او سابو ئې گذاره وکړه، چي دغه ریاضت د ژوند په پای کي وجیټیرین(۳۳) (Vegetarian) کړ. کار ئې پر مخ ولاړ او د کاشفي خبري ئې اوس هم د معاصرینو له خولې کېږي، کله کله به د سکر حالت ورته پېښ سو، له لمانځه او عبادت ځخه به ئې لاس واخیست، کله به ئې د ورځي یو لمونځ کاوه او گاهي به ئې په ټوله ورځ یوه سجده کوله د وجد په حالت کي به نځېده،(۳۴) خو په مجموع کي ئې د صحوي حالت غالب وو. ویل کېږي چي دی اویسي

---

(۳۲) ملا خدایداد د خپل وخت یو مشهور صوفي وو. وایي چي د صوفي صاحب علیه الرحمه (ملا محمد رسول ساگزي) له پیروانو ځخه وو. ملا خدایدا به د لرگو کاچوغي له ځان سره گرځولې او پر چا چي به ئې لورېدله، په سل افغانۍ به ئې پر خرڅوله. خلکو به دا کاچوغه د تبرک په توگه ساتله. ملا خدایداد به ټول عمر قرآن مجید په ځیگر پوري تړلی وو. د ده مجلس ته د ښار لوی علماء هم ورتلل. په مصاحبینو کي ئې قاضي اخترمحمد او ملا امیرمحمد غوندي لوی صوفیان هم شامل ول.

(۳۳) ویجیټېرین هغه چاته ویل کیږي چي غوښي نه خوري.

(۳۴) د مولانا عبدالباري هوتک یادانښت. مولاناصاحب د حاجي عبدالباقي زوی او د عبدالودود هوتک وراره وو.

طریقې ته منسوب وو (د اویسي طریقې پیروان بې له پیر او مرشده د تصوف مدارج وهي. دا طریقه اویس قرني صاحب ته منسوبه ده).

د حاجي عبدالمجید هوتک له خولې روایت دئ، چې عبدالودود ته په ړوکتوب کې څو ورځې داسي وجد پېښ سو چې گرده ورځ به ئې ژړل، ټوله کورنۍ ورسره پرېشانه وه، په پای کې پلار د ده خواجې د عمرجان صاحب زاده ورور خیرالدین صاحب زاده ته چې په (خلوتي اغا) مشهور وو، وروستی، خلوتي اغا ورته مراقبه سو او تر مراقبې وروسته ئې ورته وویل چې په دې هلک کار مه لرئ، خپل سر ته ئې پرېږدئ. وایي چې څو ورځې وروسته خپل عادي حالت ته راوگرزېدئ.

کندهاری سلیمي صاحب وایي چې یوه ورځ مو د میرزا عبدالودود د مکاشفې په باب خبري کولې چا منل او چا ردول په پای کې مو فیصله وکړه چې غرمه به کور ته ورځو، که ئې له سترې مه سي سره متصل (لېمو) راکړ نو رشتیا هم د خدای له نازولو څخه دئ، وایي کله چې غرمه کور ته ورغلو له روغبړ وروسته ئې سمدلاسه لېمو راته تعارف کړ او په کور ننوت.

د مادي تفکر له مخې خو دا پېښه یو تصادف دئ، خو داسي هم ویل کېږي چې تصادفات هغه ضرورتونه دي، چې انسانان ئې د حدوث علتونه نه سي کشفولای.

میرزا عبدالودود هوتک له ځوانۍ څخه د خواجه حافظ دېوان او مثنوي شریف مطالعه کاوه او د مطالبو مغز ته ورلوېدئ. د دوشنبې په ورځ به د شین غزي بابا،[۳۵] زیارت ته تلی او د زیارت تر محجر دباندي به ورته ناست وو. له دغه زیارت سره ئې ډېره علاقه وه.

---

[۳۵] شین غزی بابا زیارت د کندهار ښار جنوب ختیځ ته واقع دئ. د زیارت ختیځ خواته د لوی بالاکرز کلی او جنوب ته ئې د کلچابات کلی پروت دئ. پر زیارت ئې د اوسپني پنجره تاو سوې ده او شاوخوا ئې د توتانو درختي او د شنو غزو وني ولاړي دي. له روس سره د جهاد په وخت کي دشین غزي بابا د زیارت محوطه د شهیدانو هدیره سوه. د کندهار زیاتره شهیدان، چې د جهاد په لار کي ئې سرونه تر وطن قربان کړي دي، په همدې هدیره کي په ابدي خوب بیده دي.

اوس چې دا رساله دوهم وار چاپېدلو ته تیارېږي، د شین غزي بابا زیارت د ښاروالۍ په ناحیو کي شامله سیمه ده او شاوخوا ئې پاخه کورونه او ودانۍ جوړي سوي دي.

## د میرزا عبدالودود هوتك

## د ژوند نور اړخونه

عبدالودود هوتک ډېر عالي اخلاق درلودل او په ځنگ کې ئې ځیني عجیب خصوصیتونه او عادتونه لرل. تل پټ سر گرځېدئ. ږیره ئې پټوله او چا ته ئې نه ښکاره کوله، حتی د کورنیو غړو (مور، وروڼو...) ئې هم ږیره نه وه لیدلې. نه پوهېږم په دې کار کې ئې هدف څه و؟ په ټوله کورنۍ کې ئې له خپلي یوازینۍ خور سره د زړه خواله درلوده. سر او ږیره ئې هغې ته ښکاره کول او هغې به ورپرېولل. په دغه وخت کې به ئې زیات احتیاطي تدبیرونه نیولي ول، چي بل څوک ئې ږیره ونه ویني. له خلکو څخه زیاتره گوښه گرځېدئ او د ماپښین له خوا به د کندهار عمومي هدیرې ته وتی. د ژوند په آخرو شپو ورځو کي خو د انفرادیت په حالت کي وو. د طلوع ادارې ته به تلی، خپل کارئې کاوه خو هلته ئې له خپلو همکارانو سره راشه درشه لږ سوه.

ښاغلی عبدالقدوس نجیب وایي: "له خلکو څخه د لیري کېدو علت ئې دا وو، چي هغوی د ده شخصیت نه درکاوه".

د سلیمي صاحب (محمدحلیم)[۳۶] د خولې خبره ده چي میرزا عبدالودود له وینو څخه ډېره کرکه کوله. په ټول ژوند ئې د قصاب دوکان ته مخامخ نه کتل. سلیمي صاحب وایي یوه ورځ چي ما نا څاپي د قصاب دوکان ته متوجه کړ، داسي عجیب حالت پر راغی، چي زه ئې پر خپلو کړو ډېر پښېمان کړم.

په دغه وخت کي د ده کورنۍ په اقتصادي لحاظ له ډېر افلاس سره مخامخ وه. وایي چي یو وخت خپلي مور راوغوښت او د ژوند شکایت ئې ورته وکړ او په دې ترخ کي ئې ورته وویل: "ته مي د ښې او توښې زوی یې خو په تا بیا دا کانه وسوه، چي له دنیا دي لاس پر سر سو". عبدالودود په

---

[۳۶] اروابناد محمد حلیم سلیمي د دغي رسالې د لیکلو پر وخت ژوندی وو. (م.هـ)

جواب کي ورته وویل: "ببو ! که ځان ښکاره کړم نو ته به د حبیبي مور سې (مقصد ئې علامه عبدالحی حبیبي وو). خو زه دا کار نه کوم، له شهرت څخه مي کرکه کېږي، په دغه اوسني حال قناعت وکه، خدای به ئې اجر درکړي".

میرزا عبدالودود هوتک په ونه (قد) میانه، غنم رنګه سړی وو، پر مخ ئې د کوي (چیچک) ناروغۍ داغونه پاته ول. سپین کندهاري کالي ئې اغوستل او د خاسې سپینه بګړۍ ئې تړله.

## مړینه او ویر ئې

میرزا عبدالودود هوتک په ځوانۍ کي په نري رنځ مبتلا سو او له دغي ناروغۍ څخه د ۱۳۶۶ هـ ق کال د جمادي الاول پر اووه ویشتمه د سه شنبې په ورځ په قمري حساب د پنځه دېرشو کالو او اته دېرشو ورځو په عمر وفات سو او پخپله پلرنۍ هدیره کي (حضرت جي بابا ته نزدې) ښخ دئ. خدای دې وبخښي. پر جنازه ئې ډېري اوښکي توی سوي، ویرني ئې په طلوع افغان کي خپرې سوي دي.

د وفات خبر ئې دطلوع افغان د ۱۳۲۶ هـ ش کال په ۲۵ مه گڼه=پرله پسې گڼه ۲۳۳۵ مه (یکشنبه، د حمل ۳۰/ ۱۳۲۶ هـ ش) کي په دې ډول خپور سو:

" قندهار: په ډېر حسرت سره مو اطلاع اخستې ده چه ورمه شپه پر عمل د ۲ نیمو بجو ښاغلی عبدالودود خان د طلوع افغان د ورځ پاڼې منتظم چه څه عرصه د سل په مرض مبتلا وو، وفات او د ماپښین پر ۴ نیمو بجو په داسې حال کښي چه د مرحوم د خپلوانو او علاقمندانو یوه لوی جمعیت ئې د جنازې مشایعت کاوه د خپلی کورنۍ په مقبره کښي دفن شو. اللهم اغفره!"

دوې ورځي وروسته د طلوع افغان په ۲۷ گڼه (سه شنبې د ثور ۱/ ۱۳۲۶ هـ ش) کي د ده د وفات په باب یوه اوږده لیکنه خپره سوه، چي دلته ئې ټول متن رانقلوم:(۳۷)

"عبدالودود خان د طلوع افغان مرحوم منتظم"

دی د مرحوم حاجی عبدالغنی خان هوتک مشهور په اکولالا زوی او د نیکه نوم ئې حاجی محمد عمر دی، مرحوم حاجی محمد اکبرخان هوتک چه یو نیم قرن پخوا د قندهار په معززو تجارو او سپین ږیرو کی یو عصری او مشهور بلکي ادب پروره تاجر وو د ده د پلار اکا، او د مور ئې پلار وو، چه د

---

(۳۷) د دغي لیکني نقل گران مطیع الله جان روهیال له طلوع افغان څخه رااخیستی دئ او زه ئې هم کټ مټ رانقلوم. (م. هـ)

ده مورنی نیکه (جد فاسد) کیږی.

عبدالودود خان په ۱۲۹۰ شمسي کی [۳۸] ولادت موندلی، او په سږ کال (۱۳۲۶) کښي د حمل په ۲۹ شپه [۳۹] د سِل په مرض د ۳۵ کالو په عمر وفات شو. د ده رسمي تعلیمات د رشیدی مکاتبو تر اندازې پوری وو، ځکه چه هغه وقت، لا په قندهار کی تر رشدیه لوړ مکتب نه وو موجود، نو د ده رسمی تحصیل پر همدغه ځای پاته سو، مگر د هغه علمی ذوق، او ادبی فطرت په اثر چه ده ته قدرت ورکړی وو وروسته د رشدی شهادت نامی تر اخیستلو چه دی او خپل ځان سره پاته سوه، همیشه د ځان په تکمیل، او د علمي و ثقافتي نیمگړتیا په جبیره خورا په سرگرمی بوخت وو. تل ئې پر خپل ذوق برابر اثار مطالعه کول، او خورا ښې ښې استفادې ئې په هره رشته کي کولې، او د علمي و ادبي معلوماتو ذخیره ئې وار په وار ډېروله. د مرحوم عبدالودود خان معلومات او د علمی سویې لو برخه د ده د خپل جد و جهد، او زیار و زحمت نتیجه وه. یعني وروسته د رشدی پروگرام تر تحصیل چه هر څه ده حاصل کړی وه ټوله ئې د مطالعې او خپلی ملکې په زور او مرسته حاصل کړی وه معلم یا استاد ئې نه درلود.

عبدالودود خان علاوه تر دې چه په پښتو کی یو پیاوړی لیکونکی وو او خورا خوندور قلم ئې درلود، او د مخصوص ادبی فکر او مستقل مبداء او ایده آل څښتن باید وبلل سي، په شرقي ژبو کې د عربی او اردو، او په غربی ژبو کی ئې د انگلیسی پر ترجمه تام اقتدار درلود او په ډېره اسانی سره ئې خپل احتیاجات څنې پوره کول. په دې درو ژبو کی چه ده په هره اندازه اقتدار موندلی او بې تکلیفه ئې تر عهده وتلای سوای، کم استاد یا معلم ئې نه پکښي درلود بلکي سبب ئې صرف دده خپل تېز فکر او دائمی پراخه مطالعه وه.

---

(۳۸) دغه کال سهي نه دئ. اروابناد میرزا عبدالودود په ۱۲۹۲ هـ ش = ۱۳۳۱ هـ ق = ۱۹۱۳ ع کي زېږېدلی وو. (م. هـ)

(۳۹) دغه نېټه په دقیق ډول د حمل ۲۸ مه = د جمادی الثاني ۲۷ مه او د اپرېل ۱۸ مه ده. (م. هـ)

عبدالودود خان مرحوم تقریباً په ۱۳۱۰ سنه کې د طلوع افغان د کاپي نویس په حیث مقرر شو، او په ۱۳۱۹ کی چه حروفی مطبعه تاسیس شوه د طلوع افغان په منتظمی موظف او په تېر کال کی د مامور مطبعه په حیث مقرر شو، تر نن ورځې پورې چی دې جریدې هرڅه معنوی او صوری رونق یا تطور موندلی او د مضامینو یا طباعت د خوا څخه مزایا او ښېګڼې موقع پر موقع پکښې لیدل سوي دي ده مرحوم پوره سهم پکښې درلود، او په هره توګه ئې د جریدې په آبرومندانه اشاعت او خپرونه کې زیار او زحمت یوست. دمضامینو ترتیب، او د اخبار تنسیق او تنظیم او حسن شهرت ته ئې ځان وقف کړی وو ، او خپله وظیفه ئې وجداناً په ډېر اخلاص او صمیمیت ادا کوله. ځان ئې د طلوع افغان او طلوع افغان ئې د ځان ګاڼه او ددې جریدې صوري او معنوي شرافت ئې لمړی آرزو، او د لویو مقاصدو څخه باله. په فکر، په دماغ، په زړه، په لاس، په ګوتو، په قلم او پخپلو ټولو نظري او عملی قواوو ئې ځان پکښې ستومانه کړی وو.

عبدالودود خان د طلوع افغان سره قلمی مرستی هم کولې، اقتراحی مضامین ئې طرحه کول او مشاعرې ئې میدان ته راا چولې پخپل قلم ئې ډېر مقالات لیکلی دی او د اخبار په ستونو کی خپاره سوی دی.

دی یو سړی وو چه د نوم و نشان خواهش ئې نه درلود، او د تظاهر څخه ئې بد راتله. په دغه واسطه دده ټول قلمی مضامین په اخبار کی د بل چا پنامه خپریدل یا به بې نامه نشر شول نو ځکه موږ نسو ویلای چه په طلوع افغان کی کم کم عناوین دده په قلم نشر شویدي خو فقط دغومره ویلای سو چه بې نامه مضامین په طلوع افغان کی زیاتره دده د خوا لیکل شویدی او دطلوع افغان د تېر کال ۱۳۲۵ په [۹] ګڼو یعنی د ۱۹۰ ګڼې څخه بیا تر [۱۹۸] ګڼې پوری د (نوو شعراوو سره دوستانه صحبت) تر عنوان لاندی په مسلسل ډول نشر شوي دي.

طلوع افغان: د مرحوم عبدالودود خان د خدماتو او ښې طولانې سابقې او صدقې مرستی څخه چه وظیفتاً او وجداناً د ده څخه لیدل کېده، او د ده د شخصی او ادارې حُسن اخلاقو ډېر قدر او تمجید کوي، او ددې خاطراتو په

عوض کې دده روح خوښ او خوشحاله غواړي او همېشه ئې د مغفرت پدعا یاده وې دغه رنګه د قندهار د مطبوعاتو مامورین او د ده اداری ملګری د ده په بیلتون متأثر، او د څښتن تعالی څخه مغفرت او بخښنه ورله غوښتې، دده ټولو اقرباوو په زیاته جناب عبدالطیف خان (لالکو) د مرحوم مشر ماما ته د صبر او تسلیت او اجر جمیل هیله د څښتن تعالی څخه کوی.

او وایي: اللهم اغفره ورحمه !!!"

*****

په طلوع افغان کي د میرزا عبدالودود هوتک د وفات پر وخت د ده د کورنۍ له خوا د ده مشر ورور (محمود) چي د دې رسالې د لیکونکی پلار وو، د (تشکر) تر عنوان لاندي داسي لیکلي دي:

"زما د مرحوم ورور عبدالودود خان د طلوع افغان د منتظم د وفات په مناسبت چه محترمو ذواتو غم شریکي فرمایلې د ټولو څخه په زیاته د ښاغلی فرقه مشر صاحب[۴۰] د حضوره څخه تشکر او د پښتو د فاضلو لیکوالو د همدردۍ او احساساتو څخه ډېر مشکوریم. (محمود)".

د کندهار د هغه وخت قادرالکلام شاعر اروانباد ملا رحمت الله بابا د میرزاعبدالودود هوتک مرثیه ویلې وه، چي دلته به ئې رانقل کړو.

## د مرحوم منتظم مرثیه

که تویوم نن توري ویني په قلم د ماتم
راله ښائیږي مرثیه د مړه زلمي په لیکم
مرګ په هر حال لري ارمان په تېره داسي وفات
چي ئې د برندي ځوانۍ ګل د مرګ په باد سو برهم
ښه قلمي ورور، ښه خلیق و با ادب وګړی
ښه هم مسلک د همکارۍ و ښه مؤنس و همدم

---

[۴۰] په دغه وخت کي د کندهار فرقه مشر علیشاه خان وو. (م. هـ)

په کتابت کښي ئې شعبه د مصحح وه ځکه
په امتیاز و په کمال، ښه مؤظف په رقم
نه ئې وه لوړه تقاضا نه تن پرور په عشرت
چي په ځوانۍ ئې نښتېځلی و د تن څخه غم
روح دې ساکن د علیین کاندي پاک رب الودود
چي مسمی ئې دی عبدالودود په عبد منظم
چاچي لیدلی دی هغه ئې ښه مني حُسن خُلق
په کمینۍ کښي ئې ځان کم ګاڼه د لوی و د کم
و اقرباوو ته ئې غواړي ښه عوض و صبر
د ده دپاره رحمت الله" بخښښ په فضل و کرم

*****

دغه لاندي ویرنه چي ښاغلي محمد ابراهیم خواخوږي[۴۱] ویلې ده، ما ته د نوموړي له خوا راکړه سوه او دلته ئې درجوم:

**مرګیه**

د هر چا زړه دي دئ شین کړئ ستمګار مرګیه
تنکي ځوانان کړې نیمه خوا اې لوی خونخوار مرګیه
غوتۍ لا خوله نه وي سپړلې په خندا و چا ته
ته پر یرغل کړې رژوې ئې په ناتار مرګیه
سپېڅلي خلک، پوه زلمیان کړې ته په ګور کي بندیان
ته وا زړه نه لرې چي وسوځې په نار مرګیه
افسوس افسوس عبدالودود زلمی دي بوتی له موږ
لیکوال، پوهان دي نن ویرجن او ناقرار مرګیه
ښه مصحح و د طلوع او و پخپله لیکوال
په ارمانجن زړه دي کی بېل اې بد کردار مرګیه

---

[۴۱] ارواښاد محمد ابراهیم خواخوږی د دغي رسالې د لیکني پر وخت ژوندی وو. (م.ه)

ډېر اخلاقي، حليم او پوه و کندهار محيط کي
تا د ځوانۍ پر دړه مات کی د انگار مرگيه
د زړه په وينه نن ليکمه مرثيه د دې دوست
څو نور ليکوال به دي هم پړ کړي لوی غدار مرگيه
ده له جنت له خدايه غواړم او خپلوانو تې صبر
زما خواخوږي دي زړه داغ کی سې داغدار مرگيه

د عبدالودود پر مړينه باندي يوې مېرمني هم په شعر کي څو اوښکي تويي کړي دي، چي څو بيته ئې زما مور په حافظه کي ساتلي دي او زه ئې د هغې له خولې دلته کاږم:

تر دنيا کوچ وکئ عبدالودود جان
د خواري مور پر زړه ئې پرېښو ارمان

تـر دنيا ولاړې ډېر سخي په خيرات
د فقيرانو دي کول ملاقات
په ظاهري دي چلول اخبارات
په اداره کي تـر تا نه و ښه ځوان

تر دنيا ولاړې ستا په مخ کي سفر
پر دين محکم وې پر ورتلې برابر
په ولايت دي هيڅوک نه وه خبر
عالم دي غرق وه په تهمت و بهتان

تر دنيا ولاړې وروره وې حقاني
يوه دي ږيره پـر سنت د نبي
بل دي نقاب و پر سپين مخ نوراني
په حقيقت سره وې دوست د سبحان

"قاري" مسکین سو ستا په شعر مبتلا
د دې بې صبري مور دي ډېره ژړا
معلومه دا ده چي "قاري" و شیدا
دا ستا په روی دي هر مشکل سي اسان[۴۲]

ارواښاد حاجي عبدالمجید هوتک (د میرزا عبدالودود ورور) ئې د وفات نېټه په شمسي حساب په "مغفور" کلمه کې چي د ابجد په حساب ۱۳۲۶ کېږي او په قمري حساب په "مجذوب خدای" کي موندلې وه، چي ابجدي قیمت ئې ۱۳۶۶ کېږي. د شمسي حساب تاریخي ماده ئې ما (معصوم هوتک) د نظم قالب ته داسي اړولې ده:

چي مرگی سو د عبدالودود مقدور
کور و کلی راته سو د غم تنور
د وفات تاریخ مي وپوښتی له ذهنه
راته وې ویله لفظ د ئ د "مغفور"

---

[۴۲] ددې شعر ویونکې مېرمن (بارکزۍ) نومېده او په سترگو مورزاده ړنده وه. مېرمن ئې حافظ شاه جهان د مولوي عبدالواسع اخندزاده (۱۳۰۸ ش شهید) له شاگردانو څخه وو. مېرمن بارکزۍ د خپل مېړه په کومک په نهه کاله کي قرآن مجید حفظ کړ ځکه ئې ځان ته (قاري) وایه. ډېره متقي او پرهېزگاره ښځه وه. د مولوي صالح محمد هوتک (۱۳۳۹ هـ ش مړ) د پښتو مثنوي زیاتره برخي ئې په یاد وې او د مولوي صاحب په مخ کي به ئې په ډېر حزین لحن ویلې. مېرمن بارکزۍ ما (م. هوتک) لیدلې وه. زموږ د کورکوچنیانو (ماشومانو) به "واوابېو" بلله او د دې هم دا نوم خوښ وو.

# د میرزا عبدالودود هوتک موندل سوي لیکني

## تاریخ متکرر دئ (۴۳)

د اریانا د شریفي مجلې په (۴) گڼه کي مي د محترم فاضل محمد قدیر خان (تره کي) په قلم د "تاریخ متکرر است یا متوالی" تر عنوان لاندي یو ډېر مهم مضمون ولوست. دا یوه مهمه او غوره موضوع ده. ولي؟ انسانان د حقیقت موندلو تږي دي نو هر هغه معلومات چي د انسانانو دا تنده ورماتوي یا اقلاً ورسړوي تر ټولو مهمه او غنیمت دئ.

دې پوښتني ته چي (تاریخ متکرر یا متوالي) مختلف اشخاص ډول ډول جوابونه ورکوي، زه هم غواړم چي په دې باب کي خپله نظریه وړاندي کړم، مگر په خپل مطلب تر شروع دمخه هغه دوې لویې نظریې چي د نړۍ پوهانو په دې موضوع کي څرگندي کړي دي او ښاغلي تره کي پخپله مقاله کښي هغه دواړه نظریې لیکلي دي، له نوموړي مقالې څخه په لنډ ډول رانقلوو، چي ښاغلي لوستونکي ښه په پوه سي.

---

(۴۳) ددغي مقالې تر خپرېدو وروسته اروابناد لوی استاد علامه عبدالحي حبیبي د کابل مجلې د ۱۳۲۲ هـ ش کال د اسد میاشتي په گڼه (۵ گڼه) کي د "پښتو او مطبوعات" تر سرلیک لاندي په یوه لیکنه کي د طلوع افغان په باب داسي لیکلي دي: "... که دا جریده خپلو نثرو مقالوته لږڅه توجه وفرمایی، ډېره به ښه وی،... مخصوصاً چه دوی په خپلو معاونینو کښي یو مقتدر لیکونکی لکه ښاغلی (ع. ل) هم لري... د ښاغلی (ع. ل) یوه خوږه او خورا خوندوره مقاله هم ولوستله شوه (تاریخ متکرر دی) یو خو د لیکونکی د نثر لیک پوخ او محکم او خورا قوی وو او بل د علم له خوا هم ډېر د ویسا وړ وو. له دی ښاغلی لیکونکی څخه تمنا کوو، چه هر کله دغسی پخې مقالې په نثر ولیکی او د طلوع افغان جریده، پخپل نثر لیکلو ښکلې وساتی..."

(د دغه نقل قول لیکدود د کتاب متن ته رانقل سوی دئ. م. هوتک)

لکه په نوموړې مقاله کې چې ليکل سوي دي په تاريخ کې دوې نظريې وجود لري يوه دا چې (تاريخ متکرر دئ او طبيعت ميل لري چې تل واقعات نوي او تکرار کړي). هغه علماء يا وګړي چې دا عقيده لري، هر کله چې په تاريخ کې د واقعاتو تر منځ مماثلت او ورته والى ويني نو هغه د خپلې عقيدې مصداق ګڼي. مثلاً د جرمني د مشر هټلر او د ناپليون حملې چې پر روسيه ئې کړي دي، د دې دواړو حملو د تاريخ، د حملې د ورځې، د جبهې د مقام او مواضعو او د حملې د نوعيت د مشابهت له مخې، ځيني وګړي دا وايي، چې تاريخ تکرار کېږي. د دوهمې نظريې تبنتنان وايي چې په تاريخ کې د تکامل ناموس تل کار کوي. کله چې يوه موسسه چې د زړو عواملو او اسبابو تر اغيزې لاندې را ايستلې سوې وې، بيرته سي طبعاً د هغې په عوض کښي دا ډول موسسه دربېږي چې د زمانې اړتياوې ئې ايستلې (رفع کړي) او انسانان له هغې څخه ګټه مومي او که چيرې ئې د بيرته سوي موسسې په خرابو کښي دوهمه پلا د مخنى تاداى (تهداب، م. ه) واچول سي ځکه چې د تکامل ناموس د هغه څخه مخالف دئ نو دا موسسه د استفادې نه ده او په دې واسطه چې د تکامل د ناموس سره نقيض ده، ژر به له منځه واخيستل سي.

ګوستاولوبون وايي: "رنسانس يوائې د څورلسمي پيړۍ د صنعت والو د متفکرينو له دماغ څخه نه دئ پيدا سوئ بلکي په (۹) پيړۍ د شارلمان په عصر کښي د هغه اساس ايښوول سوئ و، سمدلاسه لويېدى څو په (۱۴) پيړۍ کې د ورايه ښکاره او څرګند سو".

د دغه علماوو په نظر کښي د تاريخ هره دوره د مخنۍ دورې په اوږه منځ ته راغلې او وار په وار ئې دا لويه ودانۍ چې تاريخ ئې بولي تکرار کړې ده. يعني هره واقعه چې نن پيښيږي، دا لکه واښه يا درخته ده، چې تخم ئې پرون کرل سوی وو، نو تاريخ متوالي دئ متکرر نه دئ.

دا وې د تاريخ په موضوع کښي دوې لويې نظريې. د ښاغلي تره کي په نظر کښي هم تاريخ متکرر نه دئ او هغه چې تاريخ متکرر معلوموي تقريباً تامه اسباب او علل دي، چې د داسي واقعاتو سبب ګرځېدلي دي، چې

پخواني هم د غسي يا په دغه ډول واقعات په تاريخ کښي پېښ سوي دي.
زموږ په نظر کښي تاريخ متوالي نه دئ او هغه چي تاريخ متوالي ښرگندوي د نوو اسبابو او عللو وجود دئ، چي د نوو واقعاتو او نتايجو مسبب گرځېدلی او د تاريخ په تکرر ئې مخ اغوستی دئ. يعني تاريخ تر يوه لايتغيره قانون لاندي په داسي ډول چي ظاهراً شکل ئې متوالي دئ، تکرار کېږي او کله کله د تاريخ دا تکرار د هغه متوالي له ترڅ (خلال) څخه له ورايه مشاهده او محسوس کېږي (لکه لومړی او دوهمه عمومي جگړه) مثال ئې داسي دئ لکه لمر چي په اوريځو کښي پټ وي او کله کله ئې د اوريځو له منځه وړانگې برېښي.
د علم له مخي د کائناتو هره ذره په مطلق ډول تر يوه معين او لايتغير قانون لاندي ده. کائنات هم ځان ته مستقل او لايتغير قانون ايجاب کوي. د قانون ظاهري تصوير د دايرې په ډول دئ چي يو ثابت مرکز، معين محيط او مدار لري. يا په بل عبارت قانون که هر څومره په جريان او نفوذ کښي ولوېږي بېله تکراره بله نتيجه لاس ته نه راځي. قانون لکه د قند جوړولو ماشين داسي دئ، چي هر ډول مختلف مواد ور واچول سي خواږه او ترخه او تفاله ئې سره بېلوي او که څو واره دا عمل تکرار سي نتيجه ئې هغه يوه يعني تکرار ده.
د دې دپاره چي دا پورتني مطالب ښه واضح سوي او هم د تاريخ تکرار زياتوالی د تاريخ موضوع، ناموس تکامل او نور داسي اصطلاحات او معناوي چي د دې موضوع سره اړه لري او په دې مقاله کښي ذکر سوي دي په ښه ډول ښرگند سي موږ دلته يو مثال راوړو:
يو مامور د خپل ماموريت په چوکۍ ناست دئ. دی تر معين قانون لاندي تر معين وخته پوري معينه وظيفه لري قانون و ده ته مکافات ايښي دي. ده ته هره ورځ نوي نظريې، نوي فقرې چي د ده له وظيفې څخه وتلي نه وي د حل دپاره وړاندي کوي (يعني نوي اسباب او علل ورپېښېږي) د خپلي وظيفې پر اجرا او د قانون پر مراعات سربېره له دې نوو اسبابو او عللو څخه د مامور په ذهن کښي ځيني نور افکار هم چي له قانون څخه مخالف بلکي د

هغه سره نقيض دي، پيدا کېږي چي د مامور د نورو حرکاتو او لويو حوادثو د ظهور سبب گرځي. دا نوي حوادث خيانت، سهل انگاري، رشوت، طرفداري، غيرحاضري او داسي نور له قانون څخه مخالف حرکات دي. (دا واړه حوادث يعني له قانون سره سم يا مخالف حوادث يا په بل عبارت د مامور کسب گواکي د تاريخ د موضوع په څېر دي). د مامور د کسب له مخي و ده ته سمدلاسه قانوناً مکافات او مجازات ورکول کېږي. د قانون د مراعات په صورت کښي تشويق او ترغيب، د معاش تزئيد، د رتبې لوړتيا، د خوښۍ اظهار او... بالعکس د قانون د مخالفت په صورت کښي کسر معاش، طرد، د رتبې تنزيل او بالاخره په نور ډول ډول مجازات سره محکوميت ورکول کېږي بالنتيجه د دې ډب و اخ د دوام او جريان په ترڅ کښي د مامور تجربه حاصلېږي او فکر ئې انکشاف مومي (دلته د نړۍ د پوهانو په عقيده گواکي د تکامل ناموس کار کوي)، څو بيرته مامور د قانون احترام کوي او هغه ته په خورا درنه سترگه گوري او له مخالفت څخه ئې تل ځان ژغوري يا په بل عبارت مامور لکه لومړۍ ورځ چي ساده او صادق ادارې ته راغلی وو، بيرته پر هغه خپله ساده گلوۍ او صداقت دربېږي يا دا چي د قانون د زيات مخالفت په صورت کښي به دی طرد دايمي يا په اعدام وي...

اوس نو وگورئ تر څو چي په نومورې اداره کښي قانون حکمفرما او نافذ وي د نوو اسبابو او عللو وجود چي سمدلاسه نوي واقعات او نتيجې ځني پيښېږي آيا بې له تکراره بله معنی لري؟

دلته يوه بله خبره هم منځ ته راولېږي چي که څه هم د اصلي موضوع څخه وتلې ده ليکن چي د هغه سره ربط لري موږ ئې ليکو او هغه دا چي پوه او متفکر مامور خپلو اطرافو او شاوخوا ته هم متوجه کېږي او دقت پکښي کوي، دی و خپل سرميزي ساعت ته چي مخې ته پروت دئ په ځير گوري او د هغه ټکه هار په يوه معنی داره صورت اروي چي په څه ډول ئې هره ثانيه او بيا هره دقيقه وروسته هر ساعت تکرارېږي... او داسي نور په زرو مثالونه...

بالاخره په داسي شیانو کښي تر غور او دقت وروسته دې نتیجې ته رسېږي چي د طبیعت په ظاهر کښي یو د (تکرار قانون) ومني وروسته دا قانون د طبیعت د باطن سره په هغه ډول لکه دمخه چي وویل سول، تطبیق کړي او دا کلي نتیجه ځیني راباسي چي د نړۍ کارونه تریوه معین او لایتغیر قانون لاندي چي فلسفه ئې ځینو وګړو ته لا ښه نه ده معلومه، تکرار کېږي.

موږ لوړ مهم مثال چي په هغه کښي زموږ ټول مطالب په خورا وضاحت ذکر سوي او د تاریخ د تکرار مسئله له ورایه ځیني ثرګندېدله، راوړ، که څه هم هغه مثال عین واقعه ده، سره له هغه موږ ئې د مثال په ډول فرض کوو او د هغه له مخي اصلي مطلب ته رجوع کوو. لکه نوو تحقیقاتو چي هم ثابته کړېده له اټوم ثخه نیولې بیا تر لویو سماوي منظومو پوري، پر یوه ثابت مرکز، معین مدار باندي په لایتغیر ډول د دایرې په شکل حرکت او ګردش کوي. دایروي شکل او پر معین مرکز او مدار باندي بې له تغیره پرله پسې حرکت یو لوی دلیل دئ، چي حقیقت د تکرار ځني ثرګندېږي، هر کله که د نړۍ پوهان او د علم تښتنان دې نکتې ته متوجه سي چي ټول سماوي اجرام او منظومې دَوّار دي (ثرخي)او هم فکر وکړي چي حتی زموږ د ژوندون د ډګر (یعني کره ارض) اساس په لوی سر کي پر وضعي او انتقالي حرکاتو (دایروي ګردش) ولاړ دئ او له بلي خوا دا حقیقت ومني چي هر څه چي صورت (ظاهر) کښي دي هغه په معنی (باطن) کي دي نو په زغرده به دا فیصله وکړي چي زموږ مځکه بلکي ټوله سماوي اجرام معناً هم تر یوه لایتغیر قانون لاندي دغسي معنوي حرکت کوي او په دې دلیل تکرار کېږي.

دا قانون چي د ټول کائنات په ظاهر او معنی کښي بې له کوم تغیره جاري او ساري دئ او د هغه له مخي تکرار کېږي (قران عظیم الشان). تاریخ څنګه تکرار کېږي؟ دا مسئله د اجتماعیاتو او علومو سره نه بلکي په دینیاتو سره ښه حل کېږي. د اصولیینو[۴۴] دا وینا چي "تر عین شرایط

---

[۴۴] اصولیون هغو کسانو ته ویل کېږي، چي د نقلي علم مطالب په عقلي دلایلو ثابتوي. (م.ه)

لاندي عين واقعات او نتيجې ښکاره کېږي" بالکل حقيقت او له نقل سره موافق ده. د مثال په ډول هغه حوادث چي د عاد، ثمود قوم، صالح قوم، نوح او ... باندي ورغلي دي او هغه اسباب او علل چي د دغو حوادثو سبب گرځېدلي دي که د حقيقت په سترگه ورته وکتل سي دا ټول يو له بله مماثل او مجانس دي يا په بل عبارت دا ټول عين شرايط دي چي عين نتيجې پر مرتبې سوي دي او همدغسي به تر يوم القيامه پوري دغه قانون جاري وي منتها دومري ئې فرق دئ چي د دغو اسبابو او عللو او د هغوی د واقعاتو او نتيجو ظاهري شکل متوالي دئ. سره له هغه چي ومو ويل د دغه توالي په ترڅ کي کله کله د تکرار روڼا هم له ورايه برېښي.

(... وارسل عليهم طيراً ابابيل ترميهم بحجارة من سجيل...) د دې ايت شريف تاويل يوه روښانه هنداره ده چي د فکر او بصيرت تښتنان د تاريخ تکرار پکښي ويني...

(پای)

*****

## انسان څوک دئ؟[۴۵]

د ډُربې ورځ ده، د شپې ښه باران سوی دئ او مځکه ئې ټوله چکړ کړېده. د ژمي سړه هوا ده، سړي ټوله په خپلو چارو کښې ساړه ساړه ليدله کېږي. بېکاره وګړي په تودو صندليو کښې ناست دي او د خپل ساتېري دپاره ئې يوه مشغولا جوړه کړېده. ما هم خپله چاره تر سره کړه نو راغلم په صندلي کښې وغزېدم. سات مي نه تېرېدی شاوخوا مي وکتل د ميرزا خان انصاري دېوان پروت وو، راوامي خيست او وار له واره مي پر دغو بيتو سترګي ولګېدلې چي:

د دنيا په چارو هر سړی عاقل دئ
چي سړی په سړي کېږي عقل بل دئ
د هغه جهان معنا دلې سازېږي
چي سل سل نادان په هيڅ دانا په سل دئ

وروسته مي په يو بل مخ کي دا بيت ولوست:

يو الف ئې تفاوت شو دا کبير هغه اکبر دئ

ميرزا خان انصاري (د قندهار)[۴٦] يو لوی عالم او متصوف تېر سوی دئ، چا چي د ده دېوان لوستلی وي ورمعلومه سوې به وي چي دېوان ئې سر تر پايه د "وحدت الوجود" په مسئلو ډک دئ.

زه کوم اديب نه يم، چي د دې پورتنيو بيتو په ادبي نزاکتو کښې ورږغېږم. خو د دې بيتو له لوستلو مي ځيني افکار په زړه کښې راغلل چي دلته ئې وړاندي کوم.

---

[۴۵] طلوع افغان، ۱۳۲۱ هش، د ۵۷ مي ګڼې څخه تر ۷۰ ګڼې پوري پرله پسې.

[۴٦] ميرزا خان انصاري ئې ځکه "د قندهار يو لوی عالم او متصوف" بللی دئ، چي نوموړی د نورالدين زوی او د بايزيد روښان لمسی وو. وايي چي د بايزيد روښان نيکه ګان (نيکونه) له کندهاره د وزيرستان کاڼي ګرام ته تللي او هورې ميشته سوي ول. (وګ: حبيبي، عبدالحی (پوهاند)، د افغانستان لنډ تاريخ، د عبدالرؤف بېنوا پښتو ژباړه، ۳۲۵ مخ، ۱۳۵٦ هش، کابل. (م.هـ)

څه وخت د مخه مي په یوه مجله کښي د (میکر و مکس)، (یا عالم صغیر) تر عنوان لاندي یو ترجمه کړی مضمون لوستلی وو. د مضمون اصلي لیکونکی چي یو اروپایي دئ په دې خپله مقاله کي ئې ځیني هغه عناصر او فلزات ذکر کړي وه، چي د انسان (یعني عالم صغیر) ظاهري صورت ځني مرکب دئ او چي د دې موادو اصل په (عالم کبیر) کښي ډېر سته. (نه پوهېږم چي د عالم صغیر علمي اصطلاح دې سړي له کومه ځایه زده کړې ده؟).

بله ورځ مي د خپل یوه ملګري مضمون ولید، چي د (انسان څوک دئ) تر عنوان لاندي ئې لیکلی او په هغه کي ئې (د کلکي ارادې) په شاوخوا کښي اشاره کړې وه. دغه ډول د ځان پېژندلو او انسان پېژندلو په خصوص کښي مي نور مضامین هم تر نظر تېر سوي دي. زموږ د لیکوالو (اول زه) د دغو مضامینو په نسبت، چي د انسان په باره کښي ئې لیکو، د هلکو هغه لاسي کارونه را په یادېږي چي له موم څخه یو شکل جوړ کړي او د لاس او پښو پر ځای باندي څلور خاشې ورکړي. بس نو انسان جوړ سو! او دی نو په خوښ وي چي پوره انسان ئې جوړ کړی دئ.

موږ چي کوچنیان وو، په کتاب کښي به مو لوستل چي (احمد، محمود وواهه). زما به تل د دې جملې له لوستلو څخه په زړه کي ګروم وو او له ځانه سره به مي ویل: احمد نو څه حق درلود چي محمود ئې واهی؟ آیا انسان یوازي د وهلو دپاره پیدا سوی دئ؟ د کوچنیوالي خیالات وه، هر څه چي به مي فکر وکړ د احمد د دې اقدام په باره کښي مي هیڅ وجه نه سوای موندلای. په آخر کښي به مي په دې دلیل زړه ښه کاوه چي ښایي محمود به د احمد بجلي غلا کړي وې او د هغه جهته به احمد راولاړ سوی وو او محمود به ئې مضبوطه ډبولی وو. مګر اوس لږ څه وپوهېدم، چي زما هغه خیالات تر کومي اندازې پوري محدود او ناقص وه؟

دا یوه خورا مهمه پوښتنه ده او حقیقتاً باید په ټولو پوښتنو کښي د (انسان څوک دئ) پوښتنه د مخه وي او په ټولو پېژندګلیو کښي باید د (انسان) پېژندګلوۍ ته ترجیح ورکړه سي. زموږ څېړني، پلټني، کشفیات او زیار باید د انسان په باره کښي وي او بالآخره موضوع باید د انسان موضوع وي.

ولي چي تر ټولو لوی مقصود، چي تر هغه نو لوړ مقصود نسته، د (سعادت) موندل دي (چي د اسلام په ژبه ئې د څښتن تعالی د رضا حصول بولي او په نورو ژبو کښي چي هر څه ورته وايي) دا لوی نعمت (يعني حقيقي سعادت) يوازي د انسان په برخه دئ او هم د انسان په ذريعه لاس ته راوستل کېږي.

لنډې دا چي هر څه چي مقصود دئ، هغه په انسان کښي پټ پروت دئ او پخپله دی ئې د موندلو واسطه دئ. اوسني انسانان د لوړو خيالاتو او روښو افکارو له مخي مخصوص امتياز لري. ولي په دنيا کښي که افلاطوني افکار وه او که د ارسطو يا بوعلي سينا افکار وه او که د آسماني اديانو او شرائعو هدايات او ارشادونه وه، يعني هر څومري انبياء، اولياء، علماء، حکماء او فلاسفه چي په دنيا کښي تېر سوي دي د هغوی ټول افکار او خيالات ذخيره پر ذخيره و اوسنيو انسانانو ته پاته سوي دي او د اوس وخت انسانان د لوړو افکارو له لامله خورا بډايان دي، چي تر دې زياته فکري (علمي) بډايي ممکنه نه ده.

نن ورځ يو معمولي انسان هم په دې ښه پوهېږي چي (انسان اشرف المخلوقات دئ) او دا خبره هر چا ته څرګنده ده چي (د انسان شرافت په علم او ادب سره دئ). په اوس وخت کښي د دې خبري و اثبات ته هيڅ احتياج نسته چي (انسان جامع د ټولو مخلوقاتو دئ)؟ يا (هر چه در عالم است در آدم است). اوسني انسانان په دې ښه پوهېدلي دي چي : "په نړۍ کښي هيڅ کار بې حکمته نه دئ" او لکه دوی چي عقيده لري د طبيعت ټولي چاري او ټول قوانين، اتم او اکمل دي، مثلاً حيوانات بايد دغسي شکلونه او کارونه او دغومري اقسام ولري، لکه چي دي. نباتات او د دوی اشکال او انواع پر دغه خپل حال درست او معقول دي. لمر دي دغسي ځلانده ډېوه وه، خېژي او لوېږي دي او داسي نور مثالونه...

بالاخره انسان دي دغسي انسان وي، لکه چي دئ (مګر ځکه چي انسان د عقل او اختيار تبښتن دئ نو دا نه ويل کېږي چي انسانان دي دغسي يو له بله سره وخوري او سره مړه دي کړي او که چيري داسي هم وويل سي نو په دې

اعتبار به وي چې: انسانان چې د "ارتقا" د منزل و خوا ته تلونکي دي، و دې منزل مقصود ته نه دي رسېدلي، بلکي تر اوسه لا پر لاري دي).

نو هر کله چې انسانانو ته دغو مري لار او ليکه معلومه سوېده، بايد د انسان په خصوص کښي هم پخپله د دوی له خوا فيصله وکړه سي او د دې پوښتني پر ځای چې: "انسان څوک دئ؟ " ښايي داسي ووېل سي چې: "انسان بايد څه ډول وي؟ ".

په تېره ګڼه کښي مو ليکلي وه، چې د انسان دپاره تر دې زياته (لکه چې اوس ده) علمي بډايي ممکنه نه ده. دا خبره ظاهراً نه منونکې معلومېږي، ولي چې په نړۍ کښي سمدلاسه نور نوي علوم او علماء منځ ته راغلي دي او هم راځي. د دې پوښتني جواب به په را وروسته ليکو کښي پخپله څرګند سي او هم مو ليکلي وه چې ښايي دا مسئله پخپله د انسانانو له خوا فيصله سي، چې (انسان بايد څه ډول وي؟) د دې پوښتني جواب هم اوس ګران دئ. ولي تر څو چې انسانانو په پخوانيو علومو کي صحيح فکر نه وي ځغلولی او له هغو څخه ئې حق او باطل نه وي بېل کړي، د انسان حقيقت ئې ځان ته نه وي معلوم کړی، نو د انسان د څه ډول والي په باره کښي به څنګه فيصله وکړي؟

دمخه تر دې چې پخپل مطلب شروع وکړو، دا څو مخکينۍ خبري چې زموږ د مطلب سره ربط لري ذکر کوو:

"انسان تل پخپل ځان کښي او هم تر ځان دباندي يو بې انتهاء عالم او قسم قسم پيداوي ويني، او تل ئې هڅه ده چې دا عالم وپېژني او وئې موندي. د نړۍ ټول عقلي علوم او علماء په حقيقت کښي د همدغه تحريک په اغېزه منځ ته راغلي دي، نو کله ئې و ځان ته پام سوی دئ او کله ئې جهان ته توجه سوېده. څو په راوروسته کښي په دې ټولو علومو کښي او د دې ټولو علماوو تر منځ دا څبره منلې سوې ده، چې لومړی بايد انسان وپېژندل سي. لکه چې په دې خصوص کښي ئې خپل عقلونه هم ځغلولي، نوي علوم او مسلکونه ئې را ايستلي دي".

په دې ضمن کښي اسلامي علوم هم ځکه چې د دې موضوع يعني (انسان شناسۍ) سره پوره اړه لري بلکي د دغه مقصد او د انسانيت د

تکمیل دپاره ګټل کېږي نو دا علوم هم د موضوع د یووالي په نسبت د عقلي علومو سره یو ځای بلل کېږي او ټول د (علومو) تر عنوان لاندي راځي.

که د پخوانیو او اوسنیو علومو په کتابو کښي په غور وکتل سي له ورایه دا حقیقت ځني څرګندېږي چي د انسان شناسۍ (بلکي د عالم شناسۍ) په باره کښي اسلامي علوم و حقیقت ته خورا نژدې دي، چي تر اوسه پوري خلاف له هغه کرټ نه دي مشاهده سوي او نه به تر ابدالابده پوري خلاف له دې علومو واقع سي.

په اسلامي علومو کښي تر ټولو آسانه او جامع کتاب چي د (انسان) بلکي د (ټول عالم) موضوع ئې له هري خوا په ښه ډول څېړلې او دا معما ئې نسبتاً حل کړېده او په دې خصوص کښي ئې ټول شکوک او شبهات رفع کړي دي، بیان ئې هم و عقل ته نژدې دئ او هم د قرآن او احادیثو سره پوره موافقت لري، د حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمة الله علیه مکتوبات شریف دئ. (چي لیکونکی ئې تل مطالعه کوي). د دې کتاب خلاصه او لب لباب دا دي:

د دې کتاب خلاصه په دوو لنډو مقدمو او یوه خلصه خاتمه کښي ذکر کېږي:

**لومړی مقدمه یا انسان ته عمومي اجمالي کتنه:**

انسان یو مخلوق دئ، چي د خپل خالق جل جلاله له خوا د امتحان او عبادت دپاره پیدا سوی دئ. ده ته عقل، اختیار، د ښو او بدو علم، ښه ښه نعمتونه او د مځکي د ټولو شیانو تسخیر ورکړه سوی او په داسي ژوندون امر سوی دئ، چي هغه له یوه مخه د ده خپله ګټه او خیر دئ. مګر انسانانو پر دې ټولو سربېره د خالق جل جلاله نافرماني کړې ده او د صحیح ژوندون پر ځای ئې داسي بده لار غوره کړېده چي هغه له یوه مخه د ده دپاره شر او نقصان بلل کېږي، یعني انسانانو خپل سرنوشت پخپله نه سوای فیصله کولای. لکه چي په نړۍ کښي داسي انسانان پیدا سول، چي د خدای دعواوي ئې وکړلې، داسي قومونه منځ ته راغلل، چي خپل اولادونه به ئې وژل، یا به ئې په مځکه کي ژوندي ښخول، بالاخره انسانانو ظلم او فساد و انتهاء درجې ته ورساوه. په مقابل کښي د ښتن تعالی رحم او عدالت مداخله کړې، وقتاً فوقتاً ئې خپل رسولان او پیغمبران د انسانانو د هدایت او لارښوونې دپاره رالېږلي دي،

چې په نتيجه کښې به ځينو انسانانو د خپل عصر د پيغمبر په وخت کښې د ده متابعت وکړې او ها نور به بيرته کړېږ لاري ته واوښتل. څو په را وروسته کښې محمد ﷺ د اسلام د اکمل دين سره د انسانانو د آخري سرنوشت د معلومولو دپاره راوليږل سو. د اسلام دين يو آسماني قانون دئ، چې په هغه کښې د انسانانو آخري او حقيقي سرنوشت فيصله سوى دئ. چا چې دا قانون ومانه او عمل ئې په وکړ ابدي نجات ئې وموند او هغه چې نه ئې ومانه په ابدي فلاکت او خسران کښېووت.

**دوهمه مقدمه، (عالم صغير) او (عالم کبير) يا کوچنى عالم او لوى عالم:**

دا دوې کلمې د متصوفينو له مهمو اصطلاحاتو څخه ګڼلي کېږي. دوى په خورا زيار دا حقيقت معلوم کړې او دا خبره ئې اثبات ته رسولې ده، چې انسان هم يو کوچنى عالم دئ او هر هغه شى چې په لوى عالم يعني تر انسان دباندي عالم کښې موجود دئ د هغه انموذج يا يوه يوه نمونه د څښتن تعالى په قدرت په انسان کښې ايښوه سوې ده چې دې مجموعې ته (عالم صغير) ويل کېږي. د مثال په ډول دا څلور مواده يعني خاوره، اوبه، هوا او اور، چې په عالم کبير کښې موجود دي، دغه ډول په عالم صغير کښې ئې هم يوه يوه نمونه سته او داسي نور... (د عالم صغير د جزئياتو ذکر يعني دا چې دا عالم له کومو شيانو څخه تشکيل سوى دئ په دې ځاى کي نه ځائېږي). ګواکي عالم کبير تفصيل دئ او عالم صغير د دې تفصيل اجمال دئ. عالم کبير اصل دئ او عالم صغير د دې اصل اجزا دي.

عالم کبير او عالم صغير يو له بله سره تطبيق کول او د دې بې انتهاء عالمو په ټولو جزئياتو او تفاصيلو ځان خبرول، بالاخره د دې دواړو علوم او معارف حاصلول، خورا ګران دي، بلکي اجمالاً پوهېده ئې هم مشکل دي، په دوى کښې ځيني شيان دي چې د عقل او فراست په رڼا سره هم معلومېدلاى سي، لکه دمخه چې مو مثال ووايه، ليکن ځني نور شيان بيا هم پکښې موجود دي چې عقل قطعاً لار نه ورته لري، بلکي دا علوم د اسلاميت په رڼا حاصلېدلاى سي (لکه "لطائف عشرۂ انسانى" چې په يقيني ډول ثابت سوي دي) چې هغه هم د عوامو، خواصو او اخص الخواصو درجې لري.

عالم صغیر په دوو شیانو کښي د عالم کبیر سره فرق لري او هم دغه دوه شیان د عالم صغیر د مزیت او ښېګڼي سبب ګرځي:

لومړی دا چي دا عالم (وحداني هیئت) لري، یعني ټول هغه متضاده عناصر چي په دې عالم کښي ایښوده سوي دي، د څښتن تعالی په قدرت سره د دې ټولو ضدیت یو له بله مات سوی او یو (انسان) ځني تشکیل سوی دئ. بل دا چي په دې عالم کښي د شعور ملکه موجوده ده، چي د هغې په ذریعه د هر ډول ظهوراتو او تجلیاتو په نسبت، شعور موندلای سي او هم دغه شعور د ده د بې انتهاء ترقیو او لوړتیاوو سبب دئ. د دې ښېګڼو په درلوولو سره عالم صغیر ته د اشرف المخلوقات او د څښتن تعالی د خلیفه نسبت سوی او په دیني تکالیفو مکلف سوی دئ.

بالعکس په عالم کبیر کښي دا جامعیت مفقود دئ. ځکه نو هغه له ترقیه پاته دئ.

د تقسیماتو له مخي (عالم کبیر) پر دوو برخو وېشل کېږي:

عالم خلق- عالم امر (الا له الخلق والامر "الآیه"). چي په عالم صغیر کښي هم د دې دواړو اجزاء موجود دي، مثلاً د انسان جسد له عالم خلق څخه دئ او روح ئې له عالم امره.

دې دواړو عالمو (یعني کبیر او صغیر) او د دوی و اقسامو یعني (خلق، امر) او هم (اصول او اجزاو) ته ئې (عالم امکان یا دائرهٔ امکان) وایي.

وروسته دائرهٔ وجوب یا د څښتن تعالی اسماء، صفات او ذات شروع کېږي چي په مجهول الکیفیت ډول سره پر ټول عالم امکان محیط دئ او هیڅ انتهاء نه لري او هم دا عالم ئې مظهر ګڼل کېږي.

(یادونه: د ښاغلو لوستونکو څخه هیله کېږي، چي دا مهم بیان چي د اصلي موضوع په پوهېدلو کښي بشپړه مرسته کوي، په خورا غور او دقت ولولي. ع.ل).

**خاتمه او نتیجه:**

د څښتن تعالی ذات مطلق خیر او کمال دئ. بالعکس په نورو کائناتو (عالم امکان) کښي دا ښېګڼي نه دي موجودي، بلکي هلته له یوه مخه شر او

نقص موجود دئ. دا عالم په لوی سر کښې هيڅ ذاتي حسن نه لري، که څه هم ښه والی يا حسن پکښې ليدل کېږي دا ټول عارضي او عاريتي شيان دي، چې د وجوب له مرتبې څخه د ظليت او مظهريت په توگه پکښې تعبيه سوي دي. مثلاً د بنده علم او قدرت د څښتن تعالی له علم او قدرت ته مستفاد سوی دئ، بنده پخپله جهل او عجز لري (که څه هم د څښتن تعالی صفات د بنده له صفاتو سره هيڅ مناسبت او مشابهت نه لري). نو انسان ئې د دې دپاره پيدا کړی دئ چې د څښتن تعالی تر ذاته پوري يو علمي سير وکړي، يعني خدای ﷻ وپېژني او د ده په احکامو عمل وکړي، قرب ئې حاصل کړي چې په نتيجه کښې به له نقص او شرارته راووزي، خير او کمال ته به ورسېږي.

دې مقصود ته د رسېدلو دپاره لومړی د مشق تخته پخپله خپل ځان (يعني عالم صغير) دئ، چې هغه بايد وپېژني. وروسته دا نور مخلوقات (عالم کبير) او په پسې د څښتن تعالی پېژندل دي.

چې په دې ډول نو د ځان، مخلقو او خدای تعالی سره د انسان معامله پيدا کېږي، او همدغه معامله لرل د اسلاميت اساس گڼل کېږي. حقيقي مسلمان هغه دئ، چې دا درې واړه يعني ځان، مخلوق او خالق ﷻ او د دوی حقوق وپېژني او په ښه ډول ئې ور ادا کړي. د اسلام ټول دين په لوی سر کښې په دغو درو اساسونو کښې راغونډ کړه سوی دئ.

د دې کتاب خلاصه بيان تر څو چې زموږ فهم او ادراک کار کاوه او څومري چې زموږ د موضوع سره ئې ربط درلود، په پورتني ډول را نقل کړه سو.

که څه هم د دې خلاصه مطلب له لوستلو څخه لکه د مقالې په سر کښې چې مو ويلي وه، چې (د انسان شناسۍ يا عالم شناسۍ په باره کښې حضرت مؤلف رحمة الله عليه تر ټولو معقول او په حقيقت پوري بيانونه ليکلي دي) زموږ موضوع به په ښه ډول څرگنده سوې وي او ښاغلو لوستونکو ته به هم حقيقت معلوم سوی وي. سره له هغه ځکه چې دا مطالب لږ څه متفرق وه، دلته په څو ليکو کښې و هغه ته څه شرحه ورکړې نو بيرته خپل اصلي موضوع ته رجوع کوو:

عالم امکان يو بې انتهاء بحر دئ، انسان يو ضعيفه مخلوق دئ، چې د دې بحر په منځ کښې لوېدلی دئ لاس او پښې ښوروي غواړي چې حقيقت يا

په بل عبارت د نجات ساحل ته ځان ورسوي. د اسلام دين يوه لنډه او محفوظه لار ده چي د نجات تر ساحله پوري وتلې ده، بله نو هيڅ يوه لار نسته، شريعت بېړۍ ده. انسان کولای سي چي د دې لاري په تعقيب کولو سره ځان و ساحل ته ورسوي. که نه وي تل به په فلاکت و خواري لړلی وي...

سير او سلوک چي د متصوفينو په اصطلاح کي راغلي دي هم له دغه علمي سير څخه عبارت دي، چي د اسلامي احکامو او آدابو په کامل متابعت سره ئې دوی حاصلوي. د دغه علم د حصول په نتيجه کښي نو د عالم امکان د معنوي دولت په تشکيلاتو او د هغه په اسرارو خبرتيا موندي او له هغه سره سم ژوندون کوي.

زموږ تېر بحث خورا لوړ او مطالب ئې هم گران وه. مگر تر دې وروسته مسئله ډېره دلچسپه او خوندوره کېږي په غور ئې ولولئ.

هر کله چي دا پوښتنه وسي چي (انسان څوک دئ؟) نو لازمه ده چي هغه ټول آراء، نظريات او عقايد چي د پخوانيو او اوسنيو پوهانو له خوا په دې باره کښي څرگند سوي دي د دوی د دلائلو سره سم دلته ذکر کړه سي، مگر دا زموږ له لاسه نه ده پوره. په هر صورت لکه د مخه چي وويل سوه دا نظريات له دوو حالو خالي نه دي، يا به دغه اسلامي حقايق وي يا به له دې پرته نور عقلي علوم وي، خو مطلب دلته دئ، چي دا علوم تر کمي اندازې پوري حقيق ته نژدې ثابتېدلای سي.

د دې دپاره چي پورتنی مطلب ښه وفهمول سي دلته يو مثال ورته ذکر کول کېږي:

"کائنات (عالم امکان) يو ښکلی باغ دئ، چي په هغه کښي ډېر ښکلي گلان، قسم قسم مېوې، ډول ډول وني او درختي، ښې ولې، خاچوڼي او نور رازراز شيان پکښي موجود دي او انسانان ئې په ننداره راوتلي دي.

ځيني وگړي دي چي د دې باغ د دروازې په خوله کښي وار له واره و کوم بوټي ته محوه تللي دي نور باغ ئې هېر دئ، ها بل بيا لږ څه ور تېر سوی دئ و يوه گل ته هېښ پېښ ولاړ دئ، چا و چا د باغ په ونو کښي د خاچوڼي وزړه وړونکي ږغ غوږ نيولی دئ، ځيني نور د اوبو د شرهارو ننداره کوي، ها نور

بيا د ونو له مېوو څخه خوند اخلي. څوک د باغ پر خيابانو او سړکانو ګرزي، الغرض هره ډله په يوه يوه منظره او ننداره کښي ډوبه تللې ده. په دې ننداره چيانو کښي تر ټولو اجهل او حريص او تر ټولو ناکامه هغه دئ چي غواړي يو وابښکی وموندي او د باغ پر شاوخوا ئې راګرزوي او په دې ډول ټوله باغ په شا کړي (د خدايي دعوا کوونکي او کذابان)، مګر څوک و څوک دي چي د خپل قابليت او استعداد بلکي د خپل لوړ همت په واسطه ئې د دې ټول باغ څخه نظر اړولی، د باغ د باغوان او تښتن سره ئې رابطه پيدا کړې ده او په نتيجه کښي ئې د ټوله باغ په خصوص کښي کامل علم حاصر کړی دئ او هم ئې له ټولو نعتمو څخه پوره تمتع اخيستې ده".

که په دې مثال کښي هم موضوع ښه نه وي څېړلې سوې نو په دې ډول توضيح ورکوو:

بېشکه چي زموږ مځکه يعني کرۀ ارض يوه قوۀ جاذبه لري، چي د هغې په واسطه ئې ټول هغه شيان چي پر مځکه اوسي و خپلي خوا ته ور جذب کړي دي، يعني:

اجازه نه ورکوي چي کوم شی دي د مځکي څخه دباندي ووزي او نه ئې پرېږدي چي له دې محبس کبير څخه دي څوک خارج سي (په محبس صغير کښي هم د دا ډول جاذبې په اثر د روح او جسد تعلق پيدا سوی دئ) مګر هيډروجن غوندي سپک غاز، يا د مؤمن پاک او سپېڅلی روح چي د خپلي سپکوالي له جهته د مځکي څخه دباندي وتلای سي...

ليکن خبره خو دلته ده چي آيا د محبس کبير او که د جاذبيت نظريې په دې ځای کښي تطبيق کېدلای سي...

زموږ مثال او توضيح هم ذکر کړه سوه. اوس نو يوازي دوه لنډ بحثونه لا پاته دي نور نو دا مضمون ختم کوو. لومړی بحث مو په دې کښي دئ، چي د اسلام دين چي د انسانانو حقيقي او آخري سرنوشت پکښي فيصله سوی دئ نو د انسانانو اوسنی ژوندون تر کومي اندازې پوري تر دې قانون لاندي راغلی دئ؟

دوهم بحث دا دئ چي په خپله اصلي موضوع کښي چي تر اوسه مو د منقول له خوا بحث پکښي کړی و، په آخر کښي د معقول او منطق له خوا هم

یو څه پکښې ورغېږو.

لومړی بحث که څه هم یوه بېله موضوع ګڼله کېږي لیکن ځکه چي زموږ د اصلي موضوع سره ربط لري نو موږ هغه ته په یوه لنډه اشاره کولو اکتفاء کوو:

د اسلام دین موږ ته دا راښوويٍ، چي دا دین یو شاهراه او لویه جاده ده چي د مقصود تر منزل پوري رسېدلې ده.

له دې لويي جادې څخه انصراف کول په حقیقت کښې په بې انتهاء دښتو او بیابانو کښې لوېدل دي، چي په نتیجه کښې ئې له مقصوده لیري کېدل او له لاري ورکېدل او بالاخره په فلاکت او هلاکت اخته کېدل دي.

نو بېله اسلامي علومو او بېله اسلامي ژوندونه نور ټول علوم او هرډول ژوندون چي حاصل او غوره کړه سوي وي همدغسي مثال لري.

د دغه انصراف او له سمي لاري څخه د اوښتلو او له مقصوده د لیري کېدلو نتیجه ده، چي انسانان په ماده پرستۍ او طبیعت پرستۍ اخته سوي دي او حقیقي مقصود ئې هېر کړی دئ.

وګورئ! په سیر او سلوک کښې (چي د اسلام د دین د کامل متابعت یوه غوره نخښه بلله کېږي) د هر ډول اذواقو، مواجیدو، حالاتو، کیفیاتو، ظهوراتو، تجلیاتو، ښو ښو خویو، خرق د عاداتو، مقاماتو، علوم او معارفو بالاخره د هر ډول کمالاتو (چي له دین سره موافق نه وي) او ټول ماسوی الله څخه صرف نظر کول، او احدیت صرفه ته متوجه کېدل راغلي دي.

دا منعه له دې جهته راغلې ده، چي پخپله احدیت صرفه یا د څښتن تعالی ذات، د ټولو بې انتها کمالاتو جامع دئ. دمخني کمالات، کالمطروح فی الطریق یعني په لار کښې پراته بولي. (مګر د بشریت په تقاضا سره د دغو کمالاتو څخه حظ اخیستل "چي هغه به هم د مشروع او مباح په اندازه وي" څومري نقص نه لري) او بل دا چي هر څومري واقعات او کیفیات، چي په دې لار کښې سالک ته ور پیښېږي یا څومري کمالات، چي دی مومي دا ټول د مطلوب دپاره وسیله بولي نه پخپله مطلوب، او په لاره کښې توقف او ځنډ کول قطعاً جائز نه ګڼي. ولي چي بېله مقصود موندلو څخه بل مقام او د تېکاو ځای نه ویني (د امت خاصان یوه دقیقه غفلت کول او په لایعني شیانو

بوخت کېدل لا هم لويه گناه بولي).

نو هر څومرې چې يو سالک په دغو واقعاتو او وارداتو کښې بوښت سي هغومرې د ده دپاره زحمت او تکليف ډېرېږي او د حقيقي مقصود د ناراضۍ سبب گرزي. بالاخره دا حضرات د انسان مقام خورا لوړ بولي او په خورا لوړ همتي لرلو سره امر کوي. دا حضرات ټول کمالات (حتی د مړو ژوندي کول) لا هم د جوز و مويز په څېر گڼي چې د کوچنيانو د خوشحالولو دپاره ورکول کېږي.

(د دې لوړ بيان څخه مطلب دا نه دئ، چې انسان دي نو د دنيا له کارو لاس واخلي. ښاغلي لوستونکي دي په دې باره کښې آينده مضمون په ډېره دلچسپي سره ولولي).

سير او سلوک له ابتدا تر انتها پورې يوه سلسله مجاهدات، رياضات او مشقات دي. د دې سير د تکميل په نتيجه کښې انسان (عالم صغير) چې دمخه ئې هم فی الجمله د ټولو قواوو توازن درلود، د يوه خورا مهم او ضروري صفت يعني اخلاقو تښتن کېږي. ولې چې د دغو اخلاقو په واسطه د ځان، مخلوق او خالق ﷻ حقوق ادا کېږي. (د علم په واسطه ئې يوازې پېژندگلوي کېږي) مثلاً دمخه به انسان پخپله د خدايۍ دعوا کوله يا به ئې د خدايانو تعدد ثابتاوه، يا به ئې خدای نه مانه يا به اقلاً د خفي او جلي شرک څخه خالي نه وو. مگر اوس د اخلاقو د حصول په واسطه په ټولو معناوو ځان بنده بولي او د خپل څښتن تعالی بندگي په ډېر اخلاص کوي. يا به ئې مثلاً دمخه د خپل مفاد دپاره بل انسان واژه اوس د بل د مفاد دپاره تر خپل مال او ځان ور تېرېږي. دغه ډول د دې سير په نتيجه کښې د انسان علم هم له حصولي څخه و حضوري ته اوړي، پخوا به انسان د کتاب له صفحې څخه علم حاصلاوه اوس د کائناتو صفحه چې د صنع په قلم ليکلې سوې ده، لولي.

لنډه دا چې تر دې سير وروسته پر انسان باندې په ټولو معناوو سره د کامل انسان اطلاق کېږي او تر دغو کمالاتو پورې چې د سير او سلوک په واسطه ئې موندلی دئ، دمخني کمالات داسي ورته ايسي لکه و درياب ته څاڅکی.

ده ته يو خورا ټينګ اساس او قوي قانون ورښوول سوی دئ، يعني د خالق ﷻ، مخلوقاتو او ځان پېژندل. د دې ټينګ اساس له مخي تل تر تله انسان په هر شي کي لومړی خالق ويني او تل د خالق ﷻ د وضع کړي قانون سره سم تګ کوي.

افسوس اوسنيو پوهانو خو د خپلو عقلي انتزاعاتو په مطابق د ځينو ديني اصطلاحاتو معناوي فهمولي دي، لکه د دين، مذهب، عقيده، کشف و شهود، الهام، معجزه او... مفهومونه. ليکن د عالم کبير، عالم صغير، سير او سلوک د اصطلاحاتو په باره کښي ئې څومري تفکر او غور نه دئ کړی. که دا پوهان په دې باره کښي فکر وکړي او د علم له مخي دا دواړه عالمونه سره تطبيق کړي ممکنه ده، چي د انسان شناسۍ او عالم شناسۍ په خصوص کښي به ډېر نوي معلومات وموندي. مثلاً د عالم صغير علمي سير، د عالم کبير علمي سير سره مقابله کړي او هغه زائده علوم او معارف چي د دې سير په ضمن کښي سالک ته پېښېږي د عالم کبير د زائده علومو او معارفو سره وګوري، اذواق او مواجيد ئې د جمالياتو سره پرتله کړي، وساوس او خطرات ئې د پروپاګنډ او درواغو سره تطبيق کړي، جهاد له نفسه سره ئې د مجاهدات د نفوذ سره او دغه رنګه لوږي او تندي ئې د قحط سالۍ او چول سره مقايسه کړي بالاخره د عالم صغير د سرنوشت له مخي د عالم کبير سرنوشت وټاکي، نو ممکنه ده چي دوی ته به دا حقيقت ورمعلوم سي چي اوسنی مدنيت او د انسانانو اوسنی ژوندون تر کومي اندازې پوري تر دې خدايي قانون (د اسلام دين) لاندي راغلی دئ او هم به ورمعلومه سي چي د زمانې حوادث، له کومي خوا پېښېږي او نجات په کوم صورت کښي ممکن دئ او هم د انسانيت تکميل په څه صورت کېدلای سي.

لومړی بحث تمام سو، دوهم بحث تر هغه لا دلچسپ او خوندور دئ:

اوسنی عصر د معقول عصر او زمانه د منطق زمانه ده، نن ورځ تر څو چي کومه مسئله معقوله او منطقي نه وي و منلو ته ئې انسانان تيار نه دي، نو موږ هم غواړو، چي د دې موضوع په معقولي خوا کښي د افکارو او نظرياتو په ډول حتی الوسع ګډ سو:

د دې دپاره چې مطلب ښه وفهمول سي او هم موږ په موضوع کښي په ښه ډول وړغېږو نو عيناً دغه منطقي تعريف چې د (انسان څوک دئ؟) د پوښتني په جواب کښي سوی دئ يعني "انسان حيوان ناطق دئ" تر بحث او څېړني لاندي راولواو د (حيوان ناطق) په شاوخوا کښي خپل افکار او نظريات وړاندي کوو.

لومړی دا عرض کوو چې زموږ تېر بحث د خولې خبري نه وې، بلکي په تفکر او تعقل پوري اړه لري. له ښه مرغه دا منطقي تعريف چې منطقيان به خورا فخر په کوي زموږ د منقولي بحث د تائيد دپاره لا مرسته کوي.

هر کله چې د دې منطقي تعريف په معنا او عبارت کښي سړی ښه ځير سي او زموږ د تېر بحث په اساس ښه فکر پکښي وکړي نو بې اختياره به ځني وويل سي چې:

سبحان الله! اسلامي علوم تر کومي اندازې په حقيقت پوري دي او تر کومي درجې د کائناتو ټول امورات تر دې قانون لاندي راغلي دي. حتی دا پورتنی جمله سره له دې چې يو منطقي او معقولي تعريف دئ، بيا هم له دې قانون څخه نه دئ وتلی، بلکي د حروفو او کلمو په اشکالو او ترکيب کښي ئې لا هم دغه علمي اساس ليدل کېږي. په ډېر غور او دقت ئې ولولئ:

حيوان ناطق له دوو کلمو (حيوان) او (ناطق) څخه مرکب دئ. د (حيوان) کلمه د (حا، يا، واو، الف، نون) له حروفو څخه جوړه سوې ده. دا حروف د دې کلمې د حروفو اصل بلل کېږي او د کلمې حروف د دې اصل اجزاء دي (لکه چې دا اجزائيت د (...) په نيمگړو شکلو کښي په ښه توگه څرگند دي).

دا اجزائي حروف چې سره مرکب سول نو يوه غونډه کلمه (حيوان) ځني جوړه سوه چې په نتيجه کښي ئې هم جامعيت وموند او هم ئې معنا (چې شعور ته ئې نسبت کېږي) پيدا کړه، چې همدغه د دې کلمې د مزيت او ښېگڼي سبب وگرزېده. بالعکس د اصليت په صورت کښي سره له دې چې دغه حروف دي ليکن ځکه چې جامعيت نه لري نو دا ښېگڼي هم پکښي مفقودي دي.

دغه رنګه د (ناطق) د کلمې په ترکیب او شکل کښې هم دغه ډول اصلیت او اجزائیت، جامعیت او معنا لیدله کېږي.

لکه چې وویل سوه (حیوان ناطق) دوې بېلې کلمې دي اوس نو د دې دوو کلمو و معنا ته (بلکې د کلمو شکل ته ئې لا هم) که په غور و کتل سي نو په نظر کښې داسې مجسم کېږي، لکه د یوه شي شا او مخ یا پورته خوا او کښته خوا، ولې چې ناطقیت پورته والی یا مخ څرګندوی او حیوانیت پر کښته خوا یا شا باندې دلالت کوي. په دغه لحاظ نو د (حیوان) کله ګواکې د عالم خلق مرتبه ده او د (ناطق) کلمه ئې د عالم امر مرتبه.

د دې ټولو مجموعې ته یعنې (کبیر، صغیر، خلق، امر او هم اصول او اجزاوو) ته ئې د تورو (دائرهٔ امکان) یا (عالم امکان) ویلای سو او د دې دپاره چې د دې عالم امکان ټول محتویات یعنې جزئیات او تفاصیل په ښه ډول محسوس او مشاهد سوي او په نتیجه کښې یقیني سي نو تر ټولو آسانه او غوره طریقه ئې دا ده چې د کاغذ پر سپینه صفحه باندې ئې په توره سیاهي په قلم، ټول اشکال ولیکل سي...[۴۷]

د مثال په ډول پر کاغذ باندې یوه دائره ولیکئ او نوم ئې (دائرهٔ امکان) وبولئ. په دائره کښې دننه د الفباء، مفردات ولیکئ، دا مفردات (اصل یا عالم کبیر) وبولئ د دائرې په منځ کښې (حیوان ناطق) ولیکئ او دا ترکیب د اصل (اجزاء یا عالم صغیر) وګڼئ. وروسته دائرې ته داسې قطر ورکړئ چې د (حیوان) کلمه ئې په کښته نیمه دائره کښې او د ناطق کلمه ئې په

---

[۴۷] د دې رسالې لوستونکو ته دې معلومه وي چې میرزا عبدالودود دغه مضمون اونوري لیکنې د طلوع افغان په ګڼو کې په پرله پسې ډول قسط قسط خپرولې. تر دغه قسط وروسته ئې په دا بله ګڼه کې د ورپسې قسط تر شروع دمخه داسې کښلي دي: "په دې ګڼه کښې د اصلي مضمون تر شروع دمخه د تېرې ګڼې د ځینو ضروري ځایو تصحیح لیکو: په تېره ګڼه کښې یوازې د(حیوان) کلمه جامع بللې سوې ده، که څه هم دا معنا په یوه لحاظ صحیح ده لیکن اصلي جامعیت یعنې (وحداني هیئت) چې دلته مطلب دئ د (حیوان ناطق) په ترکیب کښې دئ. اوس نو اصلي مضمون شروع کوو."

پورته نیمه دائره کښي راسي.

دا نیمي دائرې (عالم امر، عالم خلق) فرض کړئ نو به مطلب ښه واضح سي.

اوس نو که د دې صفحې څخه چي په قلم سره دائرهٔ امکان پر لیکل سوې ده، سترګي واړوو:

آیا پوهېږو چي د دې اصل الاصل چیري دئ؟ تاسي ښه فکر وکړئ، چي د دې دائرې اصلي مقام په کم ځای کښي دئ؟ زه به درته ووایم چي مقام ئې راساً په دماغ کښي دئ (که څه هم قلم، ګوتي، لاس، ژبه او متخیله هم واسطاً پکښي شامل دي) لیکن اصلي مقام ئې دماغ دئ. دماغ د یوه بسیط شي مرکز دئ، چي تحسس، تعقل او اراده کوي او د انسان (ذات) ئې بولي.

نو تاسي ښه فکر وکړئ، چي دا وچ توري د خپل اصل الاصل سره چي په دماغ کښي دئ، څومري نسبت او تر هغه پوري څومري اهمیت لري؟ آیا مقصود کوم یو دئ؟ آیا په دغو وچو حروفو کښي توغل ښه کار دئ او که اصل الاصل ته توجه لازه ده؟

د دې دائرې لوی کمال او خط په دغه کښي دئ، چي له اجزاوو څخه ئې سمدلاسه مرکب کلمات جوړ کړه سي. لیکن که دماغ پر قرار او قلم په لاس کښي وي آیا څومري دا ډول دائرې به ولیکلي سي؟

آیا د دې وچو حروفو یا د مرکباتو له لاري اصل الاصل (د انسان ذات) پېژندل کېږي او که ئې د معنا له لاري؟ او په معنا کښي ئې بیا هم د اصطلاحي معنا او که د لغوي معنا په مرسته دا مقصد لاس ته راوستل کېږي؟

کائنات (عالم امکان) هم د تورو په څېر، اصول او اجزاء لري. د عفو غوښتلو سره جسارت کوم او لیکم چي:

اوسني صنعت او تخنیک او انجینرینګ په لوی سر کښي د دغو وچو اجزاوو مرکبات دئ. دا ټول فنون، د حقیقي سعادت موندلو سره دغومري نسبت لري لکه حروف او د انسان ذات، څوک چي غواړي د ساینس په مرسته (د نورو اختراعاتو یعني مرکباتو په ډول) حقیقي مقصود هم پیدا کړي، دا ډېره بعیده خبره ده. د حقیقي مقصود، حقیقي معنا او د موندلو لار ئې د اسلام دین وضعه کړېده. مادیونو ئې اصطلاحي معنا لا هم نه ده

موندلې. سره له دې چې حقيقت او اصطلاح، کرټ سره بېل دي. خبره راڅخه اوږده سوه. آيا د نړۍ عقليونو او منطقيونو دا فکر کله هم کړی دئ، چې د (انسان څوک دئ؟) د پوښتني په جواب کښي د دوی ها خپل تعريف او د هغه معنا، بلکي د دې تعريف عبارت ليکل او د حروفو اشکال او ترکيب ئې لا هم د اسلامي علومو تحت الشعاع واقع سوی دئ... دغه دئ چې اوس به د دئې منطقي تعريف په معنا کښي وړغېږو.

د مطلب تر شروع دمخه يو پلا دا خبره تکرار کوو، چې متصوفينو د کائناتو حقيقت معلوم کړی او د هغه دپاره ئې يو کلي اساس مقرر کړی دئ، د دې اساس له مخي لکه چې وويل سوه کائنات ته دائره امکان وايي چې پر کبير، صغير، خل، امر، اصول او اجزاوو وېشل کېږي.

دا يو ټينګ اساس دئ، چې په ټول کائنات بلکي په هره ذره کښي ئې ساري او جاري دئ او هيڅ شی له دې کلي اساسه نه دئ وتلی. مګر پوهېدل ئې په تفکر او تعمق پوري اړه لري په دې باره کښي د مثال په ډول مو دا منطقي تعريف لفظاً او کتابتاً تر دې علمي اساس لاندي ثابت کړ. اوس به ئې په معنا او حقيقت کښي د پورتني اساس له مخي وړغېږو:

انسان (حيوان ناطق) دئ، منطقيونو حيوان جنس بللی دئ، چې انواع او افراد لري او هم دوی وايي چې هر عام، کلي دئ.

دې تعريف ته که د پورتني علمي اساس له مخي وکتل سي نو بيرته دا ځني راوزي چې "د حيوان انواع (بلکي افراد)، اصول دي او د دې اصولو اجزاء سره يو ځای سوي د جامعيت په ډول ئې د انسان د حيوانيت خوا تشکيل کړېده".

نو نتيجه دا راووتله، چې هر هغه شی چې په حيوانانو کښي (ذاتاً او صفاتاً) موجود دي هغه ټول د انسان په حيواني برخه کښي سته. مثلاً جګړه د حيوان يو عام صفت دئ. انسان په لاسو هم جنګ کوي، په پښو هم جنګ کوي، په سر او په اوږو هم جنګېږي، غاښونه هم لګوي. که په غور وکتل سي دا هره د جنګ طريقه ئې د حيوان په يوه يوه نوعه کښي موجوده ده، مثلاً په سر جنګ کول (جګ جګي) د پسه او غوايي او... صفت دئ. غاښونه او

منگا چي لگول د سباعو صفت دئ او داسي نور...

دغه ډول د انسان د ناطقیت په خوا کښي هم اصلیت، اجزائیت او جامعیت لیدل کېږي. ولي له ناطق څخه که مطلق نطق معنا واخیستله سي هم ئې تر نورو حیوانانو پوري اکملیت او جامعیت معلوم دئ او که داسي وویل سي چي هر حیوان یو ډول بږغ تر خوله راباسي او انسان د دې هر ډول بږغ د را ایستلو قابل دئ خو جامعیت ئې ښکاره دئ.

د دې تعریف په معنا کښي هم د لفظ په ډول د (خلق–امر) صورت څرگند دئ. د حیوانیت خوا خلق او د ناطقیت خوا د امر مرتبه ده.

لیکن په دې معنوي ترکیب (وحداني هیئت) سره انسان صرف یوه درجه عروج کړی او له (حیوان ناطق) څخه ئې امتیاز وموندہ، هر کله چي انسان د کمال په مراتبو کښي نور عروج وکړي یعني عالم او فاضل هم سي، نو دا امتیاز او اختصاص ئې هم ډېرېږي او بالاخره د یوه مهم صفت (ښو اخلاقو) په درلوولو سره نو د انسان تعریف بشر سوی، دا ډول کامل امتیاز او اختصاص وموندی چي په ټولو کائناتو کښي په گوته ووزي.

*****

## د اوسنۍ جګړې فلسفه(۴۸)

د اوسنۍ جګړې له لويو مميزاتو څخه يو هم دا ده، چې د نړۍ د اوسېدونکو د هر فرد افکار ئې خپلې خوا ته متوجه کړي او ټوله دنيا ئې په مستقيم يا غير مستقيم ډول ورسره اړ ايستلې ده. پخواني جنګو او تېرو سوو تاريخي واقعاتو به محلي صورت درلود او لږ داسي واقعات تېر سوي دي، چې نوري دنيا اړه ورسره لرلې وي، مګر په دې جګړه کښي جنګ کوونکي دولتونه د خپلو سياسي او جنګي پر بريو غوښتلو سربېره په تبليغاتي بري موندلو کښي هم زيار کاږي يا په بل عبارت نن ورځ لکه د توپ او توپک جنګ چي دئ د خبرو او تبليغاتو هم دئ او هره خبره چي د جنګ کوونکو دولتو له يوې خوا ئخه سوې ده د مقابلې خوا ئې فوراً جواب ورکړه سوی دئ. پر دې جنګ سربېره هر جنګ کوونکی دولت غواړي چي د راډيو، اخبارو او نورو وسيلو په واسطه خپل ځان و نړۍ ته پر حق معرفي کړي او د وګړو افکار خپلې خوا ته ور جلب کړي. په دې ضمن کښي هر سړی په دې باب کښي پخپله هم هرومرو څه نه څه افکار او يوه نظريه لري.

په نتيجه کښي ځني افکار د يوې خوا او نور افکار د ها بل طرف د موفقيت پر خوا سوي دي. دا دواړه ډوله افکار د افکاريت له مخي صحيح بللای سو.

ليکن که وغواړو چي د اوسني جنګ په شاوخوا کښي په صحيح ډول ځان خبر کړو ښايي چي د اسلام دين ته رجوع وکړو، چي په دې باب کښي موږ ته څه وايي:

البته معلومه ده چي د اسلام دين تکميل سوی دئ او هيڅ يوه مسئله ئې نه ده پرې ايښې، چي د هغې حل دي په صحيح توګه نه وي کړی او جواب دې په حقيقي ډول نه وي ويلی، د جنګو او ويني تويولو مسئله ئې هم په اصلي صورت حل کړې ده.

ځوک چي د اسلام دين حق بولي نو ټينګه عقيده به لري چي محمد ﷺ

---

(۴۸) طلوع افغان، ۱۳۲۲ هش، ۲۷ ګڼه.

چي د کوم مقصد له پاره د ښښتن تعالی له لوري را استول سوی وو، دی په دې خپل مقصد کښې له دنیا څخه ناکام نه دئ تللی او قرآن کریم له ځانه جوړي کړي خبري نه دي او بالآخره د اسلام دین غلطه لاره نه ده. بالعکس د چا چي عقیده خامه وي دوی ته به ژر د مشاهدې او تجربې له مخي دا پورتنی حقیقت پخپله معلوم سي.

اسلام لوړی دین دئ، چي په نړۍ کښې ئې د صحیح ژوندون او د بشریت د تکمیل ذمه اخیستې او د غورو اخلاقو د بشپړ کولو متکفل دئ او هم مدعي دئ، چي دا ټولي چاري به تر آخره پوري رسوي.

د اسلام دین په نړۍ کښې دوه مسلکه (اسلام او کفر) او د دې مسلکو له مخي دوه ډوله ژوندون یعني اسلامي حیات او په کفر کښې ژوندون راښووي، چي لوړی ذکر سوی مسلک به تل سلامت پاته وي او ها بل به تر ابده پوري مخ پر زوال او په فلاکت او خواري به لړلی وي او هم ممکنه ده، چي دې دوو مسلکو دې قیام سره موندلی او په نتیجه کښې دې دریم مسلک منځ ته ځني راووزي، یعني امید دئ، چي د اسلام رڼا دي د کفر پر ظلمت وغوړېږي او په نتیجه کښې په داسي ډول چي کفر پر خپل اصلي صرافت پاته وي لیکن ظاهري شکل دې د اسلام په نور منور او د اسلام په رنګ مصبغ سي، لکه چي تاریخ هم سمدلاسه د دې نظریې تائید کوي، دا دریم مسلک که څه هم غنیمت دئ لیکن د اعتماد او ویسا وړ نه دئ، ولي:

نفس هر چند مطمئن گردد
لیک از صفات خود بر نگردد

په دې ځای کښې خورا لوړ مطالب ذکر سوي دي، چي په تعمیق او دقت پوري اړه لري، مثلاً وویل سوه چي کفر به تل په فلاکت او خواري لړلی وي له دې څخه معلومه سوه، چي دا عین د اسلام د دین احکام دي یعني که انسانانو د دې حق دین په عوض کښې د کفر باطل مسلک غوره کړی وي یا ئې غوره کړي دا هیڅکله د دوی د نجات واسطه نه سي کېدلای بلکي د اسلام قوي او تغیر نه خوړونکی دین په هر وخت کښې معناً حکمفرما او پر کفر محیط دئ او نه ئې پرېږدي، چي کوم بل مسلک دي په نړۍ کښې په

قطعي ډول دوام او استقرار ومومي، مګر که هغه مسلک د اسلام یا د اسلام په رنګ مصبغ وي امید دئ، چي پر قرار دي پاته سي.

نو په نړۍ کښي چي هر څومري تغیرات او حوادث پیښ سوي دي یا تر دې وروسته پیښیږي، یا په بل عبارت په ټولو تاریخي پیښو کښي د اسلام دین هرومرو ظاهراً یا معناً دخالت لرلی دئ او بیله شبهې د هغه د احکامو سره سم د نړۍ حوادث ظهور ته راوزي او نتیجه ښندي.

محققین او هغه پوهان چي د کایناتو حقیقت معلوموي دوی ټولو ته دا حقیقت بربښېدلی دئ، چي په کاىناتو کښي دا صلح د بقایا قانون حکمفرما دئ او دا مني چي بشریت د کمال د منزلت خوا ته تلونکی دئ. لیکن په دې سر چي دا منظور نو ولي د داسي سختو او اوږدو مجاهداتو په واسطه لاس ته راځي تر اوسه دوی نه دي پوهېدلي.

که په غور وکتل سي د دې سر د (رجعنا من جهاد الاصغر الی جهاد الاکبر) په معنی او د هغه په رموز او اشاراتو کښي پټ دئ. جهاد اصغر له څو ظاهري غزاوو څخه عبارت دئ لیکن جهاد اکبر یو عظیم او معنوي جهاد دئ چي د (الجهاد ماض الی یو القیمه) په معنی کښي ئې حقیقت معلومولای سو. دا جهاد یوازي د خپل نفس سره مجاهده نه ده بلکي د ټول بشر د معنویاتو او روحیاتو سره معنوي جهاد دئ، په جهاد اصغر کښي له توري او نورو حربي آلاتو څخه کار اخیست کېږي مګر په جهاد اکبر کښي په یوه نامعلوم ډول د اسلام د یوې پټې او قوي اسلحې څخه (چي د هغې په واسطه ئې د نړۍ سیاست سمدلاسه داسي ترتیب کړی او د انسانانو د مدنیت مخ ئې وقتاً فوقتاً پر داسي لار ګرزولی دئ، چي له هغه څخه اسلامي منظور میسر سي) کار اخیست سوی دئ.

د دې منظور ادنا مرتبه دا ده، چي د مځکي په کور کښي بشر د یوې کورنۍ په څېر سره جوړ او سره واوسېږي.

حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله علیه پخپل یوه مکتوب کښي لیکلي چي:

"زه د خپلي پیرۍ د څرګندولو یا د مریدانو د نیولو له پاره نه یم پیدا سوی، بلکي د یوې بلي عظیمي وظیفې د اجرا له پاره ټاکل سوی یم".

دا بزرګوار غواړي چي په دې خپله وينا سره راوښووي چي د آنحضرت ﷺ تر وفات وروسته ټول اسلامي نوابغ او مجددين د حضرت مهدي عليه السلام تر نزول پوري د يوه معين پلان د اساس سره سم پاڅول سوي او معينه نقشه تعقيب کوي. دا معينه نقشه له دې څخه عبارت ده، چي بشر به حتماً يا د اسلام دين قبولوي يا به په هغه سره انطباع مومي يا به نړۍ محوه کېږي. لومړۍ د اسلام د عروج دورې ته اشاره ده، دوهم تر هغه وروسته دوره ده، دريمه معبر په قيامت سره ده.

له دې څخه معلومېږي، چي د اسلام دين هيڅکله ضعيف سوی نه دئ بلکي تر څو ظاهري مجاهداتو وروسته د يوه خورا مشکل امر (چي ظاهراً ئې په جهاد اکبر سره تعبير سوی دئ) د اجرا له پاره متوجه دئ.

که د دنيا تاريخ په غور ولولو او د تاريخي واقعاتو مخصوصاً د جنګو او وينو تويولو حقيقت ته ښه ځير او عميق سو، اجمالاً او تفصيلاً به راته څرګنده سي چي واقعات هر کله د اسلام د دين د احکامو سره سم بشر د يوې معيني نقطې و خوا ته بيايي چي د دې نقطې ته انساني ورورګلوي ويلای سو.

په علم کښي هم دا نقطه خورا څرګنده او نژدې ده او هر څوک که څه هم لږ فکر ئې وي دا نقطه پېژندلای سي، مثلاً څو نفره مختلف اللون، مختلف العلم والا خلاق انسانان سره يو ځای سوي کورنۍ تشکيلوي همدغسي څو کورنۍ بيا سره ټولي سوي کلی، ښار او ولايت تشکيلوي. په دغه قرار د څو ولاياتو له اجتماع څخه مملکت تشکيل کېږي، لکه چي تر دې ځايه پوري انسانان رارسېدلي هم دي نو علماً هيڅ محظور نسته که په دغه قرار نړۍ د مملکتو له اجتماع څخه د انساني حقيقي ورورګلوۍ يوه جامعه په وجود راسي. معلومه ده چي دې نقطې ته عملاً رسېدل مشکلات لري، ليکن بالفرض که انسانان و هغې ته ور ورسېږي بيا هم دا مقام د اسلام په دين کښي هغومري نسبت او اهميت لري لکه اسلامي ورورګلوي او انساني ورورګلوي چي ئې سره لري.

ولي چيري چي انسانان يوازي سره ورونه وي او چيري چي دوی د اسلام په دين هم ورسره مشرف يا مصبغ وي دا خورا ډېر فرق سره لري.

په هر صورت د مقصود ټکی معلوم او هغه ته ور رسېدل او هر ډول موانع چي په دې لار کښي پېښ سي بيرته کول ئې لازمي او طبيعي امر دئ.

له دغو پورتنيو بياناتو او توضيحاتو څخه نو اوس کولای سو، چي لومړی په عام ډول د جنګ په باب کي يوه مثبته نظريه قائمه کړي او د هغې له قراره د ټولو تاريخي جنګو او د نړۍ د نورو حوادثو او واقعاتو حقيقت وپېژنو او په همدغه اساس د اوسنۍ جګړې فلسفه ځان ته معلومه کړو.

د تاريخي واقعاتو او د نړۍ د حوادثو د سبب معلوملو په باب کښي مختلف نظريات او افکار موجود دي ليکن حقيقت دا دئ چي:

د انسان صورت او معنی له څو متضادو عناصرو څخه قيام موندلی او له هره حيثه د اعتدال يوه مجموعه ده. که دا اعتدال وران سي يعني يو له عناصرو څخه ئې تر خپل حد تېری وکړي، نتيجه ئې ظاهري او معنوی ناروغي ده. د انسانانو ټولنه (جامعهٔ بشر) هم دغسي حکم لري. تر ټولو مهم تناسب او اعتدال، چي په فرد او جامعه کښي تعبيه سوي دي د علم او اخلاقو تر منځ ئې تناسب دئ. په انسان کښي که علم او به فرض کړو اخلاق ئې بايد راډيوم وبولو، تر ټولو مفيد علم هغه دئ، چي د هغه له مخي انساني وروړګلوي وپېژندل سي او تر ټولو غوره اخلاق هغه دي، چي بل ته ئې نفع او خير نتيجه وي. علم چي اخلاق ورسره نه وي داسي علم حتماً د ضلالت او ګمرهۍ سبب ګرزي.

په لومړي سر کي د همدې پورتني تناسب د شلېدلو په واسطه سره انساني حوادث او جګړې پېښېږي، ولي علم سهل الحصول او اخلاق متعسر الحصول دي نو هر کله چي علم ډېر سي او اخلاق لږ سي هغه طبيعي تناسب ئې سره شلېدلی او په نتيجه کښي معنوي بحران او ناروغي ځني پېښېږي چي د هغې تأثيرات په ظاهره کښي د مختلفو واقعاتو په صورت کښي تل موږ وينو، مثلاً تاسي وګورئ او په وارو وارو تجربه وکړئ، هر انسان چي علم ئې ډېر حاصل کړی وي (هر علم چي وي) ليکن چي ښه اخلاق ورسره نه لري په داسي انسان کښي تل تکبر، غرور، ځان ځاني او نور ناوړه اخلاق شته وي او په دغه سبب ئې د وګړو سره نفرت وي همدغسي په هره جامعه کښي

چي علم ډېر او اخلاق لږ وي داسي جامعه تل بېځايه ملي غرور، د مليت مفرط احساسات، ناوړه ملي جذبات او... لري.

دا ډول عدم تناسب چي د علم او ناوړو اخلاقو تر منځ (په فرد يا جامعه کښي) شدت و مومي، په نتيجه کښي د باروتو په څېر معنوي اور (د نفرت او عداوت جذبات) ځني پيدا کېږي چي ظاهري تأثيرات ئې هم جګړه او... دي.

په حقيقت کښي د نړۍ د ټولو حوادثو اصلي سبب همدغه دئ او بس. دا وه د نړۍ دحوادثو او تاريخي واقعاتو د پېښېدلو فلسفه. د اوسنۍ جګړې فلسفه که هم د علم او اخلاقو د عدم تناسب وبولو، ښه به وي ولي:

څه چي انبياء، اولياء، علماء، فلاسفه او حکماء چي په نړۍ کښي تېر سوي دي د هغوی ټول خيالات او افکار ذخيره پر ذخيره اوسنيو انسانانو ته پاته سوي او د اوس وخت انسانان د علم او افکارو له لامله خورا بډايان دي، چي تر دې زياته علمي بډايي ممکنه نه ده. بالمقابل د ښو اخلاقو په خوا کښي، ګمان نه کېږي چي بشر دي تر پخوا پوري (يعني نسبت و پخوا ته) يوه درجه هم ترقي کړې وي.

په دې کښي هيڅ شک نسته، چي د انسانانو اوسنۍ ترقي له اخلاقو څخه تشه او يوازي د اختراع او علم ترقي ده.

د دې مطلب د ښرګندولو له پاره به يو وقوعي مثال ذکر کړو:

د بشر له ناوړو عاداتو څخه يو هم بېله حق څخه د خپل همنوع وژل دي، که په غور وکتل سي دا خوی تر اوسه په انسانانو کښي ميشت دئ او له پخوا څخه ئې هيڅ تغير نه دئ کړی، يوازي د انسان وژلو طريقې مختلفي سوي او بل رنګ ئې اختيار کړی دئ، چي د هغه له قراره ئې مونږ ترقي بولو. مثلاً که د بشر مقصد د خپل همنوع وژل وي نو که هغه په لاس په ډبره وويشتل سي او که له ځانه د يوې جوړي کړي آلې په واسطه مثلاً مچلوغزي سره په ډبره وويشتل سي (لکه په پخوا زمانو کښي چي هم دغسي باب وه) او که په يوه بل ترکيب مثلاً يوه لويه کرکنډه له لوړه ځايه پر راواچوله سي په دې درو سرو طريقو سره وژل کېږي. له بري خوا که لاسي بمب پر واچول سي يا د توپ او توپک په ګولۍ وويشتل سي او که له الوتکي څخه ځو ټنه بمب پر

راواچول سي لنډې دا چي په دې ټولو صورتو کښي ئې وژل محقق دي منتها دومري ئې فرق دئ، چي لومړيو طريقو ته د دورهٔ حجر، دورهٔ سنګ يا د ډبري د دورې نسبت کېږي او دا نورو ته ئې د مدنيت دوره يا طلايي عصر ويلی سي.

همدغه ډول که په تش لاس يو سړی په ژورو اوبو کښي پوري وهل سي، دا د ده د وژلو له پاره يوه خورا بسيطه او آسانه طريقه ده، او که د ابتلو او جنګي بېړيو د عملياتو په واسطه غرق کړه سي په هر صورت نتيجه يوه ده.

نو ثابت سوه چي د ډبري له دورې څخه نيولې د مدنيت تر دورې پوري د انسان د وژلو په باب کښي علومو او اختراعاتو خورا ترقي کړې ده، بالمقابل د انسان وژلو حس چي معلوم له ناوړو اخلاقو څخه ګڼل کېږي پر هغه خپل لومړني حالت پاته دئ او انسانان د پخوا په ډول يو د بل وژلو ته تږي دي.

هغه عصري علوم او لوجي ګاني او د نامه له پاره اخلاق چي نتيجه ئې بيرته په نړۍ کښي د انسانانو تر منځ تشتت پېښول او يو د بله د ورورګلوۍ او تعاون لار شلول او د انسان وژلو احساسات لا ډېرول دي، دا ټول علوم بېله بهانې او پلمې څخه نور هيڅ اهميت نه لري، ولي؟:

"علم يو علم دئ او هغه دا چي يو انسان د هغه په واسطه سره بل انسان، خپل همنوع او د خپل ځان په څېر وپېژني".

او اخلاق هم يو اخلاق دي يعني "څه چي پر ځان باندي نه پېرزو کېږي هغه پر بل هم پېرزو ونه لرل سي".

اوس نو که د دغه پورتني حقيقت له مخي د نړۍ وضعيت ته وکتل سي څرګنده ده چي نن ورځ علوم او اختراعات په کمال عروج کښي دي بالمقابل د اخلاقو په عوض کښي صرف ناوړه فردي او اجتماعي خواهشات ليد کېږي او دا له ورايه د علم او اخلاقو د عناصرو تر منځ عدم تناسب دئ، چي نتيجه ئې هم معنوي ناروغي او د دې ناروغۍ اثرات او اغېزې دي.

لنډې دا چي علم او اخلاق د انسانانو په ژوندون او د نړۍ په حوادثو کښي تل مهمه او بارزه برخه لرلې، تناسب او عدم تناسب ئې د ټولو ښو او بدو تاريخي واقعاتو (او د اوسنۍ جګړې) فلسفه تشکيل کوي.

*****

## حقیقت(۴۹)

حقیقت له ابتدا څخه تر اوسه پوري د عامو خاصو په اذهانو کښي ځای موندلی او دا کلمه د هرچا غوږو ته رسېدلې ده.

په لیکنو او خبرو کښي دا کلمه ډېره په مخه رائي. مثلاً یو ځای لولو چي "دا یو حقیقت دئ چي هیڅوک انکار نسي ځني کولای". یا مثلاً "پلاني عالم د پلاني لوی حقیقت په لټولو کښي موفق سو". په پښتو کښي یو متل دئ چي "سل کاله عبادت یوه خبره د حقیقت".

غیر له دې د فلسفې اساس او بناء د حقایقو پر درک او پېژند ګلوي باندي ایښو سوې ده او په ادبیاتو کښي هم په هره زمانه کښي د حقیقت غوښتني دخالت لرلی او ادباء هرکله د حقیقت په پلټلو کې لګیا او د هغه د موندلو تږي دي، اما تر اوسه هیڅوک له دوی څخه پخپل مقصد کښي نه دي کامیاب سوي بلکي په لوی سر کښي د بدیعي مکتبو لکه رومانتیزم او کلاسیزم او نورو د حقیقت طرفداري کول دي.

حتی په ۱۹ ع پېړۍ کښي یوه ډله ادباء او لیکوال لومړی په فرانس او وروسته د یورپ په نورو ځایو کښي منځ ته راغلل، چي هغوی ته ئې ریالیست یعني حقیقیون ویل او ددوی مسلک ئې ریالیزم باله، ددې ډلې اصلي غایه او مقصد د حقایقو لټول وو، خو د (چون نه دیدند حقیقت، ره افسانه زدند) په فحوا سره د نورو مسلکو خاوندان پر دوی راپورته سول او دغه قوي مسلک ئې له منځه بیرته کړی.

الغرض حقیقت په هر شي کښي جلوه لري او له دې جهته په هر وخت په انسانانو کښي د حقیقت غوښتلو طلب پروت دی. د نړۍ د پوهانو جدال او د فلاسفه وو قیل و قال د عوامو تر څېړنو پوري د حقیقت په لار کښي خورا ډېر دی.

---

(۴۹) دا مقاله د طلوع افغان د ۱۳۲۴ هـ ش کال په ۸۴–۹۹ ګڼو کي د (ع، ل) په مستعار نامه خپره سوې ده او ما پخپل بل کتاب (سل بګړۍ یو پوړنی) ۱۸۹ مخ کي هم راوړې ده. (م. هـ)

**حقیقت څه دئ او آیا حقیقت ته رسېدلای سو؟**

د دې پوښتنو د جواب د پاره ښایي وپوهېږو، چي د هر شي ذات د هغه شي حقیقت دئ او څکه چي د یوشي و ذات ته رسېدَنه امکان نه لري نو د هغه حقیقت ته وررسېدل هم محال دئ، په دې دلیل چي انسان هر شی د هغه د خواصو او صفاتو له لاري پېژني، نه د ذات له مخي. یا په بل عبارت د انسان حواس او د عقل و شعور آلات د ده او د نورو شیانو ترمنځ چي خارج له ده څخه دي صرف وسایط او وسایل دي. ددغو واسطو په مرسته دی تش د شیانو په نسبت علم او یقین حاصلوي او بس. هوکې، د شي د صفاتو په نسبت علم او د حقیقت د مقام په نسبت علم او یقین ئې سره بېل دی. مثلاً د څراغ لمبه د هغه د رڼا په ذریعه پېژنو او له رڼا څخه ئې استفاده مومو اما د شعلې و ذات ته رسېدلای نسو ولي هرکله چي زموږ لاس و شعلې ته ورسېږي یا په بل عبارت د شعلې د ذات (حقیقت) په دائره کښي داخل شي، سوځي. او دا سوځول هم د شعلې د ذات صفت دئ نه عین ذات. نو تر ټولو آخري کشف چي موږ ته د څراغ د لمبې په نسبت را حاصل سوی دا دئ، چي څراغ لاس سوځي نور نو تر دې زیات وړاندي نه یو تللي. دمخه چي مو یوازي څراغ د رڼا (صفت) په خصوص کښي علم درلود او ډول ډول استفادې مو کولې، ویل مو چي څراغ نه سوځوي. اوس چي مو په مشاهده او یقین سره د هغه د سوځولو په باب علم حاصل کړی، معلومه ده چي سابقه نظریات مو غلط را وتلي او نوی علم مو نسبتاً و حقیقت ته ور څرمه دئ.

نو څرنګه چي دمخه وویل سوه حقیقت په لوی سر کښي د شیانو له ذات څخه عبارت دئ، چي موږ تش د خپل علم او یقین په قدر د هغه له مقام څخه ترجماني کولای سو نه دا چي په عین حقیقت (ذات) ورګډېدلای او ور رسېدلای شو.[50]

---

[50] کېدلای سي چي ځیني اشیا لکه اوبه او نور... د بعضو عملیاتو په واسطه تجزیه او څو مختلف عناصر ځني را وایستل سي په دې ډول زموږ د مخني وینا چي د شیانو و ذات ته رسېدل امکان نه لري، ظاهراً غلط ثابت کېږي. څکه دا یو اوږد او بېل بحث

د حقیقت مثال لکه هغه شی دئ، چي په خارج کښي موجود او د لمس او امتساس قابل نه دی او انسان هرڅومري چي زيار وكاږي د خپل علم تر دائرې چي د ده په دننه وجود كښي دئ دباندي نسي وتلای.

په دې ځای کښي دا پوښتنه منځ ته رالوېږي چي آیا د انسان علم د حقیقت موندلو د پاره تر ټولو آخري او کافي وسیله نه ده؟ که نه ده، نو ولي انسان ته تر علم پورته بله ذريعه نه ده ورکړه شوې؟ او که علم آخري واسطه ده نو دغه علم د حقیقت په لار کښي معتبر دئ په دې معنی د هر شي په باب کښي، چي د بشر علم حاصل سو گواکي د هغه شي و حقیقت ته ور ورسېدی؟ ددې پوښتني جواب دا دئ، چي هر شی د خپل اصل (یا ذات او حقیقت) په مرتبه کښي د خپلو ټولو صفاتو او اعراضو جامع دئ. علم يوه مرتبه راکښته، د شي د جامعیت د مقام او د هغه د عدم د مقام تر منځ يو فاصل او وسط حد دئ. د علم په خانه کښي د شي د جامعیت د مقام مشمولات تفصيل او تمایز پیدا کړي او يو يو له دغو مشمولاتو څخه را ښووي.

په لوی سر کښي لکه د بشر هره ظاهري او معنوي قواء چي د علم آلات دي–تر يوه شي، يوه حال زيات نسي راښوولای. علم هم تر يوه زيات نه رامعلوموي. مثلاً د باصرې حاسه د ونې هري پاڼې ته چي متوجه کړه سي هماغه پاڼه راویني. ټولي پاڼي په يوه پلا او فرداً فرداً نه راويني. نو معلومه سوه، چي د ونې د پاڼو د جامعیت مقام د باصرې تر مقام پورته دی او د دې د پاره چي دغه د جامعیت مقام ئې وليدل سي، دا ډول د باصرې قوه په كار ده، چي ټولي پاڼي ئې جلا جلا او په يوه وخت کښي راووينې.

دغه ډول او به د خپل جامعیت په مرتبه کښي رنگ، بوی، ذایقه، نريتوب او مخ پر کښته د جريان طبع لري اما دغسي يوه قوه يا حاسه انسان نه لري چي دا اوبو د جامعیت مرتبه دي په يوه وار درک او حس کړي بلکي رنگ ئې د

---

دئ نو ښایي سمدلاسه د پورتني مطلب د فهم دپاره د اشیاؤ له ذات څخه مراد هغه عناصر واخیستل سي، چي دوی ځني ترکیب موندلی دئ. داهم علاوه کېږي، چي د څراغ او نور مثال په معنی داره توگه راوړه شوی دئ.

باصرې په مرسته، بوی ئې د شامې په واسطه، ذایقه ئې د ژبې په کومک، نریتوب ئې په لامسه او جریان ئې په سترګو پېژني. په دې ډول د اوبو د جامعیت مشمولات د حواسو په ذریعه چې د علم آلات دي حس کړی سوي د علم په خانه کښي تفصیل او یو له بله تمایز پیدا کوي.

**د حقیقت اقسام:**

څومري چې اشیاء دي، هغومري حقایق دي او په هره اندازه چې د شیانو صفات او اعراض دي په هغه قدر د علم په مرسته له هغو څخه تعبیر کېدلای سي. که عالَم پخپله د انسان له خوا خلق سوی وای نو د هغه د حقایقو په باب کښي به انسان ښه ترا عِلم درلودای خو ټول پوهېږو، چې داسي نه ده او دا عالَم موجودات او هم انسان پخپله خودي سره نه دی پیدا سوی بلکي ټول کائنات د ننه په انسان کښي دي او که تر هغه دباندي له بلي خوا خلق سوي دي د بشر وجود یوه معنوي او ذیروحه د عکاسۍ کمره ده، چې د ظاهري حواسو او عاقله قواوو په وسایلو سره مجهز او نهایت حساس او اثر قبلونکې ده. دا حقیقي آله سمدلاسه په کار کښي لوېدلې د افکارو، خیالاتو او احساساتو له لاري ذهني تصاویر په حافظه کښي راټولوي، چې همدغه ذخیره په نتیجه کښي د بشر علم تشکیلوي.

د بشر علم هیڅکله وار د واره بشپړ نه وي بلکي ورو ورو د تکمیل درجې ته رسېږي. هر شی په ابتداء کښي د بشر په نزد مجهول دئ. په هره اندازه چې د ده حواسو او د عقل و شعور آلاتو کار کړی، هغومري ګواکي هر یو له دغو قواوو څخه د خپل استعداد سره سم یو حقیقت کشف کړی دئ.

علم چې اوسني انسانان ئې د موجوداتو د حقایقو په باب کښي لري، د پېړیو حاصل دئ، چې له درو لارو څخه ئې موندلی دئ او هغه درې لاري له حواس، عقل او دین څخه عبارت دي. هر یو له دغو درو څخه بیا پر دوو برخو وېشل کېږي. ظاهري او باطني. مثلاً ظاهري حواس، چې د جسم سره تعلق لري او باطني حواس چې د روح سره اړه لري. څرنګه چې دلته ذایقه ورته وایي، هلته ئې ذوق بولي. دغه ډول باطني عقل د فلاسفه وو او د نړۍ د عقلي نبوغ د څښتنانو وي. همدغسي دین هم ظاهري او باطني خواوي لري.

په دې صورت نو حقايق هم درې ډوله دي. يو ډول حقايق دي، چې د حواسو (ظاهري او باطني) له لاري کشف سوي دي او کېږي. دوهم عقلي حقايق دي او دريم ديني حقايق. هر يو له دغو حقايقو څخه لکه چې څرگنده سوه له آخري کشفو څخه عبارت دي، چې د موجوداتو د اشياوو د صفاتو او خواصو په باب کښني سوي دي او کېږي. بشر د ټولو موجوداتو د حقايقو د کشف دپاره همدغه ذکر سوي درې طريقې لري. په دې ځای کښني يوه نکته ده او هغه دا چې:

هر يو له ذکر شوي حواس، عقل او دين څخه د خپل صحت او اعتدال په حالت کښني، د شي صحيح حقيقت (چي د هغه شي له خواصو او صفاتو څخه عبارت دئ د ذات تر لومړي سرحد پوري) د کشف او تعبير له لاري راښووي. اما که ئې صحت او اعتدال تر خپل حد تېر سي او يا نوموړی شی خپل شکل واړوي هغه وخت ئې نو خپل اصلي تعبير هم پټېږي او د هغه پر ځای بل تعبير چي د لومړي تعبير سره متفاوت دئ، راڅرگندېږي. په داسي صورت کښني هغه لومړنۍ صحيح څرگندتيا او ښکارېده معتبر دئ دوهمه څرگندتيا ئې غلطه او د مجازيا اکثراوقات د فساد په نوم یادول کېږي. د مثال په ډول باصره د صحت په حالت کښني د انار مېوه، چي هغه هم روغوالی ولري، سور راښووي او ذايقه د هغه خوند خوږ يا تريو رامعلوموي اما که سترگي احوَلي سي يا بل نقص ورپېښ سي يا انار متفسخ سي هغه وخت نو د انار اصلي شکل هم تغير کړی د هغه پر ځای دوه اناره يا بېخونده اناران پېژندل کېږي. معلومه ده چي په داسي صورت کښني د ذکر سوي مېوې صحيح حقيقت له سور او خوندور انار څخه مراد دئ او دوهم شکل ته ئې مجازي يا فاسد انار بايد وويل سي.

په لوی سر کښني لکه په کېميا کښني چي قاعده ده چي د څو مختلفو عناصرو يا مختلفو مرکباتو له ترکيب څخه يو دريم شی چي د لومړنيو شيانو سره کوټ اختلاف لري، په لاس راځي. همدغسي عيناً دغه قاعده په ټولو مواقعو کښني نفوذ لري. مثلاً د څو مختلفو حسي حقايقو له اجتماع څخه دريم حسي حقيقت چي د خپلو اصليو حقيقتو سره کوټ اختلاف لري، مينده کېږي. دغه ډول د څو مختلفو عقلي حقيقتو او ديني حقيقتو له يو ځای

کېدلو څخه نور مختلف عقلي او ديني حقايق منځ ته راځي او همدغسي تسلسل پيدا کوي، چي دا بحث نو د حقيقت او مجاز په بحث پوري اړه لري.

**حقيقت او مجاز:**

مجاز د حقيقت دوهم شکل يا د هغه عکس دئ، چي د بشر علم ته تر حقيقت يوه مرتبه ورنژدې دئ. يا په واضح ډول څه چي غير له حقيقت څخه دي (اعم له حسي، عقلي او ديني حقيقتو څخه) د مجار په دائره کښي داخل دي. د حقيقت له اوصافو څخه چي وروسته بې بيان هم وسي، يو دا دئ چي حقيقت لايتغير دئ.

د دغه تعريف له مخي د اجسامو حقايق (چي د حسي حقيقتو په جمله کښي راځي) له عناصر څخه عبارت دي او نور ټول جسمي مرکبات، چي د څو عناصرو له مخلوط کېدلو څخه په وجود راغلي دي، د غير حقيقت يعني مجاز په دائره کښي شامل دي. دغه ډول عقلي او ديني حقايق هم له هغو لومړنيو عقلي اصولو او ديني عقايدو څخه عبارت دي، چي ټول معقولات او دينيات پر بناء سوي دي. په دې ځای کښي دې مهمي نکتې ته هم توجه بايده ده، چي غير حقيقي شيان هم تر معيني اندازې پوري چي په درد خوري، د قدرت له خوا انتخاب او خلق سوي دي. د مثال په ډول اوبه د طبيعي مجازي اجسامو په جمله کښي راځي ولي چي حقيقت ئې آکسيجن او هيدروجن دوه عنصره دي. دغه ډول ديني معاملات چي نسبت و ديني معتقداتو او اصولو ته د مجاز په دائره کښي راځي، د څښتن له خوا معين سوي دي. همدغسي تر مسلّمو عقلي اصولو او متودونو لاندي حکمت او عقلي علوم منځ ته راغلي دي.

په پورتنيو درو مثالو کښي څه چي حقايق ګڼلي سي او کوم چي غير حقايق يا مجاز بلل کېږي، تر يوې اندازې پوري واضح او څرګند سوي، اضافه تر دې و دغو شيانو ته نور ترکيب ورکول او مخلوط کول غير قدرتي او د انسان له بدعتو څخه ګڼل کېږي. لکه چي د دوو عناصرو له اختلاط څخه زهرناکه جسم را ايستل د انسان ابداع ده.

**حقیقت الحقیت:**

په اصل کښي د حقیقت له بحث څخه لویه غایه او هدف حقیقت الحقیقت دئ، چي هلته بې له علمي بې حاصلۍ نور څه د انسان په لاس نه ورځي. ټول د ساینس پوهان په راوروسته کښي پر دې متفق دي، چي د جسم حقیقت د عناصرو او مرکباتو دواړو په هاخوا دئ او له الکتریکي ذراتو (الکترون) څخه عبارت دئ، چي د حس تر مرتبې پورته دئ او په عین زمان کښي د زیات قوت لرونکی دئ. عقل خو له ابتداء څخه ټول کارونه و نا معلوم طبیعت ته منسوب کړي او طبیعت حقیقت الحقیقت بولي.

دین حقیقت الحقیقت د څښتن تعالی ﷻ له ذات څخه عبارت بولي، چي د هر ډول کمالاتو مبداء دئ او علم د هغه د ذات کُنه ته نسي رسېدلای او فقط د (هست) په کلمه سره ئې تعبیر کوي (غیر ازین پی نه برده اند که هست) بلکي هرڅومري چي هغه ذات بیچون او بیچگون مشاهده سي هغومري ئې کمال بولي.

**د حقیقت اوصاف:**

حقیقت لایتغیر دئ. حقیقت غالب او ښرگندېدونکی دئ. د حقیقت په مقام کښي زمان، مکان، گڼه، تاوان، زه او ته او نور هیڅ ډول شخصي او محلي ملاحظات نه ځائېږي بلکي په هغه مقام کښي مطلق حقیقت دئ، چي د دې شیانو فهم گران دئ.

**څومري حقایق کشف شوي دي؟**

ددې پوښتني په جواب کښي باید وویل سي چي ډېرو لږو انسانانو د حقیقت طلب کړی دی. په تېره بیا د اوسنیو انسانانو زیار خو له یوه مخه د عالَم مادي د حقایقو د کشف په لار کښي صرف شوی دی او په هغه کښي هم اصلي هدف دا نه دی چي حقیقت د مطلق حقیقت د پاره لټ کړي.

(انتها)

*****

## علم په آینده کښي[۵۱]

د مخه تر دې چي په مطلب شروع وکړم، ځیني مخکیني خبري د مقدمې په ډول لیکم.

که څه هم د نوي مسلک او عصري ذهنیت تښتنان په آینده کښي بحث کول ښه نه ګڼي او عقیده لري، چي بشر د پېړیو پېړیو راپه دېخوا د نه راګرزېدونکي ماضي یا د نامعلوم استقبال په هیله تر لاس لاندي حال او د ژوندانه د خوښۍ ایام له لاسه ورکړي دئ ځکه نو لکه دوی چي وایي آینده باید و آینده ته پرېښوول سي او سړی ښایي چي خپل ټول زیار د حال په ښه کولو کښي صرف کړي.

مګر که په غور وکتل سي دا مضمون په آینده پوري په هیڅ توګه اړه نه لري او نه دا کومه پیشګویي ده او نه زه هیڅکله غواړم پیشګویي وکړم بلکي که محترم لوستونکي دقت وکړي او په عمیق نظر ئې ولولي، کولای سي په هغه حال کښي چي مضمون ئې لا ټول نه وي لوستی و نتیجې ته دې رسېدلی حقیقت دي درک کړي او پر هغه دي حکم او تصدیق وکو بې له دې چي آینده ته وګوري.

زموږ په دې نږدې تېره مقاله کښي د حقیقت تر عنوان لاندي ذکر سوي وه، چي حقیقت له هر ډول شخصي او محلي ملاحظاتو څخه تش او ترڅان را نژدې دئ.

وګورئ د اوبو د جسم د حقیقت په خصوص کښي له څو زرو کالو څخه د پوهانو په نزد اختلاف وو. ځینو به اوبه عنصر باله او بعضو به مرکب، څو په راوروسته کښي وګړو معلومه کړه، چي اوبه له آکسیجن او هیدروجن دوو

---

(۵۱) دا لیکنه د طلوع افغان اخبار د ۱۳۲۴ هـ ش کال له ۱۱۰ ګڼې څخه پیل او تر ۱۲۳ ګڼې پوري زما لاس ته راغلې ده. په دغه وروستۍ ګڼه کي (نور بیا) ورته لیکل سوي دي، یعني دوام لري. زما سره ئې اوس ۱، ۲، ۳، ۴، ۵ او ۸ برخي سته چي دلته ئې په ټبتولوسره له ورکېدو راژغورم. هر وخت که ئې دغه پاته برخه زما لاس ته راغله، که خدای کول پر زیاته به ئې کړم. (م. هـ)

عناصرو څخه مرکبي دي. دا آکسيجن او هيډروجن محض د وګړو د خاطر دپاره يا د کشف کوونکي د زيار په صله کښي آکسيجن او هيډروجن سوی نه دئ او نه کشف کوونکي دا غوښته چي د ځان دپاره دا ډول دوه عنصره ومومي بلکي نوموړي دوه عنصره په ماضي، حال او استقبال په هر وخت کښي موجود دي خو کاشف ئې د هغه په کشف کښي پر معين وخت يعني په ماضي کښي موفق سو.

نو لکه چي له پورتني مثال څخه ځرګنده سوه ماضي، حال او استقبال يا په بل عبارت زمان، تش اعتبارات دي، چي غير حقيقي او غير مثبت امور او تغير قبلوونکي اشياء په هغو پوري تعلق لري. بالعکس مثبت حقايق په هره زمانه کښي له درو زمانو څخه موجود دي. د مثال په ډول تاريخي واقعات چي پخوا پيښ سوي دي واقعات ئې په هغه وخت کښي تېر سوي او بيا هغسي واقعات نه راګرزي اما د دغو واقعاتو علم په هغه وخت او اوس او په راتلونکې زمانه کښي تکرار کېدلای او حاصل کېدلای سي.

نو مثبت حقايق هيڅکله نه فاني کېږي او له دې جهته که په داسي موضوعاتو کښي مثلاً په آينده کي بحث وسي ګواکي عيناً د ماضي او حال په زمانو کښي هم پر هغو باندي څېړنه سوې ده او بالعکس. علم په آينده کښي هم له دغه ډول موضوعاتو څخه دئ، چي په لوی سر کښي په زمانه پوري اړه نه لري. دا دئ چي اوس اصل مطلب ته رجوع کوو.

علم په آينده کښي عبارت دئ، د علم د حقيقت له شروع څخه يعني په آينده کښي به بشر و دې حقيقت ته ورولوېږي، چي علم دي د يو جامع او کلي نور په صورت وپېژني چي اولين و آخرين معلومات په دغه نور کښي شامل دي. سره له دې چي پوهېږو ټول کاينات او د عالم اشيا د علم او حکمت مولود دي نه دا چي علم او حکمت له کايناتو څخه زېږي، سره له هغه ډېر لږ وګړي تر اوسه دې حقيقت ته ور رسېدلي دي.

په آينده کښي به بشر ته متيقن سي، چي کاينات په لوی سر کښي تر لايتغير علمي قانون لاندي پيدا سوي دي او بشر د حس او تعقل له لاري او د خپل استعداد سره سم د کايناتو په هنداره کښي د نوموړي علم صورت

لیدلی او موندلی دئ. علم په آینده کښي به کوم نوی علم نه وي بلکي د اسلامي علومو شمه او د هغه علومو د اسرارو څخه به وي چي کشف سوي به وي. په هغه وخت کښي به بشر ته د اسلامي علومو لوړ مقام او اهمیت ښکاره سوی او ورته معلومه به سي چي علم په لوی سر کښي له اسلامي علومو څخه عبارت دئ. نور ټول علمونه چي د انسان له افکارو څخه راوتلي دي، د اسلامي علومو تحت الشعاع واقع سوي دي یا په بل عبارت ثابت به سي چي عقلي علوم په حقیقت کښي د اسلامي علومو خادمان دي، چي د هغه په رڼا سره کښنته او مادي شیان کشف شوي دي. یعني څرنګه چي انسان په مادیاتو کښي چي معلوم پسته درجه ئې ده، مبنتي دئ نو انساني علوم هم چي په مادي عالم پوري اړه لري تر اسلامي علومو پوري کښنته دي.

یو بل شی چي په آینده کښي به څرګند سي دا دئ، چي هغه شیان چي د عوامو مفهوم دي، علم به وګرزي یا په بل عبارت د حافظ د دغه بیت حقیقت به چي "اینها همه را زند که مفهوم عوام اند" ښه ترا روڼ سي.

د دې علم د ظهور علت هغه عکس العمل دئ، چي د اوسنیو علومو د افراط له باعث څخه به په عمل راسي، دنیا د علمي مدنیت و خواته وړاندي تلونکې ده، تاریخ دا راښووي، چي هره علمي دوره چي د افراط حد ته رسېدلې وي په دابله دوره کښي د هغې عکس العمل منځ ته راځي. د شلمي پیړۍ علمي مدنیت باید د ټولو پخوانیو پیړیو د علمي مدنیتو له ترکیب او اختلاط څخه یو مرکب معجون وبولو، چي د عکس العمل د قاعدې له مخي ئې د تغیر او تبدل مراحل طی کړي او اوسني مقام ته رارسېدلی دئ. په اوسني علمي مدنیت کښي د ټولو پخوانیو دورو، د یونان او تر هغه دمخه مدنیتو څخه نیولې تر اسلامي مدنیت او تر هغه وروسته د امریکا او اروپا تر اوسنۍ علمي ترقۍ پوري د ټولو نمونې لیدلي کېږي او عکس العمل چي له اوسنۍ علمي دورې څخه به پیښ سي، علم په آینده کښي دئ، چي د لمر څرک په توګه به راختلی او ټول عقلیه علوم به تر خپلو وړانګو لاندي راولي.

هغه وخت به څرګنده او مبرهن سي، چي سابقه علوم د دې نوي علم په جنب کښي تش اعتبارات دي، چي هر یوه بېله منطقه اشغال کړې او په لوی

سر کښې ټول د دغه علم څخه عبارت دي، چې د اسلام د دین له اسرارو او انوارو څخه ګڼل کېږي او بلکې هر ډول معاني او مطلق پوه او عقلي اشرافات او انوار به ټول د دې علم تر انوارو لاندې ولیدل سي.

په دې صورت هغه شیان چې له نظره وتلي دي او مهمل او لایعني بلل کېږي خورا لوړي معناوي او هسک مفاهیم به ئې ثرګند سي. ځکه چې د عالَم له شیانو څخه به هر یو شی په علم کښې د واحد په شکل کښې وپېژندل سي، چې کثرت ئې موندلی او دغه کثرت چې په حقیقت کښې د هغه واحد اجزاء دئ هم به په علم کښې ثرګند سي. د مثال په ډول ثرنګه چې سل درجې حرارت موږ پېژنو، نو یوه درجه حرارت به هم چې د هغو سلو درجو حرارت له اجزاوو څخه یو جزء دئ، زموږ په علم کښې راسي. په دې ډول به محقق سي چې د ذرې موجودیت او سرګذشت د ټول کاینات د موجودیت او سرګذشت سره مطابق او برابر دئ تش د لویوالي او کوچنیوالي په نسبت د دوی تر منځ فرق او اختلاف پیدا دئ.

علم په آینده کښې به زیاتره په انسان پوري هم تعلق ولري. له دې جهته که هغه ته د علم الانسان عنوان ورکړه سي، بې مناسبت به نه وي. د انسان په نفس کښې به تر اوس ډېري او مهمې پلټنې په عمل راسي له یوې خوا لکه د مخه چې وویل سوه د انسان نفسي حالات او کیفیات به نسبت و اوس ته ښه ترا روڼ او سپېڅلي سوي مشخص او معین به سي او له بلې خوا د هغو درجات (اجزا) به هم معلوم او ور ثرګند سي مثلاً د یوه انسان ناحقه وژل که د سلو درجو د تظلم د جذبې اثر وبولو، نو کوم مېږی په ناحقه تر پښو لاندې کول به د همدې جذبې د یوې درجې اغېزه وګڼو او دغه ډول ټول انساني اخلاق. په دې ډول داسې له نظره وتلي شیان به د پسیکولوژۍ او پیداګوژۍ له پلوه زښت اهمیت وموندي او مخصوصاً د اسلام د دین حقیقت او پورته والی به و ټولو ته ثرګند سي، چې اوس و دې موضوع ته لږ ثه په تفصیل او تشریح کتنه کوو.

ثرنګه چې په ظاهر کښې د لمر په پراخه رڼا سره د مځکې د کرې ټول اشیا ثرګند سوي او د وړانګو په ذریعه ئې ټول ذرات بربېښېدلي دي او

انسان چي په دې نور کښې غوټه دئ د سر په سترګو ټول شيان ليدلای سي او د رڼا د نه والي په صورت کښې ګرده نړۍ د ده په نظر کښې تاريکه او پټه ده، دغه ډول په باطن کښې هم يو خورا لوی نور چي د علم له رڼا څخه عبارت دئ سته او انسان په دې نور کښې څرنګه چي د لمر په ظاهري رڼا کښې غوټه دئ، ډوب دئ او د عقل د سترګي له لاري ټول شيان پېژني (ويني) او يو له بله د هغو فرق او امتياز کوي (دا د شيانو فقر او امتياز او يو له بله پېژندل هم د ضديت له خوا کېږي. و بضدها يتبين الاشياء)

نو هرځای چي تفصيل او امتياز دئ د علم د نور له جهته دئ؛ دا چي موږ کاينات وسيع پېژنو او د هغه مشمولات يو دبله سره بېلوو او يا له جزئياتو څخه کليات جوړوو ټول علم دئ يا په بل عبارت ټول تصورات او تصديقات علم بولي.

علم يوه بېله مرتبه او خانه ده، چي د ټولو موجوداتو په منځ کښې واقع او د هغه ټول مشمولات بېل بېل پکښې څرګند سوي دي. هر څه چي بشر ويني، اروي، پوهوي، يا ئې احساس کوي په حقيقت کښې دا ټول شيان د علم په خانه کښې سره بېلېږي. د دې مطلب د ښه پوهېدلو دپاره دلته يو لنډ مثال ذکر کوو:

وګورئ د لمر رڼا په اصل کښې له اوو رنګو يعني (سور، ژړ، نارنجي، چونيا، بنفش، آبي او زرغون) څخه ترکيب موندلی دئ، چي د جامعيت په حالت کښې سپينه ښکاري. اوس که يوه د بلورو ښيښه و سترګو ته ونيول سي نو پکښې وبه ليدل سي، چي دا ټول اووه سره رنګونه يوله بله بېل سوي تفصيل او تميز ئې پيدا کړی دئ او هره يوه له دې اوو رنګه وړانګو څخه عليحده عليحده ليدله کېږي نو ګواکي دا بلور د علم خانه ده، چي د لمر وړانګه پکښې سره بېلېږي. په موجوداتو کښې هم دغه ډول د علم خانه موجوده ده، چي د هغه د رڼا په ذريعه شيان سره بېلول کېږي او دا خانه په انسان کښې هم سته.

تصور وکړئ جمادات، نباتات او حيوانات او انسان په ډېرو خپلو خصايصو کښې سره مشترک دي. يوازې انسان دئ، چي د ټول کاينات په

منځ کښې د بېلو اسبابو او آلاتو خاوند دئ، چي د هغه په مرسته يوه بېله رڼا (د علم رڼا) اخذ کوي. که دا وسائط په ده کښې نه وای هيڅکله به دا نه وای معلومه سوې، چي د علم او پوه نور هم وجود لري...[۵۲]

*****

(۵۲) پر دغه ځای ئې "نور بيا" ورته کښلی دئ. زما سره ئې نوره برخه فعلاً نسته خو د پيدا کېدلو هڅه مي روانه ده. (م. هوتک)

## د ادب تحلیل(۵۳)

### نثر–نظم–شعر

علم د یوه سړي یا د یوه قوم میراث نه دئ، دا د ټول بشر مال دئ او همدا منلې سوې او محقق ده، چي په علم کښي تغییرات وارد کېږي، ځکه نو د هري موضوع په باب کښي څه نه څه د آراو و اختلاف سته.

یو له هغو حقایقو څخه چي اوس ئې د یوې نظریې په ډول انکشاف موندلی دئ لکن په آینده کښي به د یوه برمنډ حقیقت په شکل منځ ته راووزي د وحدت او کثرت نظریه ده، په دې معنی چي هرشی په ابتدا کښي د یوه (واحد) په شکل وي وروسته ئې کثرت موندلی او دغه کثرت ئې بیا چي د ترکیب په توګه په وجود راغلی دئ دوې حصې سوي، یوه حصه ئې په چوکاټ کښي راوستل سوې ده.

مثلاً وګورئ د الفبا د حروفو اشکال په لوی سر کښي له یوه الف بلکي له یوې نقطې (ټکي) څخه جوړ سوی دئ که موږ وغواړو له یوې نقطې څخه بې شمېره اشکال جوړولای سو خو د الفبا ۲۶ توری د دغو بې شمېره اشکالو هغه حصه ده، چي په چوکاټ کښي راوستل سوې ده. همدغسي په لږ دقت سره پوهېږو چي مهمل او معنی لرونکي کلمات په لوی سر کښي هغه مرکبات دي، چي د دغو مفرداتو له یو دبله ترکیب ورکولو سره په وجود راغلي او معنی داره کلمات ئې په چوکاټ کښي سوي دي.

د معنی لرونکو کلماتو له یو دبله جوړولو څخه بیا د عوامو ژبه بېله تشکیل سوې او علمي فلسفي او ادبي ژبه علیحده منځ ته راوتلې په قالب کښي راوړه سوه او په هغې کښي بې شمېره آثار نشر او راووتل.

په دې ډول یو الف بلکي یو ټکی چي په تداول کښي ولوېدئ دومره کثرت ئې وموندئ او موږ هر توری، هره جمله، هر عبارت، بالاخره هر کتاب او اثر چي وینو له دغو ۲۶ حروفو څخه وتلی نه دئ. په بل عبارت ټول لیک او لوست په لوی سر کښي له دغو تورو څخه عبارت دئ، چي یو دبله پرله

---

(۵۳) طلوع افغان، ۱۳۲۴ ل. کال، (۳، ۴، ۵، ۶، ۸، ۷، ۹، ۱۰) پرله پسې ګڼې.

اړول سوي ترکيب او تشکل ئې موندلی دئ نو په هغه ډول لکه دا توري چي په تلفظ او کتابت، يا په تقريري او تحريري آثارو کښي دخالت او ميشت والی لري او هيڅ اثر له دوی څخه تش نه دئ، همدغه ډول ادب هم په لوی سر کښي په ليک او لوست کښي داسي ګډ او خلط دئ، چي په هيڅ توګه ئې بېلېده نه ځني کېږي يعني څه چي د انسان د فکر، خيال او حسياتو محصول دئ ادب او ادبيات ئې بولي. دا مطلب په دې لنډ مثال کښي ښه ترا څرګندېږي چي د هر اثر په هره موضوع کښي، چي موږ غواړو راوې باسو، ليکو ئې، او ليک خو معلومه د ادب يوه څانګه ده پوهېږئ، چي د فهم مقام ډېر لوړ دئ او د شيانو مفاهيم او معاني لکه چي دي د حروفو په ذريعه نه سي څرګندېدلای.

سره له دې چي د دې وينا په پوهېدلو کښي اشکال نسته چي: ټول ليکل سوي کتابونه له يوه الف څخه جوړ سوي دي لکن که وغواړو چي اصلي معنا ته ئې ور ولوېږو ذوق ته اړيو او په ذوق سره ور لوېدلای سو چي څرنګه له يوه الف څخه د ترتيب سره سم مفردات، مرکبات، کلمات، جملات او له هغو څخه متون او حواشي وروسته کتابونه جوړ سوي او کتابونه پسي ډېر سوي دي.

د ادب حقيقي مفهوم او د هغه د تحليل تصور هم کماحقه د تورو په مرسته نه سي اظهار کېدلای، ذوق او د زړه پوهه غواړي چي د ادب او ادبياتو معنی او مفهوم په وپېژنو.

دا چي وايي چي ادبيات د انسان د فکر، خيال او حسياتو محصول دئ که ښه ځير سو د ادبياتو حقيقي مفهوم نه ښندي ځکه دغه (فکر، خيال او حسيات) خو پخپله علمي توري دي او علمي توري خو څرګنده ده، چي د فکر مولود دئ چي عين ادب دئ.

له بلي خوا ځکه چي فکر او خيال له عقلي قواوو څخه دئ او حسيات له روحي قواوو څخه بللی سي او دا دواړه ذکر سوي قواوي د انسان مميزه ده نو مطلب دا سو چي څه چي د انسان تميز د نور مخلوق سره په کېږي په لوی سر کښي هغه ټول له يوه مخه ادبيات دي او دغسي هم ده لکه چي له دغه مطالبو څخه ښکاره سوه.

نو د دې دپاره چې په يوه وخت کښې د انسان ټولي خبري او ويناوي او د ده علم او پوهه، افکار، خيالات، حسيات او د ارنګه نور... ادبيات بللي، او په يوه وخت کښې ادب په علم او فلسفه کښې او علم و فلسفه په ادب کښې ميشت او اخښلي ووينو، و ذوق ته احتياج لرو. که څه هم د تلفظ او کتابت په ذريعه هم کولای سو، چې انساني پوهه د علم، فلسفي او ادب په درو واړو شکلو کښې سره بېل کړو.

مطلب دا هر څه چې ليکل کېږي يا ويل کېږي په عاميانه ژبه وي يا په علمي ژبه، ټول ادبيات دي لکن د معنی په لحاظ به د دې تعرفې د معنی تصور داسي کوو لکه له يوه ټکي څخه د الف او ۲٦ تورو جوړو سوو حروفو تصوير.

ښکاره ده چې مثلاً د (ج) د توري شکل په لوی سر کښې هغه الف دئ، چې کوږ ووږ ليکل سوی دئ لکن ځکه چې جيم والی پکښې غالب دئ نو الف اصلاً پکښې پټ دئ او داسي نور توري... ګواکي حروف مطلق اعتبارات دي او په لوی سر کښې ټول يو الف دئ اما ځکه چې دغو اعتباراتو ځانته شکلونه اختيار کړي دي او استقرار ئې نيولی دئ له دې جهته د اهميت او اعتبار وړ دئ.

د ادبياتو مثال هم په حقيقت کښې دغسي دئ وار دواره چې د انسان د عقلي قواوو او روحي قواوو څخه څه زېږيدلی دئ واحد فکر يا واحد خيال يا واحد احساس دئ چې ښايي واحد ادب ئې وبولو وورسته چې دغه واحد ادب په تداول کښې لوېدلی او کثرت ئې وموندی افکار، خيالات او حسيات (يعني ادبيات) سول څو ورو ورور د عوامو ژبه او علمي و فلسفي ژبي ځني تشکيل سوې ځانته مختلف علوم او فلسفه ځني پيدا سول، ګواکي دا ټول چې مختلف اشکال ئې وموندل تش اعتبارات دي چې ځان تې[۵۴] قيام نيولی دئ او له دې حسيته[۵۵] د اهميت او منلو قايل دئ نو

---

[۵۴] تې = ته ئې (م. هـ)

[۵۵] له دې حسيته = له دې اسيته، له دې امله (م. هـ)

چيري چي علم غالب دئ علم ئې بولي او په هغه ځای کښي چي د فلسفې حاکميت موندلی دئ فلسفه ورته وايي او چي ادب غالب سوی دئ ادب ئې گڼي که څه هم په عام اعتبار گرده ادبيات دي.

دا خبره دي هم پاته نه وي چي د عوامو ژبه هم ادبيات دي لکن لکه د مخه چي وويل سوه علم سوي ادبيات په چوکاټ کښي راوړه سوي دي.د علم سوي ادب له مخي ادبيات کله چي د الفاظو په قالب کښي توی سوي د ليک او لوست ډگر ته را ايستل کېږي په دوو توکو وي يعني د نثر او نظم په توکو، لکن د دې خبري د اصلي مفهوم د پوهېدلو د پاره ييا دقت او ذوق سليم په کار دئ، داسي:

په هر اثر کښي دا دوې توکي (نثر، نظم) څه نه څه گډون او ميشت والی لري خو که هر يو له دغو دوو څخه پکښي حاکميت ولري اثر هم د هغه په نوم يادېږي مثلاً نظم کټ مټ هغه نثر دئ، چي مسجع او پيودلی راوستل سوی دئ او له دې لامله ئې نظم بولي. (نظم د خپلو اصولو له مخي په قالب کښي راوړه سوی دئ) او په نثر کښي هم هرو مرو پيودلي جملات چي پر نظم والي دلالت کوي ليدل کېږي. بلکي دا ډول پيودلي جملې چي د نظم خوا لري د نثر له ښېگړو څخه گڼلي سوي دي، نو نظم او نثر په عام ډول سره تړلي دي او هم نسبت و نظم ته نثر آسانه او ميدان ئې ارت دئ، چي له دې جهته په هغه کښي مطلب ښه ادا کېږي.

اما په خاص ډول په نظم و نثر کښي ځيني اړخونه سته چي موږ غواړو هغه وپلټو:

پوهېږئ به چي (افکار خيالات او حسيات) د ادبياتو درې اساسي عنصره دي او دا درې سره په هر اثر کښي لږ و ډېر اخښلي وي او هم به در معلومه وي، چي د فکر سره بساطت او ژورتيا مناسبت لري د خيال سره رنگيني او لطافت ښايي او د حسياتو سره تاثر او قوت لازم دئ.

په دې توگه د دغو درو واړو عناصرو څخه څو شکلونه را ايستل کېدلای سي مثلاً دا ډول آثار وي چي خالص افکار، يا صرف خيالات يا تش حسيات پکښي وي او يا بالعکس د دې وي يعني چي درې سره پکښي درج

وي. یا داسي چي افکار او خیالات یوازي پکښي ګډ وي یا دا چي خیال او حسیات پکښي غالب وي او داسي...

په دې جمله کښي هغه اثر چي خالص افکار پکښي وي حتماً به علمي اثر وي یا به شخصي نظریات او عندي افکار وي او هم په نثر به لیکل سوی وي ولي چي د علم د افکارو محصول دئ افکار باید بسیط وي او په خورا آسانه صورت یعني په نثر څرګند کړه سي چي څوک ژر په وپوهېدلای سي. ځکه چي له افکارو څخه مقصد هم صرف پوهېدوه دي او بس.

او هغه اثر چي حسیات او خیالات پکښي غالب وي شعر دئ ځکه چي شعر د حسیاتو او خیالاتو مجموعه ده، حسیات چي هر څومري تاوده او قوي وي او ورسره خیالات چي هر څونه لطیف او شاعرانه وي شعر هغومره سوځوونکی او اغېزه کوونکی راځي چي مقصد ځني هم دغه تاثر دئ. دا ډول شعري اثر زیاتره په نظم سره ښه راوزي ولي چي د سوز وینا طبعاً دا تقاضا لري، چي موزونه، مقفی او چسپه وي او بل دا چي لکه حسیات او افکار چي توپیر سره لري یعني حسیات د متاثر کېدلو او افکار د پوهېدلو سره اړه لري نو د دې دواړو د اظهارولو طریقې او هغه قالبونه چي دوی پکښي تویول کېږي هم باید بېل وي. افکار ښایي د نثر په توګه او حسیات د نظم یا د داسي نثر په توګه چي د نظم رنګ ولري څرګند کړه سي دغه سبب دئ، چي طبیعي، اشعار په هره ژبه کښي چي وي اکثر د نظم په شکل دي. دلته دا خپله نظریه هم وړاندي کوو چي هغه ژبي چي بالطبع د نظم ویلو دپاره مساعدي دي لکه شرقي ژبي نو د دې ژبو اشعار هم په نظم دي او ژبي چي و نظم ته نه دي مساعدي لکه غربي ژبي اشعار ئې په نثر دي ښایي په دغه سبب یا د آسانتیا له جهته به په راوروسته کښي منثور شعر هم منځ ته راوتلی وي.

لنډې دا چي که په پخوانیو او اوسنیو ادبي و علمي آثارو کښي کتنه وکړو هغه اشکال او فارمولونه چي موږ ئې دمخه تذکر وکړ ښه ترا لیدل کېږي مثلاً د ریاضي د علم کوم اثر پکښي وینو، چي د دې په عوض چي په آسانه او عام فهم نثر لیکل سوی وای په ګران نظم سره لیکل سوی دئ او

داسي نور... بالجمله موږ د علمي شاعرۍ اخلاقي شاعرۍ، فلسفيانه شاعرۍ او تصوفي شاعرۍ آثار مخصوصاً په پخوا او اوس کښي وينو.

شک نسته چي علمي او فلسفي کتابونه، اثرونه په آسانه او ساده نثر کښل، او يو ادبي او شعري اثر په منظوم يا منثور ډول ليکل ښه کار دئ او دا ډول آثار هر کله د اوليت حق لري اما دا په خاصو حالتو کښي کېدلای سي او په عامو حالاتو کښي د هغه سرته رسول امکان نه لري.

مثلاً يو وخت کوم ليکونکی غواړي، چي د حرص په مقاله کښي د دې پر ځای چي په خوشي تعريفاتو ئې ډکه کړي خيالات او حسيات ځايوي او د منثور شعر په ډول ئې راولي.

په هر حال دا قسم عام آثار هم زيات مستند دي او د ادبياتو د تاريخ وثيقه ګڼلی سي.

دا وه چي د ادب د تحليل په شاوخوا کښي مختصراً څه وليکل سوه. په دې ليک کښي د کومي بشپړي ادبي مقالې ترتيبول مطلب نه دئ بلکي تش د ځينو متفرقه مطالبو يادونه ده، چي د عالي ادب سره ربط لري چي د ليک او لوست په ها خوا دئ او د ذوق تښتنان په پوهېږي.

د ادبياتو کلمه چي په ليکونو کښي استعمال کېږي اکثراً مراد ځني هغه آثار دي چي علمي نه وي بلکي داسي آثار وي، چي د حسياتو او خيالاتو په ذريعه حسن او جمال پکښي څرګند سوی وي چي له لوستلو څخه ئې د لوستونکو حسيات متاثر کېږي لکه شعري دېوانونه.

ځيني وګړي هر نظم شعر بولي حال دا چي داسي نه ده ځکه چي که کوم علمي مضمون په نظم راوستل سي شعر ورته وايه نه سي بلکي منظوم علمي اثر ئې بولي.

انتها

*****

نظريات او مطالعات:

## آسانه پوهنه يا اجمالي علم[٥٦]

په يوه خارجي مجله کښي مي ولوستل چي کوم سړی وو چي ستن به ئې په پرورو کښي واچوله او بېله د بلي آلې له مرستي څه به ئې هغه ستن په لږ وخت کښي په لاس پيدا کوله، بل سړي تر ډېر زيار او تجربو وروسته معلومه کړې وه، چي يو اروپايي سړی په خپل عمر کښي څومري سگريټ څکوي او په دې باب کښي د کلو مياشتو... ساعتو او دقيقو له مخي يوه احصائيه ترتيب کړې وه دا چي مي ولوستل نو د ځانه سره مي فکر وکړ چي اوسني وگړي تر کومي اندازې پوري د ماضي، حال او استقبال په فکرو کښي ډوب دي او دنيا تر کومي درجې پوري په غلطه تاريکه بولي؟ اکثر دا عقيده لري چي که د دوی نومونه په تاريخ کښي ذکر نه سوه نو گواکي دوی هډو موجود سوي نه وو. د همدې عقيدې په اثر نن ورځ د تفوق حس د انسانانو په افرادو او جامعو کښي خورا غلبه او حاکميت موندلی دئ؛ اکثر قومونه او ملتونه غواړي چي خپل لوی لوی ښارونه د تاريخي آتن په څېر، د علومو او فنونو مرکز وگرزوي او هر ډول فضيلت او تاريخي شهرت خاص د دوی په برخه وي.

په مجلسو او ټولنو کښي ډېر ځله موږ د داسي کسانو سره مقابل کېږو چي په کومه علمي يا فني شعبه کښي تخصص نه لري بلکي له هري خوا ئې څه څه او محدود معلومات حاصل کړي که واضح ووايو. دا ډول متفرقه معلومات حاصل کول نن ورځ يو بېل صنعت گرزېدلی دئ او د شهرت موندلو (مادي خوند) دپاره ښه وسيله گڼلې سي. زه چي هم د داسي کلان کارانو له ډلي څخه وتلي نه يم نومي وغوښتل چي تر پورتني عنوان لاندي ځيني لوړ او ځوړ معلومات له هره طرفه د اختصار په توگه په دې ليک کښي راغونډ کړم؛ محترم لوستونکي چي دا مقاله ولولي نه يوازي به د بشر د ټولو افرادو او جامعو د اوسني ذهنيت او علميت په شاوخوا کښي لږ شانته

---

(٥٦) طلوع افغان، ۱۳۲۴ ل. کال، (۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۲، ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۴۱، ۴۲، ۴۳، ۴۴، ۴۵، ۴۶، ۵۲، ۵۳، ۵۴، ۵۷، ۵۸، ۵۹) پرله پسې گڼې.

مطالعات لاس ته ورسي بلکي پر دې سربېره که ئې خپل ځان يو لوی علامه جوړ کړی نه وي اقلاً د يوه اجمالي علم خاوند خو به سي. دا دئ، چي اوس په اصل مطلب شروع کوم:

د انسان تخليق فطرتاً داسي سوی دئ، چي خواهش او غوښتنه د هر شي او هم د هغه پېژندنه کوي او د مداومت په صورت کښي پر دغو چارو عادت، خوی او عقيده يا ايمان ور حاصلېږي چي د دغو خصلتو بيرته کول خورا ګران امر دئ.

په لوی سر کښي انسان پر همدغه خپل سپېځلي فطرت د اختيار سره پر مادي او معنوي دنياوو راغلی دئ اما په آخر کښي په مادي خوندو کښي بوښت[۵۷] سوی دئ؛ د انساني مدنيت پيدا کېده او د دنيا حدوث په اصل کښي د انسان د دغو کښتو غوښتونو نتيجه ده او بس. نو ګوره چي کله او په څه ډول به انسان له دې بوښتوالي څخه ووزي او معنوي دنيا ته يعني هغه عالم ته چي ده د لوړ شان سره وړ دئ وبه رسېږي.

څه به ښه وو که د انسان د ذات (نفس) مجسم کول په ليک او لوست سره امکان لرلای په داسي حال کښي چي دا يو بسيط جوهر دئ او نه سي کېدلای چي د الفاظو په ذريعه څرګند کړه سي.

وايي چي د يوه شي تعريف هغه دئ، چي "يوه مجهوله هستي د بلي معروفي هستۍ په واسطه يا يوه عامه کليه په عامتره کليه سره وپېژندله سي." لکن هغه شی چي پخپله معروف او تر ټولو عام وي د هغه حقيقي تعريف امکان نه لري؛ که چيري موږ وغواړو، چي دغه ډول معروف شيان د بل په ذهن کښي کښېنوو نو د دغو شيانو افعال او خواص ورته وايو. نفس هم د دا ډول معروفو شيانو څخه دئ؛ ځکه چي پخپله د نفس په مرسته موږ د بل شي پېژندنه کوو، پوهنه يا عقل او نوري ټولي ظاهري او معنوي قواوي په لوی سر کښي د نفس کيفيات دي نو ځکه د نفس د تعريف دپاره تر نفس

---

[۵۷] بوښت=بوخت، لګيا، اخته (د کندهار په لهجه کې "بوخت" تلفظ کوي، نه پوهېږم چي دلته ئې ولي "بوښت" ليکلی دئ. (م. ه)

پورته قوه په کار ده چي هغه د ایمان رڼا ده.

دغومره پوهېږو چي نفس طبعاً تعقل، تحسس او اراده د شي کوي. اوس نو که مثلاً یو انسان چي پر خپل سپېڅلي فطرت باندي وي وار دواره د تریاکو د لیدلو او استعمال څخه د هغه د کیف او نشې په خوند کښي بوښت سي؛ ښکاره ده هغه وخت چي ده ته د مخدراتو په باب کښي علم ور حاصلېږي یا د خپل ځان په عزیز والي او لوړ شان خبرېږي په دغه وخت کښي به هره خوا ځني پاته وي. له دې لنډ او جامع مثال څخه اندازه کولای سو، چي د علم حصول انسان ته څومره لازم دئ او بالعکس په تشو خوندو کښي مبتنل څونه ضررونه لري.

د علم اقتضا دغه ده چي لومړی د شي حقیقت کاملاً وپېژندل سي وروسته د دغه حقیقت له مخي څرنگه چي ښایي له هغه شي څخه کار واخیستل سي، علم دا راښووي چي د موجوداتو حقایق پېژندل د بشر دپاره تر ټولو لوړ فضیلت دئ؛ اما پر خلاف د دې انسان نفساني غوښتني او هواوي بې له دې چي د کوم شي حقیقت او معنا ته دي توجه وکوي په ظاهري شکل او مادي خوا کښي مبتلي او که څه هم علم یو شی مضر وبولي له هغه څخه پرهېز نه کوي. دا مطلب د رواقیونو او اپیقور په فلسفو کښي ښه ترا څرگند کړه سوی دئ رواقیون وایي چي د فضیلت کسب چي د انسان په حق کښي تر هغه زیاته ښېگړې متصوره نه ده باید پخپله فضیلت دپاره وي نه د بل شي دپاره؛ اما اپیقور عقیده لري چي د فضیلت کسب د دې دپاره دئ، چي سړی لذت ته په رسېږي که نه وي پخپله فضیلت څومره مطلوب نه دئ. د اپیقور وینا ده چي "خلقنا لاکل والشرب لانا نموت غدا"

**اجمالي علم:**

د موجوداتو د حقایقو پېژندنه او د هغو علم او معرفت موندل د انسان دپاره تر ټولو لوړ کمال او انتهایي مقصد دئ ځکه چي د کائناتو هره ذره ځان ته قانون ایجاب کوي او ټول موجودات د لایتغیر قانون (علم) له مخي بشپړ انضباط او کلي نتیجه لري؛ اما ځیني وگړي و کائناتو ته په سطحي کتنه

ګوري او ځيني، قانون په سترګو پګښي ويني دوی هر کله په دې پسې دي چې د موجوداتو کوم قانون کشف کړي دريمه ډله تر دې پورته هغه ده چې لږ و ډېر د موجوداتو حقايق ور معلوم وي.

ځکه چې د دې مطلب ادراک لوړ دئ دلته يو مثال ورته راوړو: ليدلي به مو وي کله چې کومو دوو نفرو پخپل منځ کښې د سطرنج بساط غوړولی وي او مختلف الشکل مهرې ئې په متفرق او ګډ وډه وضع کښې پر بساط ايښې، بازی او چالونه سره کوي؛ يو نا خبره سړی چې د مهرو په اشکالو او نومو نه پوهېږي او په دا ډول پراګنده وضعيت کښې هغه ويني نو يو بې معنی شيان ئې بولي او په تش نظر ورته ګوري.

لکن ښکاره ده چې دا بازي خوشي او بې معنی نه ده بلکي د بشپړ انضباط لرونکې ده چې هغه دوه نفره بازي کوونکي په خبر دي اما هغه څوک چې د سطرنج په لوبه کښې ئې کامل اکتشافات کړي وي يعني د هغه هر ډول چال ئې سنجولی او کلي نتيجې ئې ځني را ايستلي او په دې ډول ئې سطرنج يو ځان ته علم ګرزولی دئ تر دې دوو نفرو لا هم د پوره علم خاوند بلل کېږي.

کائنات هم يو لوی بساط دئ انسانان، حيوانات او نور پټ او ښرګند موجودات مهرې دي چې مختلف اشکال او اسماء لري او د کامل انضباط له مخي پر دې بساط ايښو ولی سوی دئ انسان نهايت مجبور او ناچار دئ چې د دغو ټولو علم حاصل کړي ولي چې دی په کائناتو کښې خوندونه، لذتونه او نوري ډيري ښېګړې ويني او د هغو له غوښتلو څخه کرټ زړه نه سي صبرولای لکن ځکه چې د موندلو لار ئې نه ده ور معلومه او له بلي خوا د ناجائزي لاري څخه د موندلو په صورت کښې د نفي قانون چې په ټول کائنات کښې حاکميت لري، دی هرکله د ناکاميو سره مخامخ کوي او بشپړې کاميابۍ ته ئې (نه) پرېږدي نو د دې دپاره چې انسان د حقيقي او بقا لرونکي سعادت لار پيدا کړي مجبور دئ چې دا علم حاصل کړي. علم په خپل ځان کښې، يو نور دئ، چې د وحدت لرونکی دئ او پر ټول کائنات را احاطه سوی او په هره ذره کښې ساري دئ. علم خپله مرتبه لري چې د حواسو او عقل تر مرتبو پورته ده او هغې ته د علم مرتبه وايي؛ په حقيقت کښې په

هغه ډول لکه د حواسو په مرتبه کښي چي شی کښېوزي محسوس ئې بولي او د عقل په مرتبه کښي چي کوم شی داخل سي معقول ورته وايي دغه ډول د علم په مرتبه کښي هر شی علم سوی ګڼلی سي. په دغه مقام کښي تر جزوي او کلي پوري علم (يعني انضباط او نتيجه ده).

اما ځکه چي د عقل مقام د حس او علم د مقاماتو تر منځ واقع سوی دئ او له بلي خوا د انسان علی الاکثر د عقل په مقام کښي دئ له دې جهته نو تعريفات ټول، معقول وي هغه نفوس چي تزکيه سوي دي د حس، عقل او علم دري واړه رڼا وي سره بېلولای سي.

دا مطالب په علم حساب کښي ښه ترا ښرګندېدلای سي مثلاً (۲×۳=٦) په دې ځای کښي کامل انضباط او نتيجه ليدلي سي يعني که هر څو واره ۲ په ۳ کښي ووهل سي د ٦ نتيجه ورکوي اما دغه ٦ د ۳+۳ يا ۵+۱ يا ۴+۲ يا... څخه هم حاصلېږي او پخپله دغه ۲ او ۳ هم د (۱+۱) (۱+۲) څخه حاصل سوي دي، چي په دې ډول دغه عددونه په جمع او ضرب کښي ارتباط سره خوري او يا دغه ۲+۳ د ۵ نتيجه هم ورکوي دغه ډول (۵+۳=۸) او ۸−۲= بيرته ٦ کېږي ٦−۲ بيرته ۴ او ۴ ضرب ۲ = ۸ کېږي او علی هذا القياس يعني ټول عددونه د جمع، ضرب، تفريق، تقسيم او... حسابي قواعدو په توګه داسي سره جار وتلي او سره اړو دي چي کرټ بېلېده نه لري.

په دې ډول هر عدد چي موږ يوازي په نظر کښي ونيسو علم دئ ولي چي يو خو پخپله دغه عدد د بشپړو علمي قواعدو له مخي تشکيل سو ی دئ او بل د نورو عددو سره د انضباط او نتيجې له لاري اړه لري لکه د مخه چي ئې مثال ذکر کړه سو.

وګورئ (علم الحساب) په مجموعي او کلي ډول چي علم باله کېږي هم د انضباط و نتيجې لرونکی دئ او په ادنا جزو کښي مثلاً (۱+۱=۲) کښي هم دغه صفت ملاحظه کېږي.

نو وايو چي حساب تر جمع تفريق ضرب تقسيم او... پورته يو جامع علم دئ چي وحداني هيئت لري او موږ تش د علم الحساب په شکل د هغه تصور

کولای سو نور نو فکر په يوه وار پر دې ټول علم احاطه نه سي کولای خو هر کله چي فکر د دغه علم له مرتبې څخه لېږ و ډېر راوتروړي د جمع او تفريق او... په ډول چي ګواکي کچنی علمي اجزاء دي ليده کېږي. دا دئ، چي وايي د حساب علم درياب دئ او تر اوسه تکميل ته نه دئ رسېدلی او ډيري پټي پکښي سته چي بشر لا د هغو پټو په انکشاف کښي نه دئ موفق سوی. تر دې زياته توضيح په دې باره کښي نه سي ورکړه کېدلای.

دغه د حساب علم بيا د هندسې او اقتصاد او... د علم سره اړه لرلې او په لوی سر کښي ټول علوم يو دبله هغسي ارتباط سره لري لکه دمخه چي موږ د اعدادو په مثالو کښي څرګنده کړه. هلته ټول علوم، د علمي اجزاوو په شکل کښي ملاحظه کېږي، چي رجع ئې د علم، واصلي مرتبې ته چي د دغو ټولو علومو منبع ده کېږي. مثال ئې دا سي دئ لکه له بحر څخه چي سينونه او ولې را جلا سوي او هريوه بېله منطقه اشغال کړې وي.

هر کله چي علم په دې خپله جامعه او کلي مرتبه تصور کړه سي چي پر ټول کائنات راچاپېر او په هره ذره کښي ساري دئ نو ليدل کېږي چي په دغه مرتبه کښي هر شی علم سوی دئ يا په بل عبارت په هغه ډول لکه دغه شی چي د حس په مقام کښي محسوس باله سي همدغسي دغه شی د علم په مرتبه کښي علم سوی هم دئ.

مثلاً کومه درخته وګورئ سره له دې چي زموږ محسوس ده په عين زمان کښي علم سوې هم ده ځکه چي دا درخته د علم نباتات له مخي شنه سوې ده او که چيري پلټنه په هغې کښي وسي د دې درختي په موجود کېدلو او شنه کېدلو او فنا کېدلو کښي په کامل انضباط او نتيجه مشاهده سي.

او که د بشر قليل علم په ونه رسېږي دا د دې دليل نه سي کېدلای، چي نوموړې درخته علم سوې نه ده. دغه ډول هر شي ته چي ګوته ونيوله سي هغه شی علم سوی دئ. غير له دې هر کله چي موږ ته د علم اهميت معلوم سوی او غواړو چي زموږ ټولي چاري علمي سي نو په کائناتو کښي چي زموږ معلم دئ په درجه اولی علم موجود دئ. ځکه چي د بشر عقل د ودي او تکامل پر خوا درومي نو په دغه خپل نيمګړي حالت کښي د علم د جامعيت او کليت و

مرتبې ته وارد واره نه سي رسېدلای او پر دې ټول علم احاطه نه سي کولای بلکي د زمانې په تېرېدو سره ئې ورو ورو د عقلي انتزاع په توګه د علم له هغې جامعې مرتبې څخه را اخيستی او را اخلي يې؛ د علومو پيدا کېده چي د هغه لوی علم، علمي اجزا بايد وبلل سي په همدغه توګه سوی دئ.

دلته دا مسئله طبعاً لمن پيدا کوي يعني هر کله چي ټول شيان علم سوي وي او عقل سمدلاسه د دغو شيانو علم راټولوي (کشف کوي) نو ځکه چي په عالم کښي ښه او بد شيان دواړه وجود لري له دې جهته علم هم طبعاً د ښو او بدو په نسبت سره د مفيد او غير مفيد درجې لري په دې معنی د هر علم فايده چي عامه وي او دغه علم د هر ډول محلي او شخصي ملاحظاتو څخه تش وي دا علم مفيد او بالعکس بې ګټې دئ.

مثلاً کېدلای سي چي غلا دي يو مستقل علم او فن وګرزول سي او هغه ته دي داسي انضباط ورکړه سي چي که په دې انضباط عمل وسي تل دي بشپړه نتيجه وښندي. يا مثلاً لکه چي ومو ويل ترياک او نور مخدرات دي د کيف لرلو له جهته کاملاً علم کړه سي او بشپړ اکتشافات دي پکښي وسي. يا دا چي درواغ ځان ته علم وګرزول سي او داسي نور...

د مفيد علم مثال، علم طب دئ، چي په هر زمان او د ټول بشر په حق کښي ګټه لري او فايده ئې عامه ده؛ نو لکه چي څرګنده سوه علم د ښې هم دئ او بې ښې هم؛ دغه دئ چي وايي ځيني علوم نعمت او فضليت دئ او بعضي علوم حجاب اکبر او لعنت دئ، (العلم حجاب الله اکبر) و دغه غير مفيد علم ته اشاره ده.

په دې ځای کښي د انسان د غوښتنو او مفرطو هيلو اهميت او اغېزه ښه ترا معلومېږي، چي د علومو په انتخاب او استفاده موندلو کښي تر کومي اندازې پوري برخه لري، يعني علوم (د ښو او بدو) خارج له موږ څخه په پېخر وجود لري اما انسان ځکه چي د خپلو خواهشاتو مغلوب او محکوم دئ نو ئې هغه علوم ځني را اخيستي دي چي سمدلاسه د ده خواهشات ورپوره کوي لکه چي وايي د بشري علومو څخه مقصد هم آني او موقتي منفعت موندل دي.

که چیري له علم څخه د پخپله علم دپاره کار واخیستل سي او په همدغه اساس اکتشافات پکښي وسي هلته وینو چي علم انسان و دغه اوسني ژوندانه ته نه بلکي یوه لوړ او بل راز حیات ته لارښوونه او امر کوي. په دې ځای کښي نو دا موضوع پخپله انکشاف مومي او دا له ورایه ځني ښکاري چي په لوی سر کښي په کائناتو او په علم کښي هیڅ نقص نسته هر څه نقص چي دئ د بشر په طرز استفاده کښي دئ چي له طبیعت څخه ئې کوي ځکه چي که ښه ځیر سو د کائناتو تر ټولو بد شیان او تر ټولو غیر مفید علم عین کمال او ښېګڼې ده ولي ښه او بد یو د بل د پېژند ګلوۍ دپاره وسیله دي یعني که په عالم کښي بد نه وای ښه به چا نه پېژندل.

په دې کښي هیڅ شک نسته چي مثلاً د طب علم د بشر دپاره تر ټولو علومو لوی خدمت کوونکی او ګټه من دئ اما که یو څوک راولاړ سي او په لوی لاس چاته زهریات یا شدید مسهل ورکړي چي د هغه حیات په خطر کښي واچوي ښکاره ده چي دلته د علم طب هیڅ نقص نسته بلکي د سړي په سوء استفاده کښي ټول نقصان پروت دئ. نو معلومه سوه چي که له شیانو څخه استفاده پر اصل وکړه سي ټول شیان ګټور دي مثلاً د دروا غو پېژند ګلوي د دې دپاره ده چي درواغ ونه ویل سي او که چا وویل، سوء استفاده به ځني کړې وي.

دغه طرز د استفادې له شي څخه خورا عمیق مفهوم او د بشر په حیات او روحیاتو کښي مهم موقعیت لري؛ د دې غریزې په اثر بشر غواړي چي کائنات د خپل خواهش سره سم مسخر کړي او دنیا د ده په اشاره سره روانه سي.

طرز د استفادې له شي څخه د انسان په افکارو، عقائدو او اعمالو کښي مهم تغیرات راوستلي او دی ئې کله د حق او کله د باطل طرفدار کړی دئ د بشر ټولي تاریخي او مدني دورې د همدغه غریزې په اغېزه منځ ته راغلی دئ؛ نو هغه کومه پټه قوه ده چي د دې باعث ګرزي چي بشر دي له طبیعت څخه سوء استفاده وکوي یا دي له هغه څخه سم کار واخي[۵۸]؟:

---

[۵۸] واخي=واخلي (د کندهار لهجه)

دغه دئ چي دا بحث د پسيکولوژي (علم النفس) موضوع ده، د پسيکولوژي علماء په دې خصوص کښي تر اوسه پوره اکتشافات نه دي کړي او دا مسئله دغسي لاينحل پاته ده؛ سره له هغه دغومري راښووي چي د بشر د افکارو او معلوماتو په نسبت د ده احساسات او اميال قوي دئ او د ده د اعمالو زياتره حصه د ده د طبايعو او خواهشاتو په اغېزه منځ ته راوزي نه د عقل او علم په واسطه.

دې پټي قوې ته عموماً د بشري اخلاقو په نوم (که ښه اخلاق وي که بد) اشاره کوله کېږي او د اخلاقو د وجود پېژند گلوي په انسان کښي په دې ډول کېږي چي: د انسان وجود د ټولو موجوداتو مظهر دئ، دی يوه هنداره ده چي ټول شيان انعکاس پکښي کوي او يو محک دئ، چي هر څه پر معلومېدلای سي؛ د ده وجود لکه يو ماشين دئ چي هره پرزه ئې د مخصوصو اسبابو او شرايطو په درلوولو سره د خارج سره مناسبت پيدا کړي هغه خارج په دغه پرزه کښي اثر او ظهور کوي. مثلاً روغي سترگي يوه پرزه ده چي د خپل مخصوص اسباب او شرايطو په مرسته ليده کوي او تر څو چي دغه اسباب پر ځای وي موږ د خارج ټول شيان په سترگو ليدلای سو؛ بالعکس په ړندو سترگو يا په لاسو سره چي دا اسباب پکښي وجود نه لري ليده نه سو کولای دغه ډول په روغو غوږو سره د خارج هر ډول ږغونه اورېدلای سو او د شامې په واسطه هر راز بوی حس کولای سو دغه رنگه څه چي د نړۍ دواوي او غذاوي دي د هري يوې د استعمال څخه بېل بېل اثرات او کيفيات راحاصل کېږي؛ همدغسي عقل او پوهه د دماغ سره مناسبت لري ولي چي اسباب او شرايط ئې په دغه ځای کښي دي.

الغرض څه چي پټ او ښکاره موجودات دي تر علوي او سفلي، جسمي او روحي پوري په يوه توگه ئې د انسان سره رابطه لرلې د ځينو د حصول او د بعضو د معرفت او پېژند گلوۍ دپاره ځان ته اسباب او لوازم په انسان کښي سته؛ له دې جملې څخه د ځينو حصول په ډېره سهل او آسانه طريقه سره امکان لري لکه چي که وغواړو کوم شی مطلق ووينو، نو محض سترگي هغه شي ته ور اړوو نو موږ شی زموږ په سترگو کښي حاصل دئ يا کوم ږغ

اروېدل غواړو نو غوږ ورته نيسو او داسي نور. په دې ضمن کښي اکثر هغه شيان چي د بشر حواس، عقل، تجربه او بالاخره ظاهري علوم ئې اسباب او وسائط دي پېژندګلوي ئې سوې ده. اما د بشري اخلاقو د حقيقي پېژند ګلوۍ او حصول دپاره چي د انسان د ذات مغز او په نفسياتو کښي تر ټولو عميقه، سخته او مهمه منطقه تشکيلوي. سماوي اديان اسباب او شرائط ګڼلي سي بله هيڅ واسطه ورته نسته. (بعثت لاتمم مکارم الاخلاق).

ديني اعمال د انسان د باطن په اعماقو کښي کار کړي او د ده د نفس ټولي پټي او هم د کائناتو پټ عالمونه و ده ته ورښکاره کوي او په دې ډول د پسيکولوژي هغه حصه تکميلوي، چي د دې علم پوهان تر اوسه د هغو له پوهېدلو څخه عاجز دي. د (سيکومنډ فرويډ) غوندي مهمي نفسياتي پلټني د هغو اکتشافاتو په اړخ کښي چي دين ئې په دې خصوص کښي رامعلوموي د هلکو بازۍ ښکاري.

**د اسلامي پسيکولوژۍ خلاصه ده ملاحظه دي وسي:**

انسان د بندو خواهشاتو مرکز دئ، چي د ده روح تل نا آرام او په آلام کښي لري دغه غوښتني د ده له باطني اخلاقو څخه راپورته سوي او باطني اخلاقو، د ده له نفس (ذات) څخه نشئت کړي؛ دي بالمقابل د حق او حقانيت لايتغير قانون چي په ټول کائنات کښي کاملاً استيلا او حاکميت لري قهراً د بشر د خواهشاتو څخه منافي دي. دين د انسان هيلي او آرزوګاني لړو ډيري بندي کړي وار دواره دي و سير علمي ته امر او لارښوونه کوي، چي د دغه علمي سير د تکميل په نتيجه کښي بشر د کائناتو په هغه لايتغير قانون پوه سوی او له شيانو څخه په حقه استفاده کوي؛ دغه علمي سير په عقل سره هم بشر ته برېښېدلی دئ او معلومه سوې ده چي بشر د علمي مدنيت و خواته وړاندي درومي.

انسانان په دوو توکو د مادي او معنوي تکامل و خواته وړاندي ځي يو د تفصيل په توګه بل د اجمال په ډول. د تفصيل په ډول د دې لاري طی کېده انتها نه لري ولي چي ممکنه نه ده کائنات دي په قدم او پلي صورت طی کړه سي علی الخصوص چي د دې سير په ضمن کښي د بشر هغه بند خواهشونه هم په هر وخت کښي په غليان کښي وي او دی د عروج له خوا څخه را ګرزوي

او په مادي خوندو کښې ئې بوښتوي.

نو څرنګه چې ټول عالم په پياده پښو طی کول امکان نه لري دغه ډول دا هم ممکنه نه ده چې د ساينس په مرسته دي د دې لويي کار خانې يا په بل عبارت د طبيعت او مادې ټول قوانين او قواعد کشف کړه سي همدغسي نه سي کېدلای چې د علم و فلسفې په واسطه دي د کائناتو ګرده اسرار او نواميس او حقايق معلوم کړه سي دا ځکه چې نه يوازي عالَم ډېر او بې انتها دي او له دې کبله بشر په هغه نه سي رسېدلای بلکي له دې جهته چې په لوی سر کښې د انسان لوی وصف، متاثر کېده دي او د ده حواس او روح اثر قبلوونکی دئ نو هر کله چې د عالم ټول شيان مفصلا د ده پر روح او حواسو عرض کړه سي په داسي حال کښې چې هر ډول تاثر چې دوام پيدا کړي اولاً د ده په حواسو، اعصابو او ظاهري قواوو کښې ئې ريښه نيولې وروسته د هغه له اغيزي څخه د ده په روحياتو کښې ژور اثرات ښندي او عادت ئې ګرزي او بالنتيجه د ده په عقايدو او افکارو کښې عظيم انقلاب جوړوي، نو آيا دی له دې ګرداب څخه وتلای سي؟

ځومري واضحه او تر لمر سپينه مسئله ده چې "انسان چې اوسي په خوی به د هغو سي" دا يو لوی حقيقت او د پسيکولوژۍ خلاصه او لب لباب دئ. دغه (ځای)دئ، چې انسان د زمانې په تېرېدو سره سمدلاسه له خپل اصلي مقام څخه چې د روحانيت او نورانيت له عالم څخه عبارت دئ راکښته سوی د محسوساتو په کارخانه کښې مبتلي.

تاريخ، علم او تجربه درې سره دا راښووي چې بشر متدرجاً له علوي عالم څخه و سفلي عالم يعني د محسوساتو نړۍ ته تنزل کوي او هر څومري چې دغه تنزل ډېرېږي هغومري د ده افکار او عقايد هم ورسره راکښته سوي په همدغه مقام کښې ځای نيسي. دغه نزول داسي حد ته رسېږي څو د انسانانو توجه له يوه مخه د محسوساتو جهان ته ورځرمه سوې بل عالم نهويني او نه ئې غواړي حتی سعادت هم له حسي سعادت څخه مراد ګڼي.

هر کله چې د انبياوو، اولياوو، علماوو، حکماوو او فلاسفه وو او د نړۍ د نورو تاريخي نوابغو په ژوندانه کښې پلټنه وکړه سي او د هغوی و

پوهني، اخلاقو او بالاخره کار نامو ته چي له يوه مخه خير او ښېګڼي دي په غور کتل سوي د دوی د مقام او منزلت تصور وکړه سي له ورايه ځني معلومېږي چي د عادي او معمولي انسانانو تر عالم پورته يو بل فوق عالم سته؛ او دا په ټينګه ثابتېږي چي د لوړو انسانانو پوهنه، اخلاق او خواهشات د کښتو انسانانو له پوهني اخلاقو او غوښتنو څخه بېل او متفاوت دي؛ يعني په هغه ډول لکه د معمولي انسان عقل و فکر او اخلاق چي د محسوساتو تر نړۍ لوړ دي دغه ډول د نوابغو پوهنه او اخلاق بيا د عادي انسان تر عقل و فکر پورته دي؛ يو وخت وو چي په نړۍ کښي آلهياتي مسايلو، دينياتو او اخلاقياتو غلبله لرله بل وخت بيا عقول په نهايت اشراق کښي وه عقلي علومو او حکمت حاکميت درلود.

په راوروسته کښي چي د عقل او منطق عصر ګڼل کېږي او ښايي چي د محسوساتو د نفوذ دوره ئې هم وبولو د روحانيت خوا طبعاً لاندي سوې او د نقل متابعت خو لېږ سوی دئ بلکي د عقليونو متابعت هم پاته دئ او وګړو ونکړای سو چي خپل عقول دي د پخوانيو عقليونو په توګه په اشراق کښي کړي او هغه شيان چي هغوی د خپلو عقلو په سترګو ليدل دوی دې هم وويني ځکه چي هغوی سره له دې چي د خپلو عقلو متابعين وو بيا هم ځني اعمال او رياضات ئې د دين په توګه د ځان دپاره ټاکلي او د نفس په تصفيه او تزکيه قايل وو.

هوکې، دغومري قدر دئ، چي ځکه چي د هر پورته عالم محتويات چي په دغه عالم کښي د اصل په توګه موجود دي اجمالا او تفصيلا او د صورت او ظل په شکل کښي په کښته عالم کښي وجود لري نو که په دغه کښته عالم کښي پلټني او تحقيقات وکړه سي محققين او پلټونکي خيال کوي چي دوی هغه شيان چي پورته نړۍ کښي موجود دي او چي د دغه نړۍ اوسېدونکو د هغو بيان او ذکر کړی دئ په اصلي شکل کښي ويني نه د صورت او ظل په شکل کښي.

وګورئ د پخوانيو پوهانو افکار عيناً او پخپل اصلي شکل کښي موږ ته نه دي رانقل سوي بلکي په ظلي شکل کښي يعني د تورو په ډول چي د دغو افکارو لفظي صورتونه دي راپاته سوي دي او موږ غواړو چي د تورو د معناوو له لاري څخه د پخوانيو د افکارو اصل مقام ته ور ولوېږو او څرنګه

چي دوی کوم شی فهماوه موږ دي هم هغه شی په هغه ډول وفهمو و حال دا چي چيري له ليک څخه پوهيدنه او چيري له خولې څخه فهمول او بيا چيري چي د وينا څخه اخيسته وکړه سي او چيري چي د وينا کوونکي افکار او فهم عيناً د اروېدونکي په ذهن کښي متمرکز وي، ډېر توپير سره لري. دغه (ځای) دئ، چي تل يو متابع د خپل متبوع و مقام ته د ده په حضور او غياب کښي هغه وخت ور رسېدلای سي چي عيناً د هغه په ډول اسباب او شرائط يعني د علم او عمل آلات ئې دواړه ورته تهيه کړي وي.

لنډې دا چي د معنوي او حقيقي انسانانو عالم لوړ او د مادي انسانانو ټيټ کښته ده. د هغوی ټول حواس او روح په عالم معنا کښي ډوب او عقول ئې د معنا و پلټلو ته متوجه وو مگر د مادي انسانانو توجه و ماديا تو ته ورڅرمه ده نو هغوی ټول کمالات د اصل په توگه لرله او د دوی دا د صورت په توگه دي.

اوس دا خبره پاته ده چي انسان څنگه د مادي او معنوي تکامل و خواته د تفصيل او اجمال په ډول تگ کوي؟ دا خو منلې ده چي انسان د تفصيل په مقام کښي له اجمال څخه کار اخلي او د اجمالي شيانو معاينه په تفصيل سره کوي علم هم دا راښووي چي بشر اکثراً لکه په موټر کښي چي سپور وي و شيانو ته په اجمالي ډول گوري او تر تېرېږي مثلاً يو څوک چي پر بازار را رهي سو، دی و ټولو شيانو ته په تفصيل سره نه گوري بلکي په سرسري کتنه تر تيرېږي دغه ډول د يوه مسافر نصب العين خپل د مقصد ټکی وي پر لاري نه درېږي يوه بېړۍ په بحر کښي يوه نرۍ او نژدې لار تر ساحل پوري طی کوي او داسي نور مثالونه؛ مگر يو کچنی او لږ شی مفصلا معاينه کوي. دين هم دغه ډول پخپل علمي سير کښي چي د هغه په ضمن کښي ورسره اخلاق سمېږي يوه لنډه لار اختيار کړې او د اجمال په ډول ځيني اصول او قواعد بشر ته ورښووي، چي وروسته د دغو اصولو له مخي بشر په تفصيل سره حرکت کوي (زجزوی سوی کلی يک سفر کرد-وزانجا باز بر عالم گذر کرد) و دغه مطلب ته اشاره ده. دغه اساس مجملاً عبارت دئ له "آمنت بالله و ملئکته و کتبه و..." ټول ازل او ابد له دغه اساس څخه وتلي نه دي.

اما هغه سير چي غير له دين څخه دئ، تفصيلي دئ او د دې سير زياتره

حصه په ماده کښې او ډېر لږئې په معنی کښې ده. مثلاً د ساینس علمي سیر تفصیلي دئ ولې چې ساینس غواړي له ذرې څخه تر لمر پورې د ټولو شیانو په باب کښې مفصلاً پلټنه وکړي اوس که د دې تحقیقاتو په ضمن کښې ځیني قواوي لکه برق او نور برقي او غیر مرئي امواج کشف کړي؛ دا شیان چې د مجرداتو یا مثلاً د عالم معنا د نورو شیانو مثال او صورت په عالم ظاهر کښې دئ د ساینس پوهانو هغه اصلي او معنوي اشکال ګڼلي او په نتیجه کښې افکار او عقاید هم چې له عالم معنی څخه دي په دغو صورتو کښې بو ښت کېږي او تنزل کوي.

دغه دئ چې په را وروسته کښې د دین، الهام، معجزې، مجرداتو، دوږخ او جنت او... په باب کښې ځیني نوي معاني او مفاهیم پیدا سوي دي.

**پای:** تر دې ځایه پورې مي د دې موضوع په شاوخوا کښې څه نه څه ولیکل په دې باب کښې زه نورې ډېرې خبرې لرم چې متاسفانه د طوالت د بیرې له جهته سمدلاسه صرف نظر ځني کوم د علم او بصیرت ښتنتنان پوهېږي چې افکار د جلي، خفي بلکې اخفی شکلونه لري افکار او خیالات چې هر ځومرې لوړ وي هغومرې لطیف او باریک وي او د داسې لوړو او باریکو افکارو په اظهار کښې یو نادر لیکونکی توفیق موندلای سي. ولې یو خو افکار پخپل اصلي مقام کښې هیڅ ډول ترتیب نه لري بلکې د لمر د وړانګو په څېر په شعشعان کښې وي نو د دې دپاره چې هغو ته ترتیب او انتظام ورکړه سي او د الفاظو په قالب کښې وړاندې سي (په تېره بیا چې افکار لطیف او باریک وي) کمال صنعت او هنر ورته په کار دئ. د پوه او بصیرت خاوندانو ته معلومه د، چې عالي افکار په هر زمان کښې او د هر چا له قلم څخه چې اظهار سوي دي، د عوامو په نظر کښې د رمز او غیر منظم په شکل کښې ښکاري حال دا چې هغه پوره ترتیب لري او دا چې عوامو ته بل راز معلومېږي سبب دا دئ، چې د باریکو خیالاتو د فهم دپاره باریک خیالات په کار دي.

انتها

(ع، ل)

*****

## د ښووني اصول[۵۹]

دمخه تردې چې د تعليم اصول بيان کو، ښايي چې د دې علم يو لنډ تعريف هم ووايو څو د دې علم له تعريف څخه د تعليم په اصولو ښه وپوهېږو څرنګه چې پالونکی او روزونکی د کوچني د زوکېدو څخه بيا تر هغو چې کوچنی و تعليم او زدکړې ته چمتو کېږي پر کورنۍ روزنه ئې پاملرنه کوي او په مخصوصو قواعدو ئې روزي هغسي معلم هم بايد تر مخصوصو قواعدو لاندې ئې وپوهوي او په فکري او ذهني انکشافو کښې دې زيار وکاږي. دا دئ چې روزنه که جسمي وي او که عقلي تر ټاکلي اصولو لاندي اداره کېږي.

د دې اصولو و پوهنې ته زموږ په تعبير د روزني علم او د نورو په ژبه پيداګوژي ويل کېږي.

نو ښوونکی چې په مکتب کښې د کوچنيانو د پوهنې کړاو ئې پر اوږو اخيستی او لو دنده ئې تر غاړې ده بايد پر هغو اصولو چې د تجربه لرونکو علماوو له خوا ټاکل سوي دي، تلنه وکړي څو تعليم ئې بې ښې او خوارۍ ئې عبثي نه سي. دا دئ چې په دې څو ليکو کښې و ښاغلو ښوونکو ته د تعليم اصول او د پوهانو قوانين او لارښووني ور وړاندي کوو.

تعليم او تعَلّم دوې متمايزې کلمې دي چې لومړۍ ئې و معلم ته او دوهمه ئې و متعلم ته ټاکلې سوې ده. يعني ښوونکی لوست ورکوي او زده کوونکی ئې زدکړه کوي.

مګر هر څوک چې لوست ورکوي ښوونکی نه دئ او هر يو چې لوست اخلي زده کوونکی نه دئ ولي ښوونکی هغه وخت ښوونکی باله کېږي، چې زده کوونکی وپوهوي او زده کوونکی هغه وخت زده کوونکی ګڼل کېږي چې حقيقتاً لوست زده کي او وې وايي او ځان په پوه کي.

---

[۵۹] طلوع افغان، ۱۳۲۴ل. کال، (۷۱، ۷۲، ۷۳، ۷۴، ۷۵، ۷٦، ۸۰، ۸۱، ۸۲) پرله پسې ګڼې.

**ښوونه څه شي ده؟**

ښوونه و دې ته نه وايي چي معلم د متعلمينو سره خبري وکي يا د دوی څخه څو محدودي پوښتني وکي يا د دوی مشکلات ورحل کي يا دوی ته په (فصاحت) او روانه ژبه وينا وکي، بلکي تعليم و هغي مقرري اندازې پوهني ته وايي چي د معلم په دماغ کښي ميشت او متعلم گټه ځني واخلي يعني د متعلم په افکارو او دماغ کښي هغه شی داسي ځای ونيسي چي گويا د ده اصلي پوهه او فکر وگرزي. نو که د يوه مطلب پوهه د زده کوونکي په دماغ کښي په اصلي صورت ميشت والی ومومند هغه ته تعليم ويل کېږي د متعلم معلومات او فکر د معلم مقياس او د ښووني اندازه ده. يعني تعليم هغه وخت ښه او اغېزه لرونکی واقع کېږي چي د شاگردانو تر قوه زيات نه وي يا د پوهېدو او تشريح په وخت کښي ئې هاسي کلمې او جملې نه وي چي دوی علاوه پر دې چي په مطلب ونه پوهېږي د جملو او کلماتو و ترجمو ته هېښ پاته سي.

همدغسي د تعليم بل مقياس د هلکوانو شوق او بوختول دئ، چي معلم بايد وار دواره دا و ځان ته معلومه کي چي هلکوان د ده و درس ته څونه توجه لري او د هغه توجه او شوق له مخه بايد تعليم پر مختگ وکي.

نو معلم دي لومړی د شاگردانو فکر او عقلي نشاط وگوري او په جماعت کښي دي و شاگردانو ته هغه کارونه ورکوي چي د دوی فکر او عقلي نشاط ور وروزي او دوی پر دې راولي چي اروېدلي و وايي او د تطبيق و ميدان ته ئې راوباسي.

ځکه که تعليم په يوه غوږ واروېدل سي او د بل غوږ څخه ووزي نو تعليم نه دئ. ولي چي لويان چي کمه وينا واروي دوباره ئې په هغه ډول نسوای ليکلای او نې سوای ويلای څه خاصه چي کوچنيان ئې واروي. نو که تعليم د تکرار او تطبيق لامله پر مختگ نه درلود او اروېدلي د شاگرد په ذهن کښي ذهن نشين نه سوه، نو تعليم گټه نه رسوي. [٦٠]

---

[٦٠] په (۷۳ او ۷۴) گڼو کي د دغه مضمون عنوان په (ښوونه څه شي ده) اوښتی دئ. (م. ه)

معلم دي د يوې خوا د لوست تشريحات ورکوي او د بلي خوا دي د شاگردانو د فکر د بختېدو دپاره زمينې برابروي ځکه که يوازي د لوست شرح او د هلکوانو پوهېده مقصد وي نو د لوست په لومړيو دقيقو به ئې هلک پوه سي مگر په تحقيق او فکر کولو پسي بې سر نه گرزي او په محض د دې چي په پوه سو، لوست او فکر به پرېږدي.

نو د دې دپاره چي هلک د لوست څخه فارغ نه وي او تل د لوست فکر او ژوره کتنه ورسره وي ښه دا ده چي په عمومي صورت د لوست شرح وسي مگر خصوصي ټکي ئې د شاگردانو و فکر کولو ته پرېښووه سي څو دوی په خپل فکر سره د لوست جزئيات او کليات حل کي او د لوست په روح ننوزي.

دا دئ چي د دې اصل څخه د هلکوانو ذهني قوه او د تتبع او اکتشاف فکر ورپراخ او نوي انکشافات او خيالونه او پوښتني پکښي پيدا او په دې وسيله د هر شي حقيقت او ماهيت ور معلوم سي نو د يوې خوا ئې لوست په حقيقي معنی زده سي او د بلي خوا ئې د خپل فکر او زيار له پلوه تر ابده نه هيرېږي. معلم دي هلکوانو ته کلي په لاس ورکي څو دوی پخپله ور خلاص کي او د وره د خلاصېدو په شاوخوا کښي په خپله ځير سي.

تر دې ځايه مو د تعليم پر عمومي قاعده لنډه څېړنه وکړه ښايي چي په ځينو درسو کښي دا قاعده لکه چي وويله سوه تطبيق نه وي او يا دوه معلمان په علم او تجربه او عقلي نشاطو کښي سره برابر نه وي او همدغسي ډېر پيښېږي چي يو معلم د شاگردانو د قوو په اختلاف يا د لوست د مقصد په اختلاف د لوست د تدريس لاره واړوي او تعليم کټ مټ پر دې مسايلو محدود او محصور نه کي مگر بيا هم لاندني قواعد په هر ډول لوست او په هر راز ښوونه کښي لوی لاس لري او د اساسي قواعدو په ډول په هر راز تعليم کښي دخيل دي چي عمل ئې د لوست په درستو فروعاتو کښي حتمي او لازمي گڼل کېږي.

۱-تعليم دي د محسوسي څخه و معقولي ته وي يعني د ښکاره شي څخه دي د معقول و خواته ځي. مثلاً که شاگردانو ته عدد ور ښووه کېږي نو بايد محسوس شيان دي و مخ ته وشمېره سي څو دوی د عدد په ماهيت پوه سي.

همدغسي د حيات په معلوماتو او د دروس اشيا په درس کښي دي لومړی پر مشاهداتو پيل وسي او بيا دي د معنی و خواته ولاړ سي، د صرف و نحو او د ژبي په ښوونه کښي دي له مثال څخه تعريف او قواعد ورشرح سي او د محاورو او جملو څخه دي و قاعدو او ګرامر ته ځي.

۲-تعليم دي د معلوم څخه و مجهول ته وي ځکه د مخيلې قوه د مرکبو صورتو پر تکوين باندي تر هغو پوري قادره نه ده څو يوه اندازه مفرد صورتونه په ذهن کښي حاضر نه سي. مثلاً که معلم و شاګردانو ته (غر) ور ښيي، ښايي چي لومړی غونډۍ او ګاري او کاڼي او نور داسي شيان چي د غره سره ورته وي او د غره فکر تشکيلوي، و شاګرد ته وړاندي سي او وروسته دي د غره تعريف او تعليم وسي.

څو په دې وسيله د غره صورت د زده کوونکي په مخيله کښي تکوين سي، ځکه که زده کوونکي ته د داسي شي تعريف وسي چي ده په عمر نه وي ليدلی، نو په مخيله کښي ئې هيڅ کله د داسي شی تکوين نه ورګرزي.

۳-تعليم دي له خاص څخه و عام ته وي ځکه کوچنی د مشابهو صفاتو پر پوهېدو باندي چي ډېر افراد په دې صفاتو کښي سره ورته وي، قادر نه وي او هر څونه چي د هغه صفات سره ورته او د ټولو افرادو په نوع کښي موجود وي بيا هم د شاګرد و ذهن ته نه راځي مګر هغه وخت چي هغه صفات ويني او د مشترکو او غير مشترکو تر منځ توپير ورکړي او د تطبيق په واسطه د درستو افرادو د صفاتو تر منځ تعميم وکړي.

مثلاً چوکۍ ځيني صفات لري چي د دې صفاتو څخه ځيني په نورو چوکيو کښي هم وي نو شاګرد به دا عمومي صفات تر هغو پوري ونه پېژني څو ډېري او راز راز چوکۍ ونه ويني نو که هر راز چوکۍ ئې وليدې او مشترک او غير مشترک صفات ئې مينده کړه او تعميم ئې وکی او يا نور شيان هم چي د لرګو څخه د چوکۍ هر ډول جوړ سوی وي، وګوري نو پوهېږي چي هغه درستي چوکۍ دي (او) دا هم د چوکۍ په شان يو راز چوکۍ دي. نو څو په تدريس کښي د خاص څخه په عام پوه نه سي معنوي او نوعي معلومات نه حاصلېږي دا دئ، چي دا اصول تدريجي او طبعي اصول ګڼل کېږي.

۴-تعلیم دي د مسمی څخه و اسم ته او د معنی څخه و لفظ ته وي، ځکه وخت چي و هلک ته د یوه شي په باب کښي څه وویل سوه او د ده په ذهن کښي نسبت و هغه شي ته یو فکر پیدا سو نو د دې فکر څخه و هغه شي ته یو نوم وټاکي که دا نوم د ده د فکر او معلوماتو څخه صحیح را وخوت ښه تر ښه او که صحیح نه وو نو معلم دې ورسم کي او صحیح نوم او لفظ دي د روښیي دا طریقه خورا اغېزه ناکه ده او متعلم د لوست په یادولو اموخته کوي، ځکه دی په معلوماتو کښي فکر کوي څو یو نوم او لفظ مینده کړي او په دې وسیله مسمی تر اسم دمخه ور زده او په یاد سي او تل معناوي دمخه تر الفاظو زده کړي. بر عکس که شاګرد په دې طریقه روږد نه سو او په دې روږد سو چي الفاظ دمخه تر معنی زده کړي نو تل په خطاوو کښېوزي او دا خطاوي ئې ورو ورور فکر ور خراب او په نتیجه کښي به ئې لفظونه په یاد وي او په مطلب (به)نه پوهېږي طوطي غوندي بې وایي او په مطلب به اشنا نه وي او هم دغه وجه ده چي د تفکر او پلټولو څخه ئې اچوي.

۵-معلم دي د تلقین او تعلیم او تهذیب تر منځ فرق وکړي، تعلیم دي لکه تلقین او تلقین دي لکه تعلیم نه استعمالوي. که څه هم په ښوونه کښي تلقین داخل او لو برخه لري مګر بیا هم د تلقین لوست دي د تعلیمي لوست څخه جلا او هریو دي پر خپل ځای او موقع استعمالوي.

نو د دې لامله چي تعلیمي او تلقیني لوست سره بېل او په ښه ډول ئې فرق سره وسي، لوست درې رازه دئ: تلقیني لوست، تدریسي لوست، تهذیبي لوست.

**تلقیني لوست:**

و هغو علمي قضایاوو او تعریفاتو ته وایي، چي د زده کوونکي و عقل ته د فکر کولو مجال نه ورکوي لکه جغرافیایي نومونه یا د ریاضي مقایسات.

**تعلیمي لوست:**

هغه قضایاوي دي، چي د زده کوونکي درست قوا په روزل کېږي او په دې څانګه کښي هاسي مواد و زده کوونکو ته وړاندي کېږي چي د فکر وړ وي. دا دوه رازه تعلیمونه په علمي او عقلي روزنه کښي مهم ګڼل کېږي مګر

یو د بل پر ځای نه استعمالېږي او هر یو جلا ځای او بېل موقع لري. مثلاً وخت چې د ځینو نومو یا د ځینو اشعارو په یادېده مقصد وي او معلم هغه نومونه او اشعار د شاگرد د علمي او اخلاقي افکارو دپاره ښه او لازم وبولي نو ښایي چې په دې زمینه کښې تلقیني لوست د مخه کړي او له دې پلوه گټه واخلي.

مگر که کمه غور طلبه مسئله وه چې د شاگرد ذهني انکشاف پکښې مطلب وو، نو تلقیني لوست فایده نه کوي نو په دې موقع کښې دي باید د تعلیمي لوست څخه مرسته واخلي.

**تهذیبي لوست:**

تهذیبي لوست هغه دئ، چې علاوه پر تلقیني او تعلیمي معلوماتو د شاگرد لارښوونه او د نفس تهذیب ئې وسي لکه چې یو پیداگوژي عالم وایي:

تهذیبي لوست مکتسبه معلومات ته نه وایي بلکي په دې لوست کښې عقلي قواوي د تهذیب او اخلاقو له پلوه باید وروزل سي څو د نفس تهذیب او پاکوالی حاصل سي.

دا دئ چې درې واړه صورتونه په تعلیم کښې ضروري گڼل کېږي مگر معلم دي په دې درو اقسامو او همدغسي په پخوانیو پنځو اصولو کښې د زده کوونکي عاقله قواوي نه هېروي او درستي قواوي دي د صورت د روغتیا سره سمي وروزي او په انکشاف دې راولي. پورتني پنځه اصوله چې د هر راز تعلیم دپاره اساسي رکنونه بلل کېږي د ځینو مسایلو سره اړې لري چې د بشپړې ترڼي او موافقت له پلوه ئې علما د پنځو اساسي رکنو فروعات بولي او هر معلم ته ښایي چې د هغو پنځو اصولو په مراعات کښې د دې فروعاتو مراعات هم ولري.

**۱-د استنباط او استنتاج طریقه:**

یعني په تعلیم کښې د ډېرو مثالو او تعریفاتو څخه یوه عمومي قاعده را ایستل، چې ځیني علما ئې د عقل خوځېده د لوړ والي و خواته بولي. لکه په جغرافیایي ښوونو کښې معلم کولای سي چې د شاگردانو فکر و دې ته راولي چې د لاندني مثالو څخه یوه عمومي قاعده لاس ته راولي مثلاً:

۱-د اورال غرونه چې د اروپا او اسیا په منځ کښې له شمال څخه و

جنوب ته پراته دي لوړوالی ئې کم او معادن ئې ډېر دي.

۲-د انډيز غرونه چي له شمال څخه و جنوب ته ممتد سوي او لوړوالی ئې هم نسبتاً لږ دئ هم ډېر معادن لري.

۳-همدغسي هغه غرونه چي د انگلستان له شمال څخه و جنوب ته پراته دي، ټيټ او معادن ئې ډېر دي نو د دې مثالو او مقارنې او مقايسې څخه د شاگرد فکر و يوې عمومي قاعدې ته راسي چي هر ځای غرونه ټيټ او له شمال څخه و جنوب ته پراته وه ډېر معادن لري. دا دئ چي په دې اصولو سره د رياضي، جغرافيې، صرف و نحو شيمي او د نورو مضامينو تعليم ښه کېږي او معلم ژر کاميابېدای سي.

دوهم: د قياس سره تطبيق يعني د قاعدو د بيان څخه و مثالو ته تلل، مثلاً د دې دپاره چي يوه قاعده يا تعريف د هلکوانو په ذهن کښي پاته او ذهن نشين سي نو معلم دي ډېر مثالونه ووايي څو د ډېرو مثالو له لامله هغه مسئله داسي ورته ښکاره سي چي بيا ئې هېره نه سي.

دريم: د استنباطو او تطبيقاتو گډون: يعني لومړی دي د ډېرو مثالو د ويلو څخه يو عمومي حکم او استنباط د شاگردانو په ذهن کښي پيدا سي او بيا دي تطبيقي مثالونه راوړي، څو شاگردان په دې ذريعه فکور او اختراع او کشف ته چمتو سي.

څلرم: د تشابه اصول: يعني دوه شيه چي سره ورته وي بايد مقايسه سي او په دې ترڅ کښي د عمومي او سره ورتو صفاتو څېړنه وسي.

انتها

*****

## د ادبي پوښتني په شاوخوا کښي[٦١]

محترم لوستونکي د ښاغلي ح. سرپاړي په ادبي پوښتنه چي له ليکوالو څخه ئې وکړه، خبر دي او په دې سره چي د هغې پوښتني په باره کښي تر اوسه پوري هيچا خپل نظريات ونه ليکل، هم واقف دي. دا عمومي سکوت د لوستونکو د حيرت باعث سوی، ډول ډول تبصرې او شفاهي نظريات د هغه په شاوخوا کښي په عمل راغلل؛ په دې ترڅ کښي ماجرا غوښتونکو اشخاصو هم خپل کار په ښه صورت سره اجرا کړی او د طرفينو په منځ کښي ښې خاشې ماتي کړي چي په نتيجه کښي دواړو ترمنځ سوء تفاهم پيښ سو.

زه چي له ابتدا څخه د ښاغلي رشاد د شعر ويلو پر فطري استعداد او د ښاغلي سرپاړي د تفکر پر ذاتي قوه باندي قايل يم او د اول الذکر له آبدارو اشعارو څخه هر کله ذوق مومم او د آخرالذکر له دقيقو افکارو څخه خپل ځان مستفيد گرزوم او بالاخره د دواړو په رياليستک او د حقيقت پسندۍ پر بې آلايشه خيالاتو باندي پښپړه اعتماد کوم نو مي هيڅکله دا گمان نه درلود او نه ئې اوس لرم چي ښاغلی سرپاړی دي خاص د شهرت غوښتلو او د خپل لياقت د اظهار په غرض دا ادبي پوښتنه کړې وي او يا دي ښاغلی رشاد سره د دې چي د شعر ويلو په قوانينو کښي ښه واقفيت لري د ذکر سوي پوښتني په مقابل کښي دي هيڅ يو جواب هم ونلري! هغه وو چي د خپل حيرت او د لوستونکو د سوء تفاهم د ورکولو دپاره مي د دواړو سره بېل بېل مباحثه او تبادل د افکارو وکړی. دا دئ چي د دواړو د نظرياتو خلاصه چي ډېره ساده او فقط يو څو خبري دي لاندي رانقل کوم.

ښاغلي سرپاړي له پخوا څخه جداً د دې طرفدار دئ چي پښتو شعر بايد تر عروضو اوزانو لاندي راوستل سي او د پخوانو تعقيب دي په دې باره کښي وسي او هم په ډېره دلچسپي سره دا ادعا کوي چي د موسيقي مراعات هم په شعر کښي لازم دئ. نوموړي د دې خپلو نظرياتو په باب کښي کلک

---

[٦١] طلوع افغان، ۱۳۲۵ ل. کال، (۸۳) گڼه.

دلایل وایي او ټینګه عقیده لري چي که پښتو شعر تر وزن او عروض لاندي نه راوستل سي نو د دې ژبي د شعراوو آثار به په آینده کښي د نړۍ د علم و ادب د پوهانو په نزد د اشعارو په توګه ونه منل سي. نو د دې همدردۍ او د خپلو مطالعاتو له مخي غواړي چي شعرا پخپلو تکالیفو پوه سي.

بالمقابل ښاغلی رشاد چي له علم عروض څخه ناخبره نه دئ پاته، داسي عقیده څرګندوي چي (په) پښتو شعر کښي د عروضو د لحاظ یو حل طلبه او عمومي مسئله ده چي یوازي د یوه سړي افکار په دې خصوص کښي کافي نه ګڼل کېږي بلکي د علمي مجامعو له خوائې باید حل وسي او تر څو چي دا موضوع د ټولو پوهانو له خوا حل او منل کېږي نو دا عامه نقیصه به د ټولو ویونکو حتی د اساتیذو په اشعارو کښي هم طبیعي باید چي وي. لکه چي دغسي هم ده. (ښاغلی رشاد د پخوانیو او اوسنیو اساتیذو د اشعارو ډېر مثالونه میندلي دي چي پر عروضو برابر نه دي ویل سوي) ځکه نو اشاره کول و دې موضوع ته هم ښایي چي عامه وي، نه دا چي په خصوصي ډول د یوه سړي و شعر ته اشاره وسي. ښاغلی رشاد وایي د شعر اصلي غایه چي د احساساتو له پاڅولو څخه عبارت ده بېله د عروضو له مراعات څخه هم په لاس راځي او عروض د دې مقصد په موندلو کښي هیڅ کومک نه سي کولای. دا یو وزن دئ، چي ظاهر کلمات په وزن داره کوي او بلکي د عروض مراعات د شعر ویلو دایره لا محدود کوي او د شعراوو تعداد لږوِي. الغرض دواړه پوره دلایل وایي او دا یوه حل طلبه دقیق موضوع ده چي ټول باید پکښي وږغېږي. زه دوستانه هیله کوم چي باید په داسي ابحاثو کښي بې جهته سوء تفاهم او خوابدي پیښه نه سي.

(ع، ل)

*****

## د نوو شعراوو سره دوستانه صحبت[۶۲]

ښاغلو شعراوو! په پرونۍ ګڼه کښي به د ادبي برخي له لوستلو څخه تاسو ته ښه ترا ځرګنده سوې وي چي څومري يوه مبتذله او بابېز موضوع وه؟ داسي څوک به نه وي چي نوموړی حکايت دې په وارو وارو نه وي تر غوږ سوی يادې نه وي لوستی؛ مګر څرنګه په يو خوندور، جالب او په زړه پوري ډول د شعر په قالب کښي راوستل سوی دئ چي هر لوستونکی د هغه له ويلو څخه خوند اخلي، يو نوی شی په نظر ورځي او بې اختياره ئې سر تر پايه لولي. ځکه هغه ښکلې ادبې جامه چي شاعر په نوموړي موضوع اغوستې ده، د ده فکر و نظر ورجلبوي. همدغه شی دئ چي موږ ئې د نوو شعراوو دپاره آرزو لرو او غواړو چي دوی هر کله د ذکر سوي ويونکي تقليد پخپلو آثارو کښي وکوي. دغه دئ، چي اوس لاندني د وروری صحبت ستاسو سره لرو: موږ په دې هيله د (طلوع) په ادبي برخه کښي د نوو شعراوو نيمګړي منظومې او ابيات خپرول او خپرو يې، چي پو هېږو دا ډول ګډوډ آثار، د وطن د نونهالانو شکوفه ده ګوندي وروسته به پخه مېوه سي.

يقين لرو زموږ دغه رويه به د نووارده شعراوو د ذوق د پالني دپاره يو وړوکی خدمت، او د دوی د تشويق و ترغيب غوره وسيله به وګرزي او ورو ورو به دا کسان د مشق و ممارست په اثر له يوې خوا خپلو طبايعو او قرايحو ته پوخوالی وښندي او له بلي خوا به د نوو مطالعاتو په مرسته خپلي علمي و فکري سويې پر مخ بوزي څو د دې دوو ضروري شقود تکميل په نتيجه کښي هر يو له دوی څخه د يو مقتدر او پياوړي شاعر په حيث ميدان ته راووزي.

لکه چي له ښه مرغه موږ په دې خپل مرام کښي تر يوې اندازې پوري موفق سوي هم يو او اوس پخپلو قلمي ملګرو کښي دا ډول پياوړي ويونکي لرو چي قلم محجوب کېږي د دوی نوم دي د پخوا له قراره د يوه مبتدي شاعر په حيث معرفي کړي.

---

[۶۲] طلوع افغان، ۱۳۲۴ ل. کال، (۱۹۰، ۱۹۱، ۱۹۲، ۱۹۳، ۱۹۴، ۱۹۵، ۱۹۶، ۱۹۷، ۱۹۸) پرله پسې ګڼې.

او څرنګه چي ښاغلي ويونکي مقايسه کولای سي د ځينو نوو شاعرانو په آثارو کښي د پوخوالي له کبله څرګنده ترقي ليده کېږي چي د هغوی نومونه دلته نسو ذکر کولای. څه چي موږ غواړو په دې ځای کښي اشاره ورته وکړو هغه د خال و خط مضامين دي، چي د ټول هيواد او د دې ځای په ليکوالو کښي ئې ډېرښت او غلو کړی دئ. تر داسي حده چي په راوروسته کښي د ذکر سوو مضامينو پر عليه، د انيس په ورځپاڼه او په نورو جرايد کښي ليکني هم وسوې او تر اوسه کله کله ادامه پيدا کوي يوه پلا په انيس کښي د طلوع د ادبي برخي په عنوان يوه مقاله نشر او په هغه کښي د حملې او ګرېز په شکل کښي څه ليکل سوي وه.

خير، دا ښاغلي چي له خپلي نارسايۍ څخه هر څه ليکي و دې ليکي. زموږ ګران شعراء دي زموږ و صحبت ته متوجه اوسي:

شعر ويل او شعر لوستل بد نه دي. د شعر ګټه او اهميت خورا لوړ دي. که عالم معنی بحر وګڼو نو شعر په دې بحر کښي هغه منطقه ده چي تر ټولو ښې مرغلري او جواهرات پکښي مونده کېږي. هيڅ يو عالم (د علم معقول)، يو فلسفي، يو حکيم او يو اديب، د حقيقي شاعر و مقام ته نه سي رسېدلای.

په ياد مي دي چي په يوه تابلو کښي ئې د فرانسوي شاعر لامارتين تصوير ليکلی وو، چي په اسمان خانه کښي په اوريځو کښي پخپل تفکر و تخيل لګيا دئ. لاندي ئې پر مځکه ګوستاولوبون او ويکتورهوګو غوندي زبردست پوهان او د هغوی امثال ولاړ دي د لامارتين و خواته په هوا ګوري. حقيقتاً په دغه تابلو کښي د شاعر مقام ښه تصوير سوی وو.

ډېری داسي معاصر پوهان و فضلا سته، چي د علمي تبحر له امله بايد اقيانوس العلوم وبلل سي او د چا خبره شپېته ژبي به ئې هم زده وي. مګر پر هغه سربېره د پخوانيو شعراوو د يوه معمولي بيت حل به نه سي کولای.

شبلي نعماني چي يو پياوړی اديب او د نقد و تبصرې ليکونکی تېر سوی دئ، پخپل اثر "شعرالعجم" کښي د پخوانيو اساتيذو او متصوفينو د ځينو اقوالو په باره کښي په دې ژبه اقرار کوي چي:

"... چيزهائيرا که اين بزرګواران نوشته اند: ما از فهم آن عاجز هستيم."

غیر له دې که مثلاً د میرزاخان دیوان ولولئ ژر به درمعلومه سي چې د مطالبو فهم ئې داسي سخت دئ لکه ډبري. پخپله دی وایي:

د میرزا په خوله کلام کړئ　　　ډېر عالـم پرې بزه گار دئ

هو کې، د فکر تښتنان نسي کولای چې تر فکر پورته معاني درک کړي حمید بابا وایي:

شعر نه دئ دا خوناب د زخمي زړه دئ
یا وتلی دستي دم د خولې د مړه دئ
یا نغمه د نیم بسمل مرغه د خولې ده
یا مجنون ته معما کښلې لیلې ده
څو وهي د فکر زامي باندي شخوند
ورکوي زما خبري هومره خوند
نامحرم ته نه ښيي دا مستوره مخ
محرم بویه چې ئې وکاندي په وره مخ

(پښتانه شعرا)

یو یو څوک به وي چې د پورتنیو بیتو په مطلب دي کماحقه پوهېدلی وي.

خوشحال ویلي دي:

شعر کار یا د سالک یا د مالک دئ
د عـاشق دئ د دردمن دئ د ابـدال

په پورتنیو بیتو کښي خوشحال توضیح کړې ده، چې پخوا به چاوچا شعر وایه(؟) لومړی سالک یادوي ولي چې پخواني شعرا (په هره ژبه کښي چې و) په سل کښي ۹۹ سالکان وو، دوی به اول په سلوک کښي داخلېدل وروسته ئې د هغه له مقاماتو (عاشقي، تصوف، اخلاق) څخه د شعر و نظم په توگه ترجماني کول. تر سالک وروسته شعر د ملوک او شاهانو کار بولي لکه محمود غزنوي چې شاعري مشرب هم وو. عاشق شاعر لکه د تلوکان ملاحسن اخوند یا صدیق اخوندزاده چې هر کلام ئې سرې بڅري غوندي دئ چې د میني ډک لړمانه له سکروټو څخه ئې راغورځېدلي دي. دردمن شاعران عموماً د خپل کور یا خپل محیط او جامعې (چې ډېر ځله ئې په

زمانه سره تعبير کوي) له ناوړو څخه په زړه خوړين سوی دي. دوی عموماً تنقيدي برخه ډېره لري:

په ژوندون به ئې ارمان ووزي له دله
زمانه که د خوشحال سره انصاف کا

خوشحال خان، رحمان بابا، حميد بابا... او په راوروسته کښې سلام بابا ډېر ځله اسلامي و ملي دردونه لري. مخلص بابا ته هم سلام دئ. لوی نقاد تېر سوی دئ (مگر د هند ډاکټر اقبال د عالم اسلام لوی دردمن شاعر وو). په ابدالو کي مولانای رومي د تذکر حق لري چي په ابداليت کښې ئې هيڅ شک نسته بلکي تر هغه ئې لا لوړه مرتبه وه. کلام ئې هم له ټولو نه بېل دئ.

د شعراوو يوه بله ډله چي ښايي خوشحال د عاشق په کلمه کښې ضمناً اشاره ورته کړې وي د طبيعت پر جمال باندي د مينانو ډله ده. دا ډله طبيعي مناظر، بديعي او شاعرانه ننداري خوښي لري او ډېر ئې ستايي. ډاکټر ټېگور په دوی کښې استاد دئ. دی د گلانو سره خبري کوي. و روانو اوبو ته په بله ژبه گډ وي. د طبيعي جمال سره مخاطبې لري.

پرته له هغو شعراوو څخه چي په نوموړو شقو کښې د اساتيذو يا شاگردانو حيثيت لري، خوشحال دا نور ښه نه بولي او څو ځايه ئې پخپل دېوان کښې په مختلف ډولو سره د دوی غندنه کړې ده په يوه قصيده کښې چي عصبي سوی دئ وايي:

نه شراب سته نه گلاب سته ښيښه ډکه
قاروره که تش تمثال دئ په دا منځ کښې

ای ښاغلې لوستونکې! چي نا اميده نه سې. دا مطالب صرف د دې دپاره ذکر سوه چي حقيقي شاعري او شاعران وپېژنې. و تاته هم د هغو په ډول ضرورت سته. ځکه چي موجدين تل د ژوندون په هره شعبه کښې د اخص الخواص حيثيت لري. مگر مقلدين ټول انسانان دي. يو يو انسان په يو وخت کښې نبوغ کوي او د کوم ماشين يا کوم ملک ايجاد کوي. اما مقلدين ئې په کروړو وي. مخصوصاً زموږ اوسنی عصر خو د تقليد عصر و زمان دئ، او انساني مدنيت پخوا لا د اجمال و ايجاد په توگه تکميل سوی

دئ. اوس فقط د تفصیل و تقلید په مرحله کښي دئ. شعر و ادب هم له دغه عمومي قانون څخه وتلی نه دئ او پخواني شعراء د اساتیذو په حیث منلي سوي دي. ممکنه ده چي د مولانای رومي پر مثنوي دي ډول ډول شرحي و تفاصیل وسي او د هر ډول عقیدې اظهار باندي وسي. مګر د مثنوي موجد دی دئ.

دغه دئ که په غور و کتل سي او سنی شعر قریباً له هغه افکار و تخیلاتو څخه عبارت دئ چي پخوانو ئې اساس ایښی دئ. ښاغلې شاعره! چي زړه دي درته لږ نه کړي، د تفصیل په مرحله کښي د اجمال ناوې لا مشاطګي مومي او د تقلید په مرتبه کښي و ایجاد سوو شیانو ته لا صفایي و سترګي ورکوله کېږي او د خپل عصر و زمان د حال سره سم ئې خواپاکي راولي.

موږ که د موسی (علی نبینا و علیه السلام) په توګه په وادي مقدس کښي د الله تعالی ﷻ په تجلی سره نه سو مشرف او مقدس کېدلای؛ ولي چي بل موسی نه پیدا کېږي، یا په وادي ایمن کښي د فارسي شاعر او متصوف (محمود شبِستري) په څېر عملا داسي حال نه سو موندلای لکه پخپله چي ئې ویلي دي: "درآ در وادی ایمن که ناګاه-درختی ګویدت انی اناالله" مګر ځکه چي د تفصیل په مقام کښي هر انسان موسی او نفس ئې فرعون دئ نو ها علم او قال قدر چي د کوه طور له واقعې څخه راحاصل سي ، هم غنیمت دئ او دا ډېره درست ده چي ووایو او عمل په وکړو:

د سامري په سخوندرګي نه خطاوزمه زه
اعتقاد ټینګ لرمه زه پخپل موسا پسي ځم
زه حقیقت غواړمه هر ځای حقیقت لټوم
و هریو غره ته د پاک خدای په تجلا پسي ځم

ولي چي په دغو بیتو کښي د حقیقت لټولو درس ورکړه سوی دئ، چي په هر صورت زموږ د حال سره خورا موافق دئ.

ټول پوهېږي د دې فارسي غزلي خوند چي مطلع ئې "تعالی الله چه دولت دارم امشب" دی، پخپله شاعر د مخه لا اخیستی دئ موږ ته د هغې له مکرر لوستلو څخه هغسي احساسات چي د شاعر په بطن کښي وه نه راحاصلېږي؛ اما سرېېرن تقلید ئې یو ګړی زموږ تاثیرات راتازه کوي او د

ذوق سره مو مطابقت لري و گورئ:

د پتنگ په څېر په ذوق د سربازیه
"ننگیالی" باندي ژوند بار و برایي

گران ویونکې: البته پوهېږې به چي شعر او نظم دوه بېل شیان دي چي یو له بله فرق لري او ډېر سره لیري دي. ډېرې داسي کتابونه دي چي کاملاً په نظم تصنیف سوي دي او ډېر بیا د شعر په قالب کښي راوستل سوي دي. فوائد الشریعه، رشید البیان او داسي نور... ټوله منظوم آثار بلل کېږي. همدغسي ډېرې داسي ویونکي سته چي ځان شاعر او خپل کلام شعر بولي خو په حقیقت کښي د دوی کلام نظم وي. بالعکس منظوم اثر وي شعرو ورته وایه سي. د دې دواړو فرق باید همېشه تاسو کړی وي. یو شاعر وایي:

ای بسا شاعر که او در عمر خود نظمی نساخت
وی بسا ناظم که او در عمر خود شعری نگفت

په نظم کښي فقط افکار (علمي وي که شخصي) بیانول کېږي مگر په شعري آثارو کښي تخیلات و احساسات غالب وي.

حتی د اساتیذو په دېوانو کښي لا هم شعر و نظم سره معلوم دئ خوشحال خان سره له دې چي په شاعري سره پېژندل سوی دئ په دېوان کښي ئې داسي شیان سته چي شعر نه سو ورته ویلای بلکي نظم ئې بولو مثلاً:

چي سهار سهار اوبه څښي د انارو
زه حیران یمه هغه سړی پر څه مري؟
که له مرگه چاره نسته وبه مرینه
باور وکړه په زحمت خو به ونه مري

دا څلوریزه معلومداره نظم دئ ولي چي په هغه کښي یوه صحي موضوع چي هغه هم د ده افکار دي یعني د انارو ښېگڼې، د نظم په توگه بیان سوی دئ. او څه چي د ده دا لاندیني بیتونه دي یعني:

چي موسم مي د گلونو د گلزار شي
نرم نرم ترشح په مرغزار شي

د هغه له بخته څوک برابري کا
چي په هسي وخت ئې سير په گلزار شي
د سړي سترگي روښاني زړه خوشحال کا
چي اوبه د فوارو سره تار تار شي
چي له پاسه نه اوبه راځي په کښته
وايي سپيني مرغلري دي نثار سي[۶۳]

دا ځرگنده شعر دئ ځکه شاعر د پسرلي پر موسم د ډهلي د کوم باغ د منظرې له ليدلو څخه متاثر و متحسس سوی او خيالات ئې پر ښور راغلي دي څو هغه قلبي تاثرات و تخيلات ئې د شعر په قالب کښي راوستلي دي.

محترم ويونکې: گمان کوم اوس لا هم د شعر پېژندگلوي پوره نه ده سوې ځکه ډېر داسي کلام هم سته چي ظاهري رنگ ئې د شعر وي او ټول شعري صنايع پکښي درج وي په دې سبب د نظم اطلاق نه باندي کېږي خو سره له هغه د شعر بللو وړ نه وي: په دې چي ها اصلي غايه چي له شعر څخه دايماً ملحوظ ده يعني د لوستونکي احساسات پاڅول او متاثر کول نه ځني مونده کېږي. دا په دې چي ويونکی ئې هلته په خپل زړه کښي هيڅ يو تاثر، يو ادبي حال نه لري، د زړه کومی ئې بې اوره او بې سوزه وي: څه چي ده پرله جوړ کړي وي ټوله خيالي او تش تصورات وي، حقيقت هيڅ نه لري ځکه نو د ده وينا هم محض سره پيودلي جملې. مقفی توري او بې روحه کلمات وي. ملاحت و خوند ئې نه معلومېږي. لنډې دا چي د ده د زړه ږغ نه وي، تش د خولې خبري وي نو خود پر لوستونکي هم اغېزه نه کوي.

تصور وکړئ. يو ويونکی چي يوه قطعه يا يوه غزل انشا کوي او په هغه کښي صرف د پخوانو په تقليد د خال و خط، زلف و کاکل صفت را اخلي او په دې توگه خپله يوه خيالي معشوقه چي ابداً وجود نه لري او نه ده په خپل عمر ليدلې وي غواړي وې ستايي نو دا به څومره بې خونده بې نمکه شعر وي؟

---

(۶۳) دا بيتونه "د خوشحال خان خټک مرغلري" په ۶۸۹– ۶۹۰ مخونو کي راغلي دي. (م. هـ)

همدغسي تاسي د دوو نفرو شاعرانو کلام سره پرتله کړئ. ژر به ئې احساس کوئ چي د يوه وينا د زړه له درده څخه ده او د هابل دا هيڅ حقيقت نه لري. شاعرانه کلام د زړه د غ احساسات او عواطف وي درد او سوی پکښي اخښل سوی وي. شعر د معطر و خوشبويه ګلانو په منزله کښي دئ. مګر نور نظم و نثر د هغو ګلانو په څېر دي چي تنها رنګيني او لطافت لري. شعر لکه هغه عنصر دئ، چي د جذب خاصيت او مقناطيسي قوه پکښي وي. بالعکس نظم و نثر د معمولي عناصرو په ډول دئ.

ښاغلي! تا ته بايد معلومه وي چي د شاعر شخصيت د ده په کلام کښي څرګنده اثر لري او په دې پوه سئ چي وګړي د سړي د شخصيت سره سم د ده و وينا ته په درجو سره قايل کېږي. د شخصيت موضوع په شعر ويلو کښي خورا مهمه موضوع ده. مګر متاسفانه لږ ويونکي و هغې ته اهميت ورکوي. ډېر ځله ليدل سوي دي چي څوک کوم پخواني يا اوسني اثر لولي ها بل وار د واره پوښتنه کوي دا د چا اثر دئ؟ د پلانکی دئ. پلانکی خو څه کوې هغه يو عليحده سړی دئ.

نو کوښښ وکه چي د شعر ويلو ملکه پيدا کړې. يو ادبي حال ومونده او خپل شخصيت ورو ورو د يوه ملي شاعر په حيث په وګړو کښي څرګند کړې.

ښاغلې شاعره! البته درمعلومه ده چي شعر و شعراء د اقسامو له کبله پر دوه قسمه دي. طبعي او تکلفي. په طبعي شعراوو کښي دوې ډلي دي. عوام او خواص. عوام د خپل محيط او جامعې سره دايماً په تماس کښي وي. د دوی په درد دردمن او په خوښۍ ئې خوښمن وي. د جامعوي اصلاحاتو تږي وي. ځيني ئې د ميني په دنيا کښي ښوري. د خواصو ډله د عالمه ليري اوسي او شاذ نادر يو شاعر په دغه ډله کښي پيدا کېږي او حتماً به سالک يا مجذوب الحال وي.

ګران لوستونکې! که ته د خواصو له جملې څخه يې، نو موږ و تاته لارښوونه نه سو کولای، ځکه ته پخپله فطرتاً پوه يې. قدرت هر څه درښوولي دي، خپل مُصَقل او مُزَکي زړه دي لوی لارښوونکی دئ، پخپل کار ښه پوهېږې، ستا خصوصي اشعار او ديوان دئ. ستا په ژوند زموږ تسله نه

سي راتلای. سره له هغه ډېر ارمان لرو چي کله به هغه معنوي مرغلري زموږ په سترګو کښي وليدې سي. کله به ستا شعري توتې لاس ته راولو چي د تعويذ په توګه ئې د ځان حِرز وګرزوو. موږ و تا ته لار ښوونه نه کوو اما بيا هم:

اې د فطرت د باغ خوشنوا بلبله! اې چي د عالم ملکوت په لوړو ښاخلو کښي دي ځاله کړې ده او د عالم قُدس په فضا کښي د فکر و ذکر په وزرو سره آزادانه پروبال وهې! خوښ او سه آزادانه ژوندون کوه!

هو ښ کوه! چي د حرص و طمعي د شيطان په نغوته د خپل اصلي مقام څخه د ناسوت پر ځمکه راشوه نه سې، نه چي د ظالم صياد په تلکه کښېوزې او د عنصري وجود په قفس کښي د خپل نس او نوس دلاسه د يوه تريخ ژوندن تښتن سې. خوښ او سه! او په خپل عالم کښي سرشاره ګرزه!

ښاغلي لوستونکې! که د عوامو له ټولي څخه يې، هم پخپل وار خوشبختې يې: دا امتياز يعني خداى دركړې شعري قوه چي ته لرې، غنيمت وګڼه، قدر ئې وکړه او يو څو تنه نور هم درسره مسعود وګرزوه. له تا نه پخپل موقع او حال کښي لويي ګټې جامعې ته رسېږي. پخپل وار د جامعې يو وتلى عضو منل سوى يې.

د آنحضرت ﷺ په عصر کښي په يوه غزوه کښي چي د کفارو شعراوو خپل رزمي اشعار ويل، رسول اکرم ﷺ و حسان بن ثابت رضي الله عنه ته چي پياوړى شاعر وو وفرمايل چي ته هم په مقابل کښي شعر ووايه. ځکه چي ستا هره وينا د غشي په څېر پر دښمنانو لګېږي. کله چي د بني تميم قبيلې د اسلام د دين د قبلولو دپاره د خپلو خطيبانو او شعراوو سره د رسول اکرم ﷺ حضور ته راغلې او مسلمانان سول د دوى خطيبانو بليغي خطبې او شعراوو ئې غرا قصيدې ولوستلې چي د آنحضرت ﷺ د تحسن مورد وګرزېدل. مقابلتاً ثابت بن قيس رضي الله عنه هم يوه لوړه خطبه او حسان بن ثابت رضي الله عنه دا ډول غرا شعر ووايه چي ټولو آفرين ورکړ او دا ئې ومنله چي اسلامي شاعر تر ټولو پورته و لوړ دئ. هوکې! کله کله فقط شاعر دئ، چي لوېدلو زړونو ته تقويت او پڅو برچو ته بريښ ورکوي. کله چي د زيار او عمل پر ميدان د بشريت کاروان ستړى او په خواره خوب بيده وي، خطيبان له خطبو پاته سي، نطاقان

له نارو ولوېږي، د ادباوو، ليکوالو ليکني بې تاثيره سي. يوازي حقيقي شاعر دئ چي په دغه وخت کښي پخپل سحرگره دِغ سره په مړو زړو کښي د زيار او عمل روح پو کولای سي.

دېرې داسي رنځور زړونه سته چي د طبيب دوا د مور وپلار دلاسا، د ښکلو مناظرو سير، مال و دولت او نور... نور... هيڅ يو هم فايده نه ورښندي. فقط يوه شعري ټوټه د داسي ناروغو زړو دپاره ملهم گرزي. الغرضَ دِ معارف د زدکړيانو ترانې او ها نور تعليم ئې پرتله کړئ محقق به سئ چي څه شي د دوی د ذوق او نشاط په پاڅولو کښي اِغېزه لري. دا ځکه چي شعر نطق و بيان نه دئ بلکي يوه مرموزه قوه ده چي په الفاظو و کلماتو کښي ايښو سوې ده. نو کوښښ وکه د دې مرموزي قوې و اصلي منبع ته ځان ورسوه. له يوې خوا خپل عصري مطالعات ډېر او له بلي خوا د پخوانو اساتيذو آثار څو دي وس وي، تر مطالعې اوکنجکاوی لاندي راوله. تحقيقات او تحليلات پکښي وکړه. نو به در معلومه سي چي د ژوندون معما يوازي شعراوو حل کړې ده او ها نور لاس ناولي ځني پاته دي.

په تور کسوة کښي پټه رنګينه معنی وګوره
زرشويو مي سره زر له تورو شګو دي ويستلي
(خوشحال)[۶۴]

ښاغلې تکلفي وروره! ته په داسي عصر کښي ژوندون کوې چي په هغه کښي نړۍ خپل رنګ ورو ورو بدلوي. وګړي له يوه مخه د معنويت له عالم څخه انقطاع او په زور سره د ماديت و عالم ته کډه کوي. غواړي چي د تل دپاره په دغه نړۍ کښي کور جوړ کړي. دا عمومي کوچ هم د طبيعي سير د قانون له مخي په عمل راځي. د راتلونکي نړۍ دورنما داسي ښکاري چي د معنويت پر ځای صرف ماديت، ددين پر ځای قانون، د اخلاقو په عوض کښي ساينس درېږي. د روحانيت او روحي تکامل په عوض کښي جسمانيت او جسمي بشپړتيا ځای نيسي او حسي سعادت ته ځان رسول اصلي غايه او

---

[۶۴] دا بيت "د خوشحال خان خټک مرغلري" په ۷۰۰ مخ کي راغلی دئ. (م. هـ)

هدف بلل کېږي. لنډې دا چې د (معنی) پر ځای (صورت) درېږي.

شعر و شاعري هم د دې عمومي کوچ سره يو ځای او د طبيعي جريان له مخي خپل اصلي رنګ بدلوي او څرنګه چې پو هان عقيده لري د شعر آينده د عواطف و احساساتو په عوض کښي پر عقل تمامېږي او عقل د عواطفو ځای نيسي. لکه چې اوس لا هم په سل کښي ۹۰ شعراء پخپلو آثارو کښي د عواطفو د نه والي په سبب له عقل څخه کار اخلي.

ښاغلی شاعره! اوسنۍ دنيا خو د معقول و منطق دنيا ده. عواطف و احساسات ورو ورو مخ پر زوال ځي. نو که ته، ته سې اوس هم کولای سې چې د خپلو سلفو په توګه خپل مقام د بشريت په حاليه دنيا کښي خوندي کړې. يعني کولای سې پخپلو تکلفي اشعارو سره چې د عقل له چينې څخه دي نبعان کوي، د نورو عقول متاثره کړې. څرنګه چې اساتيذو دي د خپلو عواطفي او الهامي اشعارو په واسطه د نورو عواطف متاثر کول. هغه موضوعات چې ته بايد پکښي ورغېږې، ځيني ئې دا دي: د رب ﷻ قدرتونه او عظمت، نوی عصر، مثبته علوم، آتوم. دغه توري سترګي او ليندۍ وريځي (يعني صورتي حسن) ستايل چې په دې غوښن صورة کښي دي ځکه چې نظر و نوو تحقيقاتو ته د ژوند يو عليحده فن ګرزېدلی دئ او د يو با نشاط ژوند په موندلو کښي چې حسي سعادت ئې غايه ده د جمالياتو سره مينه يو اصلي عنصر دئ.

د شاعرانه او طبيعي مناظرو سير، تاريخي او زړو آثارو ته خطاب، د عبرت حکايت او متلونه د نظم و شعر په لباس کښي راوستل، نصايح او پندونه، په جذاب ډول تفريحي شيان لکه معماوي او کيسۍ.

مګر څه چې ستا د شخص په تربيه پوري اړه لري نو زموږ آخرنۍ توصيه هم دغه ده چې اوس چې تا و شعر ويلو ته لاس اچولی دئ او خوښ ئې لرې نو حتی الوسع د پخوانو آثار په دقت ګوره. ګوندي يو وخت د حقيقي شاعر مقام ته ورسېږې. هغه مقام چې هيڅ يو له علماوو، حکماوو، فلاسفه وو څخه نه دئ ور رسېدلی.

دا ګړی د خدای په امان، تکليف مو درکئ.

(انتها)

*****

## سیاسي اخلاق[٦٥]

### او په نن ورځ کي د مللو پر ژوند د دوی اغېزه

هر څوک چي دا گمان کوي چي نن روځ په نړۍ کي هغه اخلاق چي ادیانو راوړي یا فلاسفه وو بیان کړي دئ، خپاره دي هغه سړی خطا وتلی او دا گمان ئې بېځایه دئ. بلکي نن ورځ په نړۍ کي یو جلا رقم اخلاق باب او رواج دي چي باید "سیاسي اخلاق" ئې وبولو.

یو مهم توپیر چي دیني او د فلاسفه وو د تعلیمي اخلاقو او سیاسي اخلاقو تر میانځ چي نن ورځ په موږ کي باب دي، موجود دئ دا دئ، چي دیني او د فلاسفه وو تعلیمي اخلاق ټوله وگړي په حقوقو او واجباتو کي په یوه اندازه مشترک بولي، ټوله خلق پر یوه معین مرکز سره راغونډوي. مثلاً چي په عدل امر کوي نو د ټولو څخه یو رنگه عدل غواړي او واړه علی السویه په مامور بولي. مریی و بادار، اغا و مزدور، تور و سپین، خوار و بډای توپیر نه پکښي لري، د ټولو سره به یو رنگه عدل کېږي او ټوله به یو شانته عدل کوي. انسان به د خپل ټبر او پردي ملت د افرادو سره یو رنگه عدل کوي. ایشایي و اروپایي، یا امریکایي و افریقایي ته به فرق نه سره ورکوي.

مگر د سیاسي اخلاقو محور او مدار د یوه ملت گټه او مادي منافع دي، د هر فرد سره عدل د هغه ملت د گټي په اندازه کېږي چي دغه فرد هغه ملت ته منسوب بلل کېږي. په بل عبارت د دیني او فلسفي اخلاقو غایه عالمي او عمومي ده ټوله افراد یو رنگه په مامور او برخه څني وړي د ټوله نړۍ افراد یوله بله په حسن معامله او ښه ،ښېله دي چي دا څوک دئ یا هغه د کم ځای دئ، امر کوي او د جنس یا رنگ یا وطن فوارقو او امتیازاتو ته اهمیت نه ورکوي. اعلی مقصد او هسکه غایه پکښي دا ده چي ټوله خلق سره غونډ په مجموعي توگه پر دیني او فلسفي اخلاق نړۍ او عالم ته د نړۍ او عالم په سترگه گوري. او په دې سترگه نه ورته گوري چي د مختلفو مللو او اقوامو

---

[٦٥] طلوع افغان، ۱۳۲۵ ل. کال، (۱۷۱، ۱۷۲، ۱۷۳، ۱۷۴، ۱۷۵) پرله پسې گڼې.

څخه جوړ سوی دئ. او تعلیمات و لارښووني ئې خلقو ته داسي وي لکه یوه مجموعه او متحده ټولنه چي وي. د دوی د یوله بله علایقو انتظام سره کوي او ټوله چاري ئې ورسموي، او داسي عمومي اساسونه و مبادي وضع کوي چي د انسانیت خیر پکښي وي لکه: په اسلامي اساسونو کي دا اساس چي "د خلکو سره داسي معامله کوه چي هغه دي د نورو خلکو د خوا د ځانه سره خوښه ده" او لکه د کاینات مبدا چي "هغسي معامله کوه چي هغه باید ټوله خلق وکي" او لکه د منفعت هغه مبدا چي وایي: "کار هغه وخت ښه دئ چي ټوله مخلوق ته ئې تر الم لذت ډېر ور حاصل وي" دغه رنګه نور مبادي هم له دغه قسمه څخه سته. مګر سیاسي اخلاق اخلاقو ته د "قانون" په سترګه ګوري. لکه هر ملت چي خاص اخلاق لري. نو د سیاسي اخلاقو محور او اساس د هغه ملت دئ چي د هغه ملت سیاسیون د هغه ملت دپاره کار کوي. یعني سیاسي اخلاق فقط د ملت د سیاسي اغراضو دپاره کار کوي، او هغه اغراض او مقاصد په حاصلېږي چي د ملت د سیاسي افرادو هدف وي او د سیاسي اخلاقو ګټه و فایده فقط یوازي یوه ملت ته راجعه وي. نو که یو کار د یوه ملت دپاره ګټه ولري او د نورو دپاره ضرر وي، دیني او فلسفي اخلاق ئې نه خوښوي او د داسي اخلاقو څخه منع او نهي کوي لوی خطر او رذیله ئې بولي. سره له دې چي د دغه ملت سیاسیون د دغو اخلاقو عملي کول فضیلت او عیني کمال بولي که څه هم نورو اقوامو ته تاوان او ضرر په ورسېږي. د دغو اخلاقو څخه قرآن کریم د یهودو په قصه کي حکایت فرمایلی دئ چي یهود د امانت فضیلت هغه وقت ښه ګڼي چي د یهود سره عمل په وسي. یعني د امانت ښه خوی او خلق به یهود فقط د بل یهود سره عملي کوي. او کې غیر له یهوده څخه د یوه عربه سره عملي کي، هلته بیا امانت ښه خوی نه بلکي بد خوی بولي. لکه قرآن کریم چي د دوی قول رانقلوي چي دوی به ویل: "لیس علینا فی الامین سبیل"

ترجمه: موږ د امیانو (عربو) په باب کي په ښه ګذاره او حسن اخلاق نه یو مکلف.

یونانیانو هم په هغه وخت کي چي رومانیان یې تر لاس لاندي وه، او سلطنت ئې پر کاوه د اخلاقو دایره تنګه کړې وه، په حسن اخلاق ئې یوازي

ځانونه د يوناني سره ځان مکلف باله او تر خپل يوناني را په دې خوا ئې اخلاق ضروري نه بلل. يونانيانو ټوله خلق دوه قسمه بلل: يو قسم يونانيان بل قسم وحشيان او بربريان. اخلاق او انسانيت هغه بلل کېده چي د يوناني سره به وسو، او که به يوناني غير له يوناني د بل يوه سره ښه وضعيت او حسن معامله وکړه هغه به ناحسابه وو. دغه رنګه رومانيان هم پخپل عصر کي دغسي وه. هغه کسان چي دوی به حکومت پر درلود د دوی د خوا حسن اخلاق د سمو سره نه کېده، او نه د هغو سره په حسن اخلاق پوه وو. اونه ئې ځان مکلف باله. ممکنه ده چي د هغه فشار علت چي د نصرانيت د خوا څخه پر روماني ملت باندي راغی همدغه شي وو چي د نصرانيت نظر يو پراخ او عالمي نظر وو. ټوله انسانيت ته ئې هر څوک او هر ملت چي وي، په يوه سترګه ئې ورته کتل او همدغه رنګه د يونانيانو د مخالفت سبب چي د سقراط نظر پراخ او وسيع وو. يوناني و غير يوناني ئې دواړه يو رنګه د احترام قابل بلل ځکه نو يونانيانو د ده د وسيع نظر طاقت نه درلود، پر ده ئې د اعدام حکم وکی او په اعدام سره ئې هغه عمومي فلسفي تعليمات چي سقراط د ټوله انسانيت دپاره واجب المراعات بلل، هم محوه او مړه کړه. د هغه پر ځای د يونان خصوصي تعليمات چي يوازي د يونانيانو دپاره وضع او تخصيص سوي وه پاته سوه.

مګر د اروپا د نن ورځ اخلاق د اسلامي او فلسفي اخلاقو پر خلاف او فقط سياسي او قومي اخلاق دي. او اوسنی اروپا په اخلاقو کي يوازي قومي او سياسي جنبې ته اعتبار ورکوي، مثلاً انګليسی يا فرانسوی يا جرمنی د خپل قول او ملت د ښېګڼي دپاره د اخلاقو مراعات کوي. په اخلاقو کي د خپل قوم او وطن و سياست فايدې ته ګوري. که په اخلاقو کي د فرانسې فايده وه، يو فرانسوی په ښو اخلاقو عمل کوي او کې د فرانسې ضرر پکښي ليده، هلته بيا تر اخلاقو تېر دي. دغه رنګه د انګليس يو فرد يا د جرمني يو سړی هم دغسي دئ.

(پای)

*****

## د يوې رباعي تحليل[٦٦]

ساقي جام د عشرت را چي خفگان هېر کړم
باقي عمر په مستي کي خندان تېر کړم
بېخودي کي چي فردوس دخيال آباد کړم
د جنت حوري غلمان د ځان چاپېر کړم

دمخه تردې چي په مطلب شروع وکړم دا څو مخکيني خبري چي د موضوع سره مستقيم ربط لري د مقدمې په ډول ذکر کوم.

نظر و نوو تحقيقاتو ته انسانان د پوهني له مخي پر درو طبقو وېشل سوي دي: عوام، مغروره هوښياران او محققين.

د عوامو طبقه ټولو ته معلومه ده. د هوښيار مغرور ډله هغه ده چي په خپل محدود علميت او هوښياري سره چي د يو څو تورو له لوستلو څخه ئې حاصل کړې ده، مغرور دئ. محققين هغه وگړي دي چي د قضاوت حس پکښي خورا ټينگ او پوخ وي او څو هر شی ئې تحقيق ته نه وي رسولی يا په ساده الفاظو پر پخه ئې نه وي لگولې، تر هغو پوري هغه شی پخپل ژوند کي سرمشق نه گرزوي.

لوی نقص نن ورځ د مغرور هوښيارانو له خوا پېښ دي چي يو خو پخپل محدود علم او تش تقليد سره مغرور او غولېدلي او نور هم ورسره غولوي او بل د دوی د مؤمن بِه يعني عصري تمدن له حقيقت څخه هم ناخبر دي.

بايد پوه سو چي نن ورځ دنيا د تکامل او علمي مدنيت و خواته وړاندي درومي او بشر اوس د تحقيق او انکشاف په ډگر کي داخل سوی دئ. جديد علمي تمدن ته خو د عوامو په خبرو پسي گيز؟، نه د هوښيار مغرور پوه ته وقت ورکوي او حتی د پخو اساتيذو په اقوالو کي څو پوره ئې فهم ونکړي،

---

[٦٦] طلوع افغان، ۱۳۲۵ ل. کال، (۲۱۳، ۲۱۴، ۲۱۵، ۲۱۶) پرله پسې گڼې.

هم نه رغيږي. دا له دې جهته نه چي له هره شي څخه انکار کوي بلکي له دې جهته چي غواړي هر شی علم و گرزوي يعني په مشاهده او تجربه سره هر شی اثبات ته ورسوي او د انضباط او نتيجې په صورت يو پوخ اساس ورته کښېږدي. بشر تر خورا ډېرو او عميقو پلټنو وروسته و دې کلي نتيجې ته رسېدلي دئ چي: "د يوه سړي فکر امکان نه لري چي په ټولو شيانو دي ورسېږي بلکي د انسانانو دماغونه هم د سترگو په منزله کي دي چي د عقل و فکر انوار باندي ځلېږي؛ نو څرنگه چي په ظاهري سترگو چي د ظاهر لمر په وړانگو سره روښاني دي، د ټولي دنيا شيان نه سي ليدل کېدلای (ځکه ځيني سترگي مثلاً نيويارک او بعضي بيا ټوکيو ويني) دغه ډول د عقل سترگي هم تفاوت پيدا کوي. يعني ځيني عقول يو څه فهموي او بعضي بيا نور څه، د چا افکار لوړ د چا ځوړ وي.

له دې جهته د افکارو احترام او آزادي لازم گڼل سوې او د افکارو اشتراک د حقايقو د انکشاف دپاره ضروري وبلل سو. د "برق الحقيقة تلمع من تصادم الافکار" مقوله د دې معنی د جوتولو دپاره يو بشپړ دليل دي.

جديد تمدن د تيرو دورو په نسبت د بشر د افکارو په راغونډولو او قدرو قيمت کي خورا سرانښ ليده کېږي. ولي دا حقيقت ښه ترا ورته څرگند سوی دئ چي په دنيا کي د انسان تر فکر (چپ له ايمانه) بل لوی موهبت نسته. علوم او فنون او د اټوم انرژي د افکارو مولود دئ. له دې لامله هر ډول زاړه و لوی فکري آثار چي په لاس ورسي په ډېر قدر و قيمت ئې راټولوي او د نوي تمدن په لابراتوار کي تر امتحان وروسته له هغه څخه استفاده مومي.

دغه دئ چي په ادب او شعر کي هم ټول هغه زاړه آثار چي د پخوانو د افکارو مولود دئ، که څه د سپين دېب او تور دېب بيانونه وي د ادب وثيقې منلي سوي او د يوې ژبي د ادبياتو په تاريخ کي سند گرزي. (څه خاصه بيا لوړ افکار چي تل د نړۍ د پوهانو د سرمشق او استفادې مورد گرزېدلی دئ او گرزي). دا خو د عوامو او مغروره هوښيارانو طبيعت دئ، چي هرشی چي د دوی علم نه په رسي، هغه رد کوي او دښمني ورسره لري؛ محققينو ته په تجربه سره معلومه سوې ده چي د يوه نابغه فکر د لوړتيا له حيثه د ده په عصر

کي څومري اهميت نه سي پيدا کولای. بلکي تر يوې زمانې وروسته چي د بشر افکار انکشاف وموندي او د نوموړي نابغه د افکارو سرحد ته ورسېږي نو د ده فکر خپل اصلي قيمت پيدا کوي او هغه وخت نو د دې لوی نعمت مشتاقان ډېرېږي.

اوس به راسو اصلي مطلب ته.

څومري لويه ناحقي بلکي ظلم دئ، چي د پخوانو عرفاوو عارفانه کلام او آثار خاص په دې احساس چي پخپله د هغه په معنی نه پوهېږو، رد کړو او فقط د هغه کلام ادبي و شعري خوا قبوله کړو او نوموړی عارف د يوه وچ اديب يا شاعر په حيث ومنو. په داسي حال کي چي جديد تمدن لا اوس د تيوسوفي؟ او علم الارواح اساس ايښی او په کشفياتو لګيا دي. (د يوه بزرګوار په شرح حال کي د ده له کراماتو او خرق د عاداتو څخه صرف نظر وکړو يوازي د تولد او وفات ځای يا نوره سوانح ئې ليکو) ګويا نه ده راته معلومه چي نوي علمي تمدن داسي تصرفاتو ته ځای نه سي ورکولای. غواړي هره واقعه ټکي په ټکي بيان سي.

موږ په وارو وارو ويلي دي چي شعرو شاعري د حقيقت او واقعيت له مقام څخه د خياليت و دنيا ته کوچ کړی دئ. يعني څه چي پخوا حقايق او مشاهدات وه اوس تشبيهات و تخيلات وګرزېدل. څه چي ليده او حضور وه غيبت او ياد ئې پاته سو. يوې برخي له متاخرينو څه او ټول معاصرينو ځکه چي له مشاهدې څخه پر مخ خلاص دي، نو ئې نه يوازي پخوانی شعر په خپل غلط زعم سره خيال بافي وبلله، بلکي پخپله ئې هم خيال بافيو ته لاس ورته کړ. معلومېږي چي د پورتنۍ رباعي ويونکی له حال او مشاهدې څخه پر مخ خلاص دئ او د عقل و خيال په عالم کي ښوري او خيال خود عوامو په مفهوم لا دا ډول شی دئ چي که انسان خپل خيال ورته ايله کړي پر ګوتو به کشمير جوړ کړي.

البته لوستونکو ته معلومه ده چي خيال د عقل هغه قوه ده چي د هغې په ذريعه څه چي په حافظه کي ټول سوي، رااخستل سوي او سره يوځای سوي او خيالي صور ځني جوړول کېږي. نو که په حافظه کي خپل چشم ديد شيان

وي خو خيالات هم قوي او حقيقت ته ور ځرمه وي او که له بله اروېدلی يا له کتاب ځخه لوستلی پکښې وي، خيالات هغو مري ضعيف او له حقيقته ليري وي. لکه په پورتنۍ څلوريځه کي چي ويونکي پخپله نه ساقي او نې جام ليدلی دئ. نه خو ئې بېخودي پېژندلې ده او نه... خو فقط ځومري چي ئې د اساتيذو له آثارو خصوصاً د ساقي و جام اصطلاحات لوستلي دي دا ورته برېښېدلې ده چي نوموړي آثار محض شاعرانه خيال بافۍ دي، حقيقت نه لري. نو کېدلای سي چي دی هم پخپل خيال کي نامعلوم ساقي و ځان ته حاضر کړي او د عشرت خيالي جام ځني وغواړي ځو پخپل خيال کي بېخوده (نشه) سي او په خيالي فردوس کي د حورو غلمان سره خوښ خوشحاله باقي عمر تېر کړي.

دا يوه روحي او نفسياتي موضوع ده. ښه دئ لږ ځه به عميقانه ورته ځير سو. په ظاهر کښې به يو مثال ورته کښېږدو ځو مطلب مو ښه ترا په ذهن کي کښېني.

په پخوا پېړۍ کي يو نفر کپتان د جنوبي قطب د منطقې و خواته مسافرت کړی او د هغې ناحيې د جغرافيې وضعيت په خصوص کي خپل ليدلي شيان ليکلي دي. فرض ئې کړئ چي د هغه ځای د مناظرو عکسونه او يو فلم ئې هم اخيستی دئ. اوس که ملتفت سو د جنوبي قطب منطقه ده، په درو شکلو کښې موجوده ده. لومړی په حقيقي شکل کي چي په سر سره د جنوبي قطب منطقه ده. دوهم د عکس و فلم په توګه او دريم د ليک په صوره يعني د ادب په شکل کي.

ښکاره ده چي فلمي قطب جنوبي او هغه جنوبي قطب چي په ليک کي ئې تصوير سوی دئ، نه عين قطب ناحيه ده نه غير؛ ځکه عين خو حقيقي قطبي ځايونه دي او غير له دې جهته چي مثلاً د شمالي قطب د منطقې تصوير او تجسم نه دئ. اوس خو ښه ترا ځرګنده او يقيني سوه چي هر څو وګړي چي په نړۍ کي د جنوبي قطب په باره کي معلومات لري د نوموړي کپتان و مقام ته نه سي رسېدلای او هم معلومه سوه تر هغو اشخاصو چي د ليک (ادب) په واسطه ئې معلومات حاصل کړي دي، هغه نور چي د فلم له معاينې ځخه ئې پوهنه موندلې ده يېا د حقيقت و مرتبې ته نژدې دي.

ولي دلته حقيقت مطلقا د سترگو په ليد اړه لري او كه سترگي ځني واړولي سي فقط يو ذهني او خيالي شكل ئې پاتېږي. حتى پخپله د كپتان سترگي چي له قطبي ناحيې څخه اوښتي او غوښتې دي چي د ليک يعني تفكر و تخيل په مرسته د هغې تصوير وكړي، لا هم معلومه ده چي دا تصوير او هغه حقيقي شكل ئې تفاوت پيدا كوي.

نو كه چيري د سترگو ليد هم نه وي (نه په حقيقت نه په فلم كي) بلكي تش د ليک له لوستلو څخه په خپل دماغ كي يو انځور ور ته نقش كړو دا به څومري له اصل څخه ليري وي؟

او هم دې موضوع مخصوصاً اهميت وموند چي د نوموړي كپتان ليک او فلم و عكس ئې په هر وخت كي وثيقه و سند گرزي او موږ كه هر څو د قطبي منطقې په باب كي له خپله ځانه فلم فرسايي كول غواړو، لازم دي چي اصلي متن ته به په هيڅ توگه تغيير نه ور كوو او نه به د يو وېښته تصرف پكښي كوو. او بل بايد د هغه مطلب ته ښه ور ولوېږو او كما حقه ځان په پوه كړو. كه داسي نه وي نو د خپلي غلط فهمۍ څخه به پر بله خوا تللي يو او تر ناحقه به مو په اصلي متن كي تصرف كړى وي.

بايد پوه سو هغه سير چي د اسلام لومړى پېشوا په كائناتو او عالم قدس كي كړى دئ او موږ ته د قرآن و حديث په ژبه سره د دې سير (مخصوصاً د فردوس يا حورو غلمان او ...) بيان سوى دئ يا د امت اولياوو كرامو د كشف صريح او شهود په توگه (چي د فلمي معاينې سره مشابه دي) بيله دې چي اصلي متن ته دي تغيير وركړي، د هغه تفسير و تعبير كړى او په دې باره كې آثار پرې ايښي دي، دا ټول صحيح دي.

موږ ته د دغو آثارو له لوستلو څخه پرته له ذهني او علمي صورو، نور څه نه سي را حاصلېدلاى. دغه دئ چي ايمان پر راوړو نور كيفيت و حقيقت ئې و الله تعالى ﷻ ته پرېږدو.

له پورتني مثال څخه محقق سوه چي ليدل يو څه وي او اورېدل ولوستل بل څه. يا په بل عبارت حقيقت يو ډول او حال و قال بل ډول وي.

د حقيقت په مقام كي حقايق ټوله حاضر او علم حضور وي، دا د نبوت

مقام بولي. په حال کي حقايق گرده حاضر وي مگر د کشف و شهود په پرده کي. دا د اهل سلوک او اوليا الله مقام دئ. په فعال کي حقايق په عاقله کي حاصل او علم حصولي وي دا د عوامو او ظاهر بينو مرتبه ده.

نو هر کله چي د اوليا و کشف لا هم د صدق و خطا احتمال لري د دا نورو حال به څنگه وي؟ او که چيري له ليک سوي آثارو څخه د خپلي عقلي انتزاع په توگه، د خيالاتو خيالات جوړ سي دا نو هغه مرتبه چي د پورتنۍ رباعي ويونکي د خيال پر توسن سپور او جولان پکښي وهي. نوموړي ته له حال څخه گواکي قال هم په لاس نه دئ ورغلی بلکي په تش خيال کي مبتنی دئ او له شرابو څخه سراب ورمونده سوی دئ.

موږ نه وايو چي دا ښاغلي دي هرو مرو و کوم حال او کشف و ځانته وموم‌ي؛ د ايراد ځای دغه دئ چي ده د اصلي متن و مطالبو ته ولي تغيير ورکړی دئ. چي نور هيڅ نه وای په عالم مجاز کي خو لا هم د ساقي؛ شراب، جام، حظ و کيف او بېخودۍ اشکال و مثالونه موږ په وارو وارو ليدلي دي. چي هغو ته ئې کتلي وای لا بې هم د حقيقت يو څرک و ځان ته معلوم کړی وای او خوشي خيال بافۍ ته به ئې لاس نه ورته کاوه.

کنه وي مثلاً د ساقي او شراب مفاهيم خو د (وسقاهم ربهم شرابا طهورا) له آيت څخه څرگندېږي او د اهل سلوک په آثارو کي چي تعداد ئې يو مليون ته خوله وهي او په دوی کي مولانای بلخي غوندي په سوو بزرگواران سته. د ساقي، طهوري، جام او بېخودۍ اصطلاحات ډېر ليده کېږي، آيا دا ټوله هيڅ حقيقت نه لري؟ او حقيقت هغه دئ چي يوازي زموږ ښاغلي شاعر ور رسېدلی دئ.

نوموړي ښاغلي ته بايد وو چي د ساقي له وجود او حقيقت څخه ئې تر ناحقه انکار نه وای کړی او څه چي ئې له ده څخه غوښتلای په رشتيا ئې غوښتي وای، په عالم خيال کې نه ځني طلبولای. د خيال له کلمې څخه چي په ذکر سوې رباعي کي راغلې ده، معلومېږي چي هيڅ په منځ کي نسته او حقيقت وجود نه لري. او دا د ده خپل ظن دئ حال دا چي (ان الظن لا يغنی من الحق شيئا).

(انتها)

له الهلاله:

## د لذت فلسفه او د قوت فلسفه[٦٧]

د انسان د عملو په خصوص کي دوه ډوله فلسفي موجود دي يع
لذت او قوت فلسفې. د لذت د فلسفې څښتنان وايي چي انسان چي هر
پخپله اراده سره کوي د دې دپاره ببله لذت څخه (چي دا کار غواړي) ي
کدورت څخه (چي هغه نه غواړي) بل دافع نسته. که چيري په غور او
سره وکتل سي نو د لذت خوښول خو دا ډول مطلب دئ، چي د مځکي پ
ټول ژوندي شيان په هغه سره پوهېږي. د لذت پای سعادت دئ چي هغ
لوړي درجې او لوړ مقصد ته د سړي ميل او هڅه ده. موږ وينو که چير
کار زموږ پر زړه او خيال سم وي نو د هغه کار د کولو دپاره د ايښو
اخلاقو و قواعدو ته هيڅ اړتيا نسته. او دا چي سړی دا قواعد يوې خ
پرېږدي له دې جهته دی چي د دوی په رايه سره دا نسته چي يو انسان
انسان سره خواخوږي ولري. دوی وايي چي په دنيا کي حقيقي مينه
رشتيا حب نسته او نه داسي د خير کار سته چي له شخصي اغراضو څخ
او خالي وي.

د جرمني لوی فيلسوف "نتشه" بيا وايي چي د سړي د اعمالو دپاره ب
لذت او سعادت څخه يو بل شی دافع وي، او هغه د هر ژوندي شي بلک
ژوندي مخلوق د هري ذرې هم دغه غايه ده. دا شی نو د خپل قوت ډېرول
زياتول او د خپلي سلطې او مرستي ټينګول دي. لذت او سرور خواشين
الم بې له دې چي د قوت د ډېروالي يا لږوالي؛ نتيجه وګڼل سي بل شی نه دي
له دې څخه څرګندېږي چي د "نتشه" فلسفه پر قوت او واک ولاړه د
د ده په نزد د انسان د اعمالو دپاره قوت لومړنی او يوازينی باعث دئ.

له دغو دوو فلسفو څخه پرته، خورا ډېر افکار او ناوړه رايي او بې
نصايح هم سته، مګر د ټولو اساس هغه دئ، چي دې دوو فلسفو قايم ک

[٦٧] دا ليکنه طلوع افغان، ۱۹ کال (۱۳۲۱ل)، په ۳ ګڼه ۲ مخ او ۵ ګڼه، ۲ مخ ک
درې ګڼبته خپره سوې ده.

دي، د دې اساس له مخي په انسان کي د خواخوږۍ، رافت، زړسوي د مجرد او سپېڅلي حب څخه انکار سوی دئ.

مثلاً کله چي انسان پر مړي ژاړي او مقصد ئې دا دئ چي نور وګړي دي په زړه نري او نرم وبولي یا دا چي وګړي ده ته پاتا ورکي یا نور وګړي هم په دې وخت کي د ده پر حال وژاړي. یا دا چي دوی ونه وایي چي دا سړی نو ولي نه ژاړي؟ او که څوک له چا سره ښه وکي، نو بې له دې ئې بل مقصد نه وي چي یو په لسه به ها بل هم ښه ورسره کوي. او که څوک یو د خیر کار کوي مقصد ئې دا دئ، چي په دې ډول پر خلقو خپل تسلط او بری ټینګ کي. که سړی د یوه لاسه سره ښه وکړه ها بل لاس هم ور غزول کېږي. رافت، زړسوی او خواخوږي په لوی سر کي بېله انانیته او خبث او ضعف او بې زړه توبه بل شی نه دئ او دا ډول نور ناوړه افکار.

دا وه د لذت او قوت د فلسفو د څښتنانو رايي. او لکه چي لیدل کېږي په دې نظریاتو کي د هغو ټینګو او اخلاقي قواعدو څخه تیري سوي دي چي په هغو سره انسانان یو له بله مرستي سره کوي. او لکه چي ومو ویل د دې نظریاتو اساس دا دئ، چي په انسان کي دا ډول عاطفه او ښېګڼې نسته چي د شخصي غرض او ذاتي ګټې څخه دي تشه وي. او دا خو یوه لویه خطا ده، ولي چي عطف او د بل سره ښه کول یو غریزي شی دئ چي په انسان او حیوان په دواړو کي سته ډېر ځله داسي پیښېږي چي سړی د خپل اولاد په لار کي ځان قربان کوي او په دې کي هم هیڅ شک نسته چي په داسي صورت کي کورټ ذاتي ګټه او د ځان نفع نه لیدل کېږي. دغه ډول یو سپی چي د خپل خاوند سره وفا او ښه کوي دا معلومه ده چي د خپل ځان او د آینده فکر ورسره نسته. مور د خپل زوی سره عاطفه او همدردي لري او هر کله چي ئې زوی مسعود ولیدی دا هم ورسره مسعوده سي او له دې څخه ئې دا غایه نه ده چي ځان د سعادت څښتنه کي بلکي د دې سعادت، د زوی د سعادت نتیجه او لاحقه ده. کچنی چي یو بل څوک په ژړا ووینې نو دی هم ورسره ژاړي دا ژړا ئې لومړی پلا، یو غریزي او میکانیکي صورت لري. وروسته چي کچنی لږ څه لوی سي ژړا ئې هم یو عصبي او حسي ډول وموندي یعني

پر ژړېدونکي سړي باندي ئې عطف او همدردي راځي. په آخر کي چي لوی سړی سي نو د حقيقي عاطفي له مخي ژاړي چي مصدر ئې عقل دئ، نه حس او اعصاب.

له دغو مثالو څخه څرګندېږي چي سړی لکه د ځان دپاره چي اوسي هغسي د بل دپاره اوسي او بل دا چي انسان خو د طبعيت يو جز دئ نو دا ئې په وس نه ده چي د ځان دپاره کار وکي، بلکي هرومرو به د ټولو دپاره کار کوي ولي دی د ټولني جز دئ او ورته اړ دئ ځوک چي د خپل کور کهول او ټولني څخه بېل ژوندون کوي نو دغه ژوندون ته هيڅ قدر او قيمت نه ايښول کېږي. د دې خبري د اثبات دپاره محبس او سجن يو لوی دليل دئ. ولي چي په هغه کي سړی د ټولني څخه بېل سوی او د اعتزال ژوند ورکول سوی دئ.

ځکه نو لکه چي څرګنده ده داسي يوازيني ژوند د انسان دپاره يو لوی عذاب او عقاب ګڼل سوی دئ او د نفسو په تزکيه کي خورا ډېره اغېزه لري. او هرکله چي سړی دا د اعتزال ژوند ور په ياد کي، بله پلا په کورټ ناوړه اعمال نه کوي.

لنډې دا، تر څو چي په انسان کي حس او دماغ سته، نو د ده ژوند د نورو د ژوند سره تړلی دئ او عطف به ئې نو هم خامخا ورسره وي.

او پر نورو عطف لرل چي له انانية څخه تش وي. داسي شی دئ چي هيڅ نته (انکار) نه ځني کېږي. له دې جهته نو د انسان آمال او غوښتني او د ده اخلاق قواعد، ځني حقايق دي، چي هرومرو عمل غواړي. که څه هم کله کله له طبيعي سير څخه مخالفت هم وکړه سي.

*****



# Mirza Abdul Wadood Hotak

**Author**

**Mohammad Masoom Hotak**

د طلوع افغان د ۹۷ کالیزي په مناسبت

# میرزا عبدالودود هوتک

لیکوال

محمد معصوم هوتک

۱۳۹۷ ل.

د سیف الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسي شمیره

# میرزا عبدالودود هوتک

**لیکوال:**

محمد معصوم هوتک

د سیف الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسي شمېره

بسم الله الرحمن الرحیم

ټول چاپي حقوق په خپرونکي اړه لري!

**میرزا عبدالودود هوتک**
لیکوال: محمد معصوم هوتک
خپرونکی: اطلاعات و فرهنګ ریاست-کندهار
کمپوزاو ډیزاین: اسدالله ارماني
لومړی چاپ: ۱۳۷۷ش
دوهم چاپ: ۱۳۹۷ش
چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
د مخونو شمېر: ۱۴۸

د سیف الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسي شمېره

۱۱
سلسلهٔ نشرات طلوع

رشید الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسې شمېره

# ښکلی پښتو

برای استفادهٔ آموزندگان زبان ملی

فرهنگ پارسی بزبان پښتو

دارای

ده هزار لغت خالص پښتو

نگارش:

[illegible]

عبدالحی حبیبی

در عصر سعادت [illegible] اعلیحضرت محمد ظاهر شاه

[illegible]

والقلم وما يسطرون
سیف الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسې شمېره

د کندهار د ملا ګلداد د کورنۍ
د هوتکو شجره



# Mirza Abdul Wadood Hotak

**Author**

**Mohammad Masoom Hotak**

د سیف الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسې شمیره